د امریکا پرځای انډیښنه

مورچل

اتم کال دویمه ګڼه ،پرلپسې (٦٦)مه ، ربیع الثاني ١٤٣٥هـق ،فروري ٢٠١٤م

پدې ګڼه کې ولولئ!

آیا توظیف ګروپ تروریستی امریکا ...

داوکراین (کریمه) تاپو چیرته ـ

دامنیتي تړون نه دکرزي انکار ...

کوم ګرایی یا شرک پنهان

اسلامي خلافت

اوکراین دلویولوبغاړو دبزکشی ډګر

نور چل

اتم کال دویمه . پرلپسې ٦٦ګڼه ربیع الثانی ۱۴۳۵ فروری ۲۰۱۴م

علمي،سیاسي اوجهادي میاشتنۍ خپرونه

ګڼه	مطلب	مخ
۱	دامریکایانو پر خای اندښتنه	۱
۲	ایاتوظیف تروریستی امریکا.....	۲
۳	داوکراین کریمه ټاپو چیرته اوولې.....	۵
۴	سوختاندن مسلمانان درافریقای مرکزی	۷
۵	دامنیتي ترون نه دکرزی انکار	۹
۶	داسلام غزوات او سرایا	۱۲
۷	امیرالمؤمنین علی ابن ابی طالب.....	۱۷
۸	قوم ګرایی یاشرک پنهان	۲۲
۹	اسلامي خلافت	۲۶
۱۰	دجهاد فقهي مسایل.....	۲۸
۱۱	ایا کمترین مقام ازجنت اګاه هستید	۳۵
۱۲	شاخصهای سیاست خارجی	۳۸
۱۳	ذبیح الله مجاهد څو شپې له خپل ولس سره	٤١
۱۴	اوکراین دلویو لوبغاړودبزکشې دګر	٤٥
۱۵	ددعوت ،ارشاد،جلب اوجذب کمیسیون.....	٤٩
۱۶	شهیدی قافلې	٥١
۱۷	جنګی جنایتونه	٥٤
۱۸	دمورچل وړمې	٥٧
۱۹	میاشتنۍ خبرونه.....	٥٨
۲۰	انځورېزمورچل.....	
۲۱	د تلفاتو میاشتنی جدول.....	

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت

دفرهنګی چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکور (شفق)

کتنپلاوی :

حسن خپل، ایوب صافی،

حسن نوری ، حکمت بغلانی،

زبیر مسافر، حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس :

پته : کابل بنار ،پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دامریکایانو پر ځای اندیښنه

ورځ تر بلې داسلامي امارت له لیکوسره د کابل دګوډاګي اردو یو ځای کیدو اودمجاهدینو دجهادي صفونو دپیاوړې کیدو سره دامریکایانو بورنوونکیو اندیښنو هغه وخت تحقق وموند، چې د کابل زمامدار (حامد کرزي)هم ورته په اصطلاح دامنیتي ترون دلاسلیک پر سرهم امریکایانوته ظاهرا خپل شرطونه کښیښودل ،امریکایان کابل کې پخپل لاس د روزل شوې اردوباندې له اندازې زیاته بې اعتماده شوي او ډیره ویره ورسره پیدا شوي، چې هسې نه چې ددوئ له وتنې او تیښتې وروسته یې تر شا پاتې اردو له طالبانو سره یوځای شي،چې هم به یې میلیاردونه ډالر په سیند لاهوشي اوهم به یې کابل کې د تنکی دیموکراسي ستنې و لړزیږي !

دامریکالوی درستیز(جنرال مارتین دیمپسي) کابل کې خبریالانوته وویل :چې د امریکا د متحدو ایالتونو دا خبرداری چې که افغانستان امنیتي موافقه لاسلیک نه کړي، نو ټول پوځیان به له دغه هیواده وباسي، ممکن د دښمن د تشویق او له طالبانو سره د ځینو افغان امنیتي ځواکونو دیوځای کیدو سبب شي،جنرال ډیمسي وویل چې : دفاع وزارت ته د ولسمشر بارک اوباما دې امر ، چې له افغانستانه د ټولو پوځیانو د ایستلو پلانونه جوړ کړي، افغان پوځي مشران هم اندیښمن کړي او د دوی د ځواکونو په ځان ډاډ له منځه وړي . نوموړې وویل چې د ځواکونو د ایستلو د اوازو د اغیز په اړه اندیښنه لري ،ده خبریالانو ته وویل: «دا دښمن ته ګټه لري او فکر کوم په یو نه یو ډول یې هڅوي، استخباراتي معلومات دا خبره تاییدوي...»ددې امریکایي پوځي مشر له څرګندونوڅخه په ډاګه دامریکایانو تر منځ دژور اختلاف ،بې باورۍ اود کابل په اوسنۍ اردو دبې اعتمادۍ نښې بریښي ،اوددې په اندیښنو کې داهم ځلیږي ،چې د کابل اوسنی عسکري بلاک چې د کومې سپیڅلې روحیې یا مفکورې پر بنسټ نه ،بلکې دبې خرته ډالرو په لګښت جوړ شوی ،دومره کمزورې دی ،چې دخارجیانو له وتلوورسته به ژر وشړیږي او له مجاهدینو سره به دمقاومت پر ځای ورته ژر سلامي شي !

داسلامي امارت ددعوت وارشاد اوجلب وجذب کمیسون دراپور له مخې، یوازې تیر کال هیواد کې د کابل له اداري څخه ()عسکر داسلامي امارت له لیکوسره یوځای شوي او دالړۍ اوسمهال هم په تیزۍ سره روانه ده ،همداسې دارد و له منځه پر خارجیانو دتوظیف شویو عسکرومرګونې ګوزارونو هم دامریکایانودبې باورۍ او د دوۍ اندیښنو کې اضافه کړي . خو متقابلا داسلامي دمجاهدینو روحیاتي مورچل لاغښتلی اودیوه اوږده جهادي تسلسل دتداوم روحیه یې په تندو کې له ورایه بریښي ،مونږباور لرو چې دهرې ورځې په تیریدو به دمجاهدینودمقاومت جغرافیه پراخه اوددښمن تغر به ټول او داشغالګروانديښنوځپاندې توپان به دوئ دابد کندې ته وغوځوي ؛ دیبا لپاره به دوخت دااستعمارګر په خپلواکیو اسلامي هیوادونودیرغل اشتباه تکرار نکړي !!انشاءالله تعالی

آیا توظیف گروپ تروریستی آمریکا

بخاطر به شهادت رساندن مجاهدین اقدام نو است؟

ذبیح الله مجاهد

چندی قبل آمریکا اعلام داشت که یک گروپ جدیدی را برای از بین بوردن مجاهدین امارت اسلامی (به اصطلاح دشمن شبکه حقانی) بنا نهاده و فعال ساخته است.

به اساس ادعای آمریکایها این باند تروریستی توانسته است که مجاهدین امارت اسلامی افغانستان را تضعیف نماید و افراد مهم را در نقاط مختلف کشور و خارج تحت حملات تروریستی قرار دهد.

بلی! این دقیق است که گروپ تروریستی از طرف امریکا بخاطر ارتکاب چنین جنایت توظیف گردیده ولی ساخت و آغاز این گروپ اقدام نو نیست؛ بلکی امریکا میخواهد درحالت گریز خود از افغانستان، جدیدا ازاین مسئله استفاده تبلیغاتی و روانی نماید.

باند تروریستی امریکا سیزده سال قبل توأم به اشغال افغانستان تحت پوشش دستگاه سیا (CIA) به فعالیت های تروریستی درکشور ما دست به کار شده، ولی تا اکنون نه توانسته جلو احساس قوی جهاد را علیه اشغال امریکا بگیرد.

اداره ترور امریکا مرکز قوی را در ولایت خوست (میدان صحرا باغ) داشت ولی عوض آن که مجاهدین را تعقیب نماید خود طعمه

آتش قرار گرفت و مکرراً تحت ضربات کوبنده ء مجاهدین امارت اسلامی افغانستان در آمد.

سران مجاهدین امارت اسلامی افغانستان و تمام افراد آن با بسیار دقت توانسته اند مدت ۱۳ سال با موجودیت تمام تهدیدات به جان، مال و عزت آنها، مبارزه قهرمانانه خود را به پیش برند.

افراد و سران مجاهدین کسانی نیستند که از مرگ هراس داشته باشند و بخاطر ابقای زندگی چند روزه از مبارزه جهادی که مایه عزت است دست کشند، اگر امریکایها فکر کنند که مجاهدین از مرگ خواهد ترسیدند و دست از جهاد و مبارزه خواهد برداشتند، پس فکر خام نموده اند و باید ذهنیت خود را در قبال شناسای مجاهدین تغیر دهند، مجاهدین راستین راه حق شهادت را در راه خداوند متعال مایه افتخار دانسته و یکی از اهداف مهم ایشان از رویارویی با دشمن نیل به شهادت است، خداوند متعال به بندگانش فرموده است: ﴿قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمْ أَن يُصِيبَكُمُ اللَّهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِندِهِ أَوْ بِأَيْدِينَا فَتَرَبَّصُوا إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ﴿التوبة: ۵۲﴾﴾.

ترجمه: (به کافران) بگو: آیا درباره ی ما جز یکی از دو نیکی انتظار دارید؟ (یا پیروزی و غنیمت در دنیا، و یا شهادت و بهشت در آخرت)؟ ولی ما درباره ی شما چشم به راه هستیم که یا خداوند (در این جهان یا آن جهان) به عذابی از سوی خود گرفتارتان سازد و یا (در این جهان) با دست ما (مذلت و خواری را نصیبتان سازد). پس شما چشم به راه (فرمان و خواست) خدا باشید و ما هم با شما در انتظاریم.

یعنی ما در جریان جهاد و مبارزه علیه کفر و طغیان، منتظر دو نیکی هستیم یا پیروزی بر دشمن و یا هم نیل به مقام عالی شهادت که خود زندگی ابدی دانسته میشود و مجاهدین شتابان در جستجوی آن می باشند، کسانی از مسئولین، قومندانان، افراد و علماء دینی که در ۱۳ سال گذشته در راه مبارزه علیه اشغال افغانستان به شهادت رسیده اند، واقعا که آنها کامیاب شده اند و باقی مانده ها نیز همان راه را با میل کامل می پیمایند.

امریکایها باید درک کنند که به شهادت رساندن افراد یا مسئولین جهادی، مجاهدین کم نه میشوند و نه مبارزه اسلامی (جهاد) به سبب شهادت چند تن به سقوط مواجه میشود!! بلکی برعکس صفوف جهادی با دادن قربانی و شهادت سیراب تر میشوند، افراد بیشتر به صفوف جهاد می

پیوندند، مبارزه گرانبها ترمیشود و درنهایه شکست کفر و پیروزی مجاهجدین را یقینی میسازد، اگر واقعا امریکا و هر باطل دیگر درک میکرد که شهادت مجاهدین خصوصا افراد مهم و مسئول چقدر در راه قوی سازی صف جهاد کارا و مؤثر تمام میشود، آنها هرگز مجاهدین را نه میگذاشتند تا شهید شوند و مشعل راه دیگران قرار گیرند، دشمن درک نه کرده است که ریختن خون در راه الله جل جلاله همچو بینزین برای وسائط نقلیه است، اگر ریختن خون در جهاد متوقف شود جهاد به کندی و حتی سقوط مواجه میگردد، اهداف جهاد زمانی سنگین و گرانبها اند که بخاطرش چهره های درخشان همچو مهتاب، خون میرزند و قربانی میدهند، امریکا جمع تمام دشمنان دین باید درک کنند که مجاهدین متوجه تمام نیرنگهای دشمن در راه مبارزه خویش هستند، همه مکر وفریب دشمن را میتوانند در زمان خود محوه وخنثی نمایند پروردگار می فرماید: ﴿وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ﴿آل عمران: ۵۴﴾﴾

ترجمه: و (کافران برای نابودی (پیامبر) و آئین آسمانی) نقشه کشیدند، و خداوند (هم برای حفظ او و آئین آسمانی) چاره‌جوئی کرد؛ و خداوند بهترینِ چاره‌جویان است).

ولی اگر در مواردی هم مجاهدین با بسیار نامردی از طرف دشمن سفاک ترورشوند و به هدف شهادت نایل آیند آن نیز یکی از اهداف است و زیانی برای ما ندارد، ولی تأسف باید برحالی کسانی شود که هم جان خود را در جنگ بی هدف وفاقد مشروعیت می بازند وهم ناکامی های پی هم را منتظر هستند، امریکا از زمان اشغال افغانستان تا کنون به هزاران افراد مهم وغیر مهم خود را در افغانستان از دست داد، بسیاری معیوب و دوچار مشکلات روانی شدند؛ ولی باز هم پا به فرار می نهد، حیثیت بین المللی خود را از دست داد، اقتصادش را لگد مال ساخت، و هنوز هم زیانهارا تحمل می نماید، مجاهدین از روزی ورود دشمن به کشور متوجه تمام تهدیدات از طرف دشمن هستند، و در برابر همه مشکلات شکیبایی و استقامت را پیشه قرار داده اند، اگر ازاین بعد هم به مشکلات مواجه میشوند باکی ندارد ونه هم ممکن است که اهداف مهم و شرعی ما از ما گرفته شود.

رنج راحت شد چون مطلب شد بزرگ
گرد گله توتیایی چشم گرگ

داو کراین (کریمه) ټاپو چیرته اوولې اهمیت لري؟

(خبیر احمد)

داو کراین هیواد کریمه نومی ټاپو دتورې بحیري اړوندیوه مهمه ستراتیژیکه سیمه ده چې ۶۰ کاله مخکې دپخواني شوروي اتحاد مشر او کراین هیواد ته په تحفه کې ورکړې وه، نوموړې سیمه اوس دروس او غرب ترمنځ دسیالی په یوې مهمې اډې بدله شوي.

کریمه، یوه سیاحتي اوپر کششه ټاپو ده چې په سلو کې پنځوس فیصده وګړي یې روس نژاده دي، دروس او غرب ترمنځ په یاده سیمه کې هغه مهال سیالی اوج ته ورسیده چې داو کراین ولسمشر "ویکتور یانو کوویچ" له خپلې دندې استعفا ورکړه، ځکه ډیری خلکو دخونړیو اعتراضونو په توسط غوښتنه لرله چې کریمه سیمې ته دې له او کراین هیواد څخه استقلال ورکړل شي.

کریمه، چې وسعت یې داروپا دبلژیک هیواد هومره دی یوه مهمه کرهنیزه او حاصل خیزه سیمه ده، همدارنګه دجهان په سطحه دتنبکو دتولید له مهمو ځایونو څخه ګڼل کیږي، کریمه، ښکلې سواحل لري او هم دسیاحینو لپاره جذابې منطقي او دلچسپه مناظر لري.

په تاریخي لحاظ کریمه همیشه داشغال اوزورازموینو ډګرپاتې شوې، دبیزانس له امپراطوری نیولي ترعثماني خلافت او دالمان ترنازي دورې او اوس اوس دروس او غرب ترروان سیاسي اوپوځي کشمکش پوري ددې سیمې خلک ښکار ګرځیدلي درون زیان ورته اوړیدلی او ضمنا یاده سیمه له کماحقه پرمختګ څخه په څنګ ساتل شوي. روسانو په کریمه کې خپل نفوذ له ۱۸ قرن څخه پیل کړاو په ۱۷۸۳ میلادي کال کې هلته مهمه پوځي اډه تاسیس کړه، خوچې کله الماني نازیانو کریمه اشغال کړه دروسانو حضور او سلطه قطعه شوه.

له دوهم نړیوال جنګ ورسته دروس، امریکا او انګلستان ولسمشرانو داروپا دراتلونکي په باب په کریمه ټاپو کې ناسته وکړه، دغه ډول دشوروي دهغه وخت مشر "ژوزف استالین" په خپل یوه ناروا اقدام کې دکریمه تاتاري مسلمانان لدې امله مهاجرت ته مجبو کړل چې ګواکې تاتاریانو له الماني نازیانو سره دکریمه دنیولو په وخت کې مرسته کړې وه، دتاریخي معلوماتو له مخې تاتاریان چې په کریمه کې څوپیړی

استوګنوو ،داستالین په امر نیمایي وګړي دمنځنۍ اسیاهیوادونو ته دهجرت، دستونزمنو اومرګانې لارو په اوږدو کې لهمنځه ولاړل. داستالین لهمرګ ورسته دشوروي مشر "نیکیتا خورشچف "کریمه اوکراین هیواد ته په ډالۍ کې ورکړه ،دغه ګام په کال ۱۹۵۴ کې یو عجیب اقدام لدې املهوبلل شو چې په هغه مهال اوکراین اوروسیه دواړه دشوروي اتحاد مهم اومتحد جمهوریتونه وو .په کال ۱۹۹۱ میلادی کې چې اوکراین لهروس نه استقلال تر لاسه کړ، لهمنځنۍ اسیا څخه تاتاري مسلمانانو پیرته کریمه ته ورتګ پیل کړ ،ویل کیږي چې دمګړی دکریمه ۱۲ فیصده وګړي تاتار تشکیلوي.تاتاري مسلمانانو داوکراین په ورستیو اعتراضونو کې هم مهمه برخه درلوده اوپه ځغرده یې په کریمه باندې دروسي لهنفوذ اومداخلې سره مخالفت په ډاګه کاوه..

دشوروي لهسقوط وورسته دتوري بحیري په سواحلو کې د (سواستوپل) بندر اودروسي پوځي بحري اډه دروسي اواوکراین ترمنځ دروابطو مهم اوبنیادي ټکی وو ،ددغه بندر اواډې اهمیت په دې کې دی چې روسي پیړی کولای شي دمدیترانې شرقي برخې اومنځنۍ ختیځ ته په زیات سرعت اوچټکی سره ځان ورسوي .په ۲۰۱۰ کال کې له اوږدو مذاکراتو ورسته اوکراین ومنله چې تر ۲۰۱۴ کال پورې دې دسواستوپل بندر اختیارات لهروس سره پاتې وي اوپه مقابل کې به روس اوکراین ته دګازو اوتیلو په قیمت کې چې نومورې هیواد ته دیوه پایپلاین په زریعه وارديږي ۳۰ فیصده ټیټوالی اوسهولت راولي.

لدې سره سره روس په اوکراین زیات اعتماد نه درلوده اونه یې لرې ،اوکراینې واکمنو په روسانو یو لړ شرایط ایښي وو ،چې په کریمه تاپو کې دروسانو په مرکز اودسواستوپل په بندر کې چې روسان خپلې نوې پیړی دروي اوپاتې جهیزات نوي کوي باید له اوکراین څخه اجازه تر لاسه کړي، ولې روسان له اوکراین سره په دغه برخه کې ډیر ژمن ندي پاتې شوی.

روسانو داوکراین دوضعیت لهخرابیدو رسته اولدې ویرې چې غرب هلته پوځي حضور پیدا نکړي نو ۱۶ زره پوځیان چې په درنو وسلو سنبال دي تیره اونۍ دکریمه تاپو ته دننه شول ،دمحلي اداري تاسیسات اوهوایي ډګریې لاندې اوروسي پیرغنې پرې ورپاوه اوداویره شته چې روسان په اوکراین باندې هم پوځي یرغل وروړي

دروسي اواوکراین دپوځي قوت پرتله :

عسکر: روس : ۸۴۵ زره عسکرلري =اوکراین : ۱۲۹ زره او ۹۵۰ سوه عسکر تانګونه : روسیه: ۲ زره او ۵۰۰ سوه = اوکراین: ۱ زر او ۱۰۰ الوتکي : روسیه: ۱ زر او ۳۸۹ = اوکراین: ۲۱۱ بیړی : روسیه: ۱۷۱ = اوکراین: ۱۷

سوختاندن مسلمانان در افریقای مرکزی

نویسنده: شعبان عبدالرحمن

ترجمه: عبدالخالق احسان

بر سرزمین افریقای مرکزی یکی از زشترین سوزندگی ضد مسلمانان در عصر حاضر در حال جریان است که شبیه آن را نمی توان یافت، جز قتل عامی که علیه مسلمانان بر ما صورت گرفته است و شاید آن چه از انظار پنهان مانده، ازین هم بدتر باشد.

این سوختاندن ها در مقابل چشمان نیروهای حافظ صلح افریقا (میسکا) و تحت حمایت نیروهای فرانسوی که به سرعت خود را به میدان رساندند تا به گمان خودشان امنیت منطقه را تأمین نمایند؛ جریان دارد. حفظ صلح و تأمین امنیت، نزد فرانسوی ها و غربی ها در مناطق هرج و مرجی که مسلمانان زندگی می کنند؛ به معنی ریشه کن نمودن مسلمانان و استقرار ملیشی های مسیحی و حکومت های ضد اسلام و مسلمانان می باشد. این عادت و رویه همیشگی شان در طول تاریخ علیه مسلمانان بوده است.

این اولین بار نیست که نیروهای بین المللی و غربی به کشورهای اسلامی به بهانه تثبیت استقرار و تأمین امنیت مداخله می کنند و مسلمانان را به هلاکت می رسانند. من با چشم خود ماجرای بوسنیا و هرزگوبین را در سال ۱۹۹۲م مشاهده کردم که آسیاب قتل عام مسلمانان توسط صربی های ارتودوکس جریان داشت. من نیروهای ملل متحد را در زمان رهبری (بطرس غالی) مشاهده کردم که سرزمین های مسلمانان را به بهانه انتقال شان به اماکن امن و حمایت از هلاکت شان توسط ارتودوکس های صربی؛ به صورت کامل محاصره کرده بودند و مناطق شان به حیث زندان بزرگی تبدیل شده بود تا این که صربی ها به آن مناطق تسلط یافته و بدترین نوع قتل عام را مرتکب شده و بر زنان مسلمان تجاوز کردند؛ آن چه به شهر (سربرینتسا) به وقوع پیوست، بهترین دلیل مدعاست.

آن چه در بوسنیا توسط ملیشی های ارتودوکس صربی صورت گرفت و آن چه در برما به حق مسلمانان روهینگیا توسط آتش پرستان جریان دارد؛ امروز این عملیه تروریستی توسط ملشی ها مسیحی در افریقای مرکزی تکرار می گردد.

مرکز موثق خبری گزارش داده اند که حدود چهارهزار مسلمان در مسجد مرکزی پایتخت منتظر فرار به کشور چاد هستند؛ اما امور زیادی که افشا نمی شود،

ازین هم وحشناکتر و دردآور تر می باشد.

این گونه، ضمیر انسان در سرزمین افریقای مرکزی مرده است و ادعای دفاع از حقوق بشر به خاک آلوده شد؛ انسانیت، کرامت و شهروندی ذبح گردید، جنگل ازین که به این اخلاق شیطانی متصف گردد، شرم می کند و حیوانیت از انتساب به این گروه انسانها شرمنده اند .

» سکوت» از سکوت جهانیان خجالت می کشد و «بزدلی» از ترسویی و اهمال جهان عرب و اسلام در جریان سوزاندن مسلمانان مستعمره در افریقای مرکزی؛ زبون شده است.

پاپ واتیکان در مقابل ارتکاب این جرایم انسانی پیروانش سکوت کرد همانگونه که همه پاپ های کلیسا گنگ شده اند و خود را این قدر هم زحمت ندادند که ازین جرایم و انسان کشی خویش را تبرئه کنند. حکومت های اسلامی به گنگی، کری و فلج دچار شده و هیچ عکس العملی نشان ندادند؛ چون برخی شان از لشکریان ابلیس و بندگان شیطان اند .لذا نمی بینند و نمی شنوند که چه بر سر مسلمانان می بارد.

ما از جهان اسلام چیزی نشنیدیم جز بیانیه های از طرف برخی جریان های ملی و مدنی، هیچ صدای از اتحادیه عرب نشنیدیم درحالی که نزدیک به ۳۰۰ میلیون مسلمان عرب را نمایندگی می کند و از سازمان همکاری های اسلامی نیز حرف نشنیدیم در حالی که بیش از یک میلیار مسلمان را نمایندگی دارد؛ هیچ صدای رسمی در جهان اسلام بلند نشد که این قتل عام را که تصویر های وحشناکش نشر می گردد، محکوم کند؛ حتی که رهبرانی که بر چوکی های حکومتی تکیه زده اند، احساس ناراحتی هم نکردند. این حوادث تکان دهنده، سازمان های بین المللی و حقوق بشری را حرکت نداد، با وجودی که این سازمان ها برای نجات سگی که نزدیک به غرق شدن باشد هیجان زده شده و به حرکت می افتند؛ اما در برما و افریقای مرکزی جسدهای سوخته و قطعه قطعه شده در جاده ها افتیده است و جرم شان هم مسلمان بودن شان است. لاحول ولا قوة إلا بالله!

هان ای مسلمانان جهان! ای دارندگان وجدان! ای کسی که ذره از انسانیت در وجودت موجود است! نابودی مسلمانان به صورت پیوسته در روشنایی روز ادامه دارد، ذبح مسلمانان در میدان ها و جاده ها و در ملأ عام توسط مليشی های مسیحی در حمایت نیروهای فرانسوی و افریقایی که ادعا داشتند که به حمایت مردم می روند و حالا به هلاکت و نابودی شان دست می زنند؛ در جریان است. این قتل عام و کشتار مردم مسلمان بیگناه، بعد از کودتا علیه حکومت رئیس جمهور مسلمان آغاز گردید... آیا در مصر نیز حوادث شبیه این موضوع را برای ما پلان ریزی می کنند؟؟؟ لذا مرکز ساخت کودتا، سازنده و تمویل کننده آن یکی است... و کسانی هم که دین و برادران شان را بفروشند فراوان می باشند.

این مسلخ بزرگی است که در حق مسلمانان در تمام جهان در جریان است؛ از برما تا افریقای مرکزی و از سوریه تا رابعه عدوی و میدان النهضه در مصر... هدف همه خاموش کردن صدای کسی است که می گوید: « پروردگارم الله متعال است» تا که صدای فرومایگانی که به بشر بندگی می کنند، بلند گردد.

(مجله المجتمع)

دامنیتي تړون نه دکرزي انکار

حسن زوی

د ۲۰۱۴ نه پس دافغانستان نه دټولو امریکایي عسکرو دوتلو او ددوئ دوتلو نه پس دلته دمتوقع دراپیښېدونکو تحولاتو په اړه په رسنیو کې بحثونه هغه مهال یوځل بیا تاوده شول کله چې په یو خبري کانفرنس کې دسپینې مانۍ ویاند جې کارني وویل : ولسمشر اوباما حامدکرزي سره په تیلفوني تماس کې هغه ته ویلي دیچې ده پنټاګون ته امر کړی چې دروان کال ترپایه دافغانستان نه دټولو عسکرو دوتلو لپاره پلان ترتیب کړي، جې کارني زیاته کړه چې امریکا بیا هم ددوه اړخیز امنیتي تړون دلاسلیک کېدو په صورت کې د ۲۰۱۴ کال نه پس په افغانستان کې دیو شمېر عسکرو دپاتې کېدو امکان نه ردوي، هغه وړاندې وویل چې ولسمشر اوباما پنټاګون ته ځکه دغه امر کړی چې داسې ښکاري افغان ولسمشر دغه تړون نه لاسلیکوي .

پرون دسپینې مانۍ نه دا خبره رامخې ته شوه او نن دفروري په ۲۷ مې نېټې په غربي او خصوصاً په امریکایي ورځپاڼو کې ګڼې مقالې خپرې شوې چې پکې په یوې کې هم داوباما ددې خبرې سره همغږي نه وه بلکې ټولو دافغانستان نه دټولو عسکرو ویستل تاوانې ګڼلې او دوتلو په صورت کې یې دافغانستان تصویر هم دلویدیځ او هم دافغانانو نظرونو ته ډېر خطرناک وړاندې کړی و؛ دلویدیځې بلکې ټولې نړۍ دوې ولو په موخه یې ویل چې جلال آباد به یو ځل بیا دایمن الظواهري میشت ځای وګرځي او

دافغانانو دوېرولو لپاره يې وويل چې افغانستان کې به کورنی خطرناک جنګ پيل شي.

تش په نامه لويې جرګې کې دامنيتي تړون نه دکرزي انکار، پدې اړه په جلا جلا وختونو کې دهغه څرګندونې او په مقابل کې يې دچل او فريب نه ډک دامريکا عکس العمل ته که په جور نظر وګورو نو راته دا خبره ښه جوتېږي چې دپردې شاته خبره هغه نده کومه چې دپردې پرمخ ده.

په ښکاره که خبره هر رنګه وي خو حقيقت دا دی چې دکابل اداره او دامريکا دولت دواړه په هر قيمت چې وي دامنيتي تړون په نوم دغلامۍ ددې سند تر سيوري لاندې دلته داوږدې مودې لپاره دامريکايي ځواکونو پاتې کېدل او خپلو شومو اهدافو ته رسېدل غواړي خو په داسې چل او هنر چې دافغانستان او امريکا دواړو هېوادونو ولسونه دلته دامريکايانو پاتې کېدل يوه اشده اړتيا او ددواړ دولتونو لويه لاسته راوړنه وګڼي.

دا سمه ده چې امريکا او دامريکا متحدينو په مخامخ جنګ کې دمجاهدينو په مقابل کې شکست خوړلی دی ؛نه نور دمجاهدينو په مقابل کې په ميدان کې دجنګېدلو توان لري ؛ نه جنګېدل غواړي او نه هم ددوئ دولسونو لپاره دروان جنګ ستر مالي او ځاني تلفات نور دزغملو وړ دي خو ددې لپاره چې ددې سترو مالي او ځاني تاوانونو له يو مخې دضياع حسرت له ځانه سره له افغانستانه يونسي نو دخپل بد او حريص عادت له مخې په تېښته تېښته کې خپلو شومو اهدافو ته درسېدلو ديو کوچني څرک دموندلو وروستی ناکام کوښښ کوي.

دامنيتي تړون نه دکرزي انکار دهمدې کوښښ مهمه برخه ده، دامريکا لپاره دافغانستان نه چارچاپېره ټوله سيمه ډېره زياته داهميت وړده، دسيمې په هېوادونو کې دفساد او بدامنۍ خپرولو دداخلي جنګونو رامنځته کولو، ددولتونو دکمزوري کولو او نورو لارو خپلو شومو اهدافو ته رسېدل غواړي چې په افغانستان کې دپاتې کېدلو په صورت کې يې ممکن ګڼي خو ددې لپاره چې امريکايان هم دخپلو مذمومو اهدافو لپاره دافغانستان خاوره وکاروي او هم يې ځاني او مالي تلفات تم يالږ ترلږه ښه راکم شي او يوائې دملي اردو په نوم لاسپوڅی افغان وسله وال ځواک يې دګټو قرباني شي نو دکابل ادارې سره دامنيتي تړون له لارې په نوې بڼه پاتې کېدلو ته لار برابروي.

کله چې امنيتي تړون امريکا ته مطلوب دی نو کرزی يې په لار کې هيڅکله هم نشي خنډ کېدای، دکرزي انکار دګډ پلان له مخې يوائې ددې لپاره دی چې امريکايان او افغانان نه يوائې دا چې ددې تړون سره مخالفت ونکړي بلکې ډېر په اهميت هم ورته قايل شي هغه داسې چې دکرزي دپرلپسې انکار په نتيجه کې بارک اوباما وويل چې پنټاګون ته يې امر کړی چې د ۲۰۱۴ ترپايه دخپلو ټولو عسکرو دوتلو لپاره پلان ترتيب کړي په دوه درې ورځو کې به دناټو غړي هېوادونه هم ورته اعلان وکړي چې

ورسره سم به دپروګرام له مخې په نړیوالې غلامې میډیا کې یو طوفان رامنځته شي او همدا یوه خبره به پکې کېږي چې دټولو بهرنو ځواکونو دوتلو په صورت کې به افغانستان بیا دتروریستانو په ځالی بدل شي، کورنۍ جنګونه به پکې پیل، امنیت به یې تباه او دنړۍ دامنیت لپاره به هم ګواښ شي .

درسنیو ددې تبلیغاتو له لارې چې په غربیانو اوافغانانو دواړو کې دښمنه زیاتې وېرې خپرولو هڅې وشي نوییا به دځه شرطونو نه کرزی تېر شي څه به امریکا ګوزاره وکړي امنیتي تړون به لاسلیک شي او دا بـه ددوئ پـه ګمـان افغـاني او امریکـایې دواړه ولسونه دخپلو دولتونو ستره لاسته راوړنه وګڼي.

خـو دا دامریکـایې دولـت او دکابـل لاسپوڅو دخیال پاچایې ده چې په عمل کې به دلویې ناکامۍ او رسـوایۍ سـره مخـامخ شـي؛ افغانـانو دطالبـانو داسـلامي حاکمیـت دبختـورو ورځـو امـن وامـان او دسکون ژوند لېدلی و او داشغال نه پس یې دبهرنیانو په شتون کې دبدامنۍ په شمول هره بدبختي ولیدله؛ افغانان چې ددوئ په دسیسو نه غولېږي او پدې یقین لري چې دټولو بهرنیانو په وتو به ټولې بدبختیانې ختمې او دخوښیو نوې فضا به قائمه شي، امید دی چې ددسیسه ګرو په دسیسو به نور غربي ولسونه هـم ونـه غـولېږي دامریکـا او متحـدینو جارحانـه او غاصبانه سوچ به دنړۍ دبدامنۍ اصل لامل وګڼي په یو اواز به ددې تړون سره مخالفت وکړي او پدې به اعتراف وکړي چې طالبان، سوکاله ازاد او مسلمان افغانستان غواړي، نه وړاندې دچا لپاره ګواښ او نه به په راتلونکي کې دچا لپاره ګواښ وي.

داسلام غزوات اوسرايا
احد جنگ

ابوظهير

يوپشتمه برخه

علامه زرقاني رحمه الله وايي: قريشو سره احد ته راغلو ميرمنو کې د "خناس بنت مالک" او له "عمره بنت علقمه" پرته نوري ټولې په اسلام مشرف او په اسلام وفات شوي دي.

قريشو دخپل لښکر په "ميمنه" "خالدبن وليد" په "ميسره" "عکرمه بن ابي جهل" په "سپرو صفوان بن اميه" په "غشو ويشتونکو عمروبن العاص" په بل روايت "عبد الله بن ربيعه" وګومارل، چې وروسته دا پنځه واړه اميران په اسلام مشرف شول (رضی الله عنهم)

احد کې مجاهدينو ته درسول الله (ﷺ) وينا:

دمجاهدينو صفونه جوړ شول، رسول الله (ﷺ) لاس کې يوه توره ونيوه او وي وفرمايل:

مَن يأخذُ هَذا السَيفَ بِحقِه

ژباړه: څوک دی چې داتوره له خپل حق سره يوځای واخلي؟

ددې سعادت ترلاسه کولو لپاره ګڼ لاسونه جګ شول، ليکن رسول الله (ﷺ) خپل مبارک لاس ونيو، ابو دجانه (رضی الله عنه) ولاړ شو، عرض يې وکړ: يارسول الله! ددې توري حق څه دی؟ رسول الله (ﷺ) وفرمايل: ددې حق دا دی چې پرې دخدای (ﷻ) دښمنان ترهغه ووژل شي څو هغوئ څملي.

دا روايت په مسند احمد او صحيح مسلم کې د حضرت انس (رضی الله عنه) نه او په معجم طبراني کې له قتاده بن نعمان رضی الله عنه او په مسند بزار کې له حضرت زبير (رضی الله عنه) څخه روايت شوی دی.

"حافظ ابو بشر لابی" دا حديث په "کتاب الکنی" کې له حضرت زبير (رضی الله عنه) روايت کړی دی.

په دې کې دي چې رسول الله (ﷺ) وفرمايل:

ددې توري بل حق دا دی چې په دې هيڅ مسلمان ونه وژل شي او له هيڅ کافرنه مقابله کې تيښته ونکړي.

ابو دجانه (رضي الله عنه) وويل يارسول الله (ﷺ) زه دا دخپل حق سره يوځای اخلم! يعنې ددې حق ادا کوم، رسول الله (ﷺ) سملاسي هغه توره ابو دجانه (رضي الله عنه) ته ورکړه، غالباً دالهي وحي په زريعه رسول الله (ﷺ) ته دا جوته شوي وه، چې دابو دجانه پرته بل څوک ددې توري حق نشي ادا کولی، له دې وجې يواځې يې ابو دجانه (رضي الله عنه) ته ورکړه. والله سبحانه وتعالى (الاصابه ۴ټوک، ۵۸مخ)

ځيرنه: ابو دجانه (رضي الله عنه) ډېر زړور او شجاع و، په هغه دجنګ په دوران کې (تبختر) يعنې دناز انداز، وجد اوسُکر يو خاص کيفيت خوت، دجنګ وخت کې به يې په سر، سره پګړۍ ترلې، مکيز مکيز (ناز، ناز) به ته؛ غالباً رسول الله (ﷺ) توره ورته په دې ورکړه، چې نوموړی نهايتي زړور و، چې وروسته به دنوموړي دجهاد او قتال له کارنامو هم جوته شي:

دجنګ پيل! او د قريشي مبارزينو يو، يووژل:

قريشو له لوري، ترنورو لومړی ميدان ته "ابو عامر" ووت هغه دجاهليت په زمانه کې داوس قبيلې سرادر و، دزهد له وجې خلکو راهب باله، کله چې مدينې منورې ته داسلام وړانګې ننوتې، دهغه خيرنو ستر ګو يې دليدو تاب رانه وړ، او له مدينې څخه مکې ته وتښتيده، په دې وجه رسول الله (ﷺ) ورته دراهب په ځای دفاسق نوم غوره کړ.

همدې فاسق مکه کې قريش درسول الله (ﷺ) مقابلې ته آماده کړل، او داحد جنګ ته خپله هم دهغوئ سره يوځای راغی، او په دې باور و، چې داوس قبيلې خلک کله ما وويني هغوئ به دمحمد (ﷺ) څخه جلا او ماسره به ملګري شي.

لومړی مبارز:

په دې وجه هغه (ابو عامر) په احد کې ترټولو لومړی ميدان ته راغی او چيغه يې وکړه:

يا معشر الاوس أنا ابو عامرِ

داوس ډلې! زه ابو عامر يم

په اوس قبيلې دي دخدای رحمتونهوي هغوئ ورته وويل:

لا أنعم الله بک عيناً يافاسق

اې دخدای نافرمانه ! او فاسقه، خدای دي هیڅکله ستا ستر ګي یخې نکړي !

ابوعامر ددې غږ نه ماتوونکي ځواب په اوریدو شرمنده او رسوا بیرته ستون شو وې ویل: ځما وروسته ځما دقوم حالت بدل شوی دی

دویم مبارز:

دهغه وروسته دمشرکانو علمبردار "طلحة بن ابی طلحة" میدان ته راغی ،هغه چیغه کړه:

اې دمحمد(ﷺ) ملګرو تاسي ګمان کوئ چې مونږ به ستاسي توري ډبر ژر جهنم ته ورسوي او زمونږ توري به تاسي جنت ته ورسوي، نو پس شته په تاسو کې داسي څوک چې هغه ځما توره ژر جنت ته ورسوي یا دهغه توره ما جهنم ته ورسوي !

حضرت علي (رضي الله عنه) پورته شو دهغه مخې ته ورغی ورباندې دتورې په لومړي ګذار یې دهغه پښه پریک کړه ،پرمخ پریوت آن چې عورت یې لوڅ شو، حضرت علي (رضي الله عنه) ته حیا ورغله او تري بیرته په شاه لاړ، رسول الله (ﷺ) وپوښتل: علي ولي په شاه راغلي؟

علي (رضي الله عنه) وویل: دهغه عورت لوڅ شو، ماته حیا راغله (زرقاني ۲ټوک ۳۱مخ)

ابن سعد وایي: حضرت علي (رضي الله عنه) دهغه په سر دتورې دومره قوي ګذار وکړ، چې په وجه یې سر دوه ټوټې شو.

رسول الله (ﷺ) خوشال شو او د الله اکبر ناره یې په لوړ غږ وویله ،مسلمانانو هم د الله اکبر ناره پورته کړه.

غالباً حضرت علی (رضي الله عنه) لومړی دهغه په پښه برید وکړ، بیا یې دسر په کوپړۍ او ټوټې شوه، دابن جریر په روایت لومړی ذکر دی، او دابن سعد په روایت کې دویم، له دې وجې د دواړو روایتونو ترمنځ تعارض نشته

دریم مبارز:

وروسته "عثمان بن ابی طلحه" دمشرکانو بیرغ پورته کړ، هغه دا "رجزیه" شعر په ویلو میدان ته راغی:

اِنّ علی اَهلِ اللِواءِ حقا ٠ اَن تخضب الصعدةُ اَو تَندقا

په بیرغ پورته کوونکي فرض ده چې په جنګیدو جنګیدو کې دهغه نیزه د دښمن په وینو سره اویا ماته شي.

هغه ته حضرت حمزه (رضي الله عنه) وروویت، دعثمان په دواړو لاسونو دتورې حمله وکړه او دواړه مات شول ، بیرغ تري پریوت او ژر دخپل بد عمل په سزا ورسید.

څلورم مبارز:

دهغه په تعقیب "سفیان بن ابی طلحه" بیرغ ونیو ، "سعد بن ابي وقاص" (رضی الله عنه) هغه په غشي وویشته ، غشی یې په حلق کې ننوت، په دې سره یې ژبه بیرون ووته اوسملاسي ومړ.

پنځم مبارز:

دسفیان بن ابی طلحه نه وروسته "مسافع بن طلحة بن ابی طلحه" بیرغ پورته کړ، هغه حضرت "عاصم بن ثابت" (رضی الله عنه) په لومړي کذار جهنم ته ولیږه.

شپږم مبارز:

بیا "حارث بن طلحة بن ابي طلحه" بیرغ واخست ، هغه هم عاصم (رضی الله عنه) په یوه وار قتل کړ په بل روایت حضرت زبیر (رضی الله عنه) قتل کړ.

اووم مبارز:

ورپسي "کلاب بن طلحة بن ابي طلحه" بیرغ واخست ،هغه زبیر (رضی الله عنه) قتل کړ.

اتم مبارز:

دهغه وروسته "جلاس بن طلحة بن ابي طلحة" بیرغ جګ کړ، هغه ژر حضرت "طلحه" (رضی الله عنه) قتل کړ.

نهم مبارز:

بیا "ارطاة بن عبد شرحبیل" چې څنګ بیرغ را واخست، حضرت علی (رضی الله عنه) یې کار تمام کړ.

لسم مبارز:

دهغه پسي شریح بن قارظ" بیرغ واخست ، هغه هم دستر ګو په رپ کې ووژل شو ، لیکن دهغه دوژونکي نوم نه دی معلوم

یوولسم مبارز:

بیا یوه "غلام" صواب بیرغ ونیو ،هغه حضرت "سعد بن ابي وقاص" (رضی الله عنه) یا حضرت "علی" (رضی الله عنه) یا حضرت "حمزه" یا "قزوان" لخوا ووژل شو.(زرقاني(۲)ټوک ۳۱مخ ابن سعد لومړی ټوک ۲۳۰مخ)

کله چې دیوبل وروسته پرلپسي دمشرکانو دومره ګڼ بیرغ پورته کوونکي ووژل شول، د مشرکانو په روحیاتو یې دېر سخت اغیزو کړ ، هغوئ دومره وډار شول چې په تیښته شول، حالنکې دهغوئ میرمنو بد دعاوي کولې، مسلمانانو په هغوئ حملې کولې، هرځای یې چې نیول هلته یې قتلول ، په دې توګه دقریشو دوه یشت سرداران قتل شول چې دهغوئ ټولو نومونه علامه ابن هشام په تفصیل سره ذکر کړیدي او ورسره یې دا هم ښودلې ده چې فلانی، فلانی سردار دفلاني فلاني صحابي لخوا قتل شوی.

دابودجانه (رضي الله عنه) بهادري:

ابو دجانه (رضي الله عنه) ته چې رسول الله (ﷺ) خپله توره ورکړې وه، هغه نهايتي زړور اوبهادرو، کله چې جنګ پيل شو نو موړې (رضي الله عنه) خپله سره پګړۍ راويسته اوپه سر يې کړه، دخپل عادت سره سم پخپل حيرانوونکي انداز يې ميدان ته ودانګل او دا شعرونه يې ويل:

أنا الذی عَاهَدني خَليلی ونحنُ بالسفح لدی النّخيل

زه هغه يم چې مانه خپل هغه دوست عهد اخستی (دکوم محبت چې ځما په زړه کې ننوتی دی يعنې محمد ﷺ) په داسې حال کې چې مونږ دغره په لمنه کې نخلستان ته نيږدې وو!

أن لاأقُومُ الدّهر فی الکبول أضربُ بسيف الله والرسول

هغه عهد دادی چې چې هيڅکله به په وروسته صف کې نه درپرېږم، دالله او دهغه درسول په توره دهغه دښمنان به واهم.

رسول الله (ﷺ) ابو دجانه (رضي الله عنه) وليد چې مکيز (ناز،ناز) روان و، وې فرمايل:

داسې تګ دالله (ﷻ) خوښ نه دی، خو په دې وخت کې!

يعنې يو اځې دالله ﷻ او دهغه درسول ددښمنانو دمقابلې لپاره وې نه دخپل نفس اوتکبرلپاره!

ابودجانه صفونه ماتول، دمړو تنې په ځمکه پريوتې، تردې چې دابوسفيان ميرمن "هنده" ورته مخې ته راغله، ابو دجانه (رضي الله عنه) په هغې له ګذار کولو نه ډډه وکړه ولې دا ورته ښه ښکاره نه شوه چې درسول الله (ﷺ) په توره يوه ميرمن ووژني.

په يوبل روايت کله چې ابو دجانه (رضي الله عنه) "هنده" ته ورسيد هغې خلکو ته دمرستې لپاره چيغې کړې، خو هيڅ تن يې دمرستې لپاره رانغی، ابو دجانه (رضي الله عنه) فرمايل:

ماته دغه مهال ښه ښکاره نه شوه چې درسول الله (ﷺ) توره ديوې بې پناه او بې مرسته ميرمنې په وينو سره کړم (البدايه والنهايه ۴توک ۱۲مخ)

دحضرت حمزه (رضي الله عنه) شجاعت او شهادت:

دحضرت حمزه (رضي الله عنه) دزمري پشان حملو کفار سخت پريشان کړل، په هر چا به يې چې توره پورته کوله دهغه لاش به په ځمکه پريوت، وحشي بن حرب چې دجبير بن مطعم حبشي غلام و، په جنګ بدر کې دجبير تره "طعيمة بن عدی" دحضرت حمزه (رضي الله عنه) په لاس قتل شوی و، جبير ته دهغه په وجه

سخته صدمه رسيدلې وه ، جبير وحشي ته وويل:

که تا ځما دتره په بدل کې حمزه قتل کړ، نو ته به ازاد وي.

کله چې قريش احد ته روان شول وحشی هم له هغوئ سره يوځای روان شو.

په احد کې چې کله ددواړو لوريو صفونه جوړشول او جنګ پيل شو ، نو "سباع بن عبد العزيز" هل من مبارز؟ شته څوک چې ما سره مقابله کړي؟ په ناره ميدان ته راغی:

حضرت حمزه (رضی الله عنه) په ورتلو کې وويل:

اې سباع ! دميرمنو ختنه کو نکي بڅې ځويه ! ته دالله او دهغه درسول مقابله کوي؟

هغه يې په سر وواهه او دمرګ په خوب يې ويده کړ.

وحشي حضرت حمزه (رضی الله عنه) باندې دحملي لپاره د يوې تيګي لاندې پټ ناست و ، کله چې حضرت حمزه (رضی الله عنه) له هغه ځايه تيريده، وحشي نامه کې په نيزه وواهه، څو ګامه لاړ پريوت او دشهادت جام يې نوش کړ انا لله وانا اليه راجعون

..... نوربيا

ليکوال داسلامي نړۍ مفکر عالم

مولانا سيد ابوالحسن علی ندوي ژباړه شهاب منصور اتمه برخه

له مېنې اوشفقت نه ډک نوم:

د ډېر محبت او شفقته رسول الله (ﷺ) حضرت علی (رضی الله عنه) ابوتراب ويلې، حضرت عبد الله بن عباس (رضی الله عنه) وايي: يوه ورځ حضرت علی (رضی الله عنه) سيده فاطمه (رضی الله عنها) ته ورغی، بيا مسجد ته راغی اوځملاست، دې کې رسول الله (ﷺ) دحضرت فاطمې (رضی الله عنها) حجرې ته لاړ او له حضرت فاطمې (رضی الله عنها) نه يې وپوښتل: ستا داکاځوی چيرې دی؟ ويلې: مسجد کې دی، رسول الله (ﷺ) مسجد ته راغی، وينې ځادر دهغه دملا نه لويدلی او په خاورو لړلی دی، رسول الله (ﷺ) پخپلو مبارکو لاسونو دهغه له ملا نه خاورې وڅنډلې اودوه ځله يې وفرمايل: "اجلس يا اباتراب" اي ابوترابه کينه ! دابوتراب لفظي ترجمه ده:په خاورولړلی)

په بدر الکبری کې دحضرت علي کرنامې:

په دویم کال دهجرت رمضان کې دبدر جنګ پیښ شو، دا هغه فیصله کونکی جنګ و، چې نه یو اځي په برکت یې د اسلامي امت او اسلامي دعوت لپاره لارې پرانیستل شوې، بلکې د تاریخ لوری یې بدل کړ، (ددې جنګ ټول تفصیلات د سیرت په کتابونو کې شته دلیکوال د کتاب السیرة النبویه ۲۱۵ نه تر ۲۲۸ مخ وګورئ)

کله چې رسول الله (ﷺ) په دې جنګ کې قدم کیښود، او مخامخ خلکو ته یې دجنګ او مقابلې ترغیب ورکړ، نو دمسلمانانو دمقابلې لپاره "عتبه بن ربیعه" دهغه ورور "شیبه" او ځوی یې "ولید" میدان ته ووتل، کله چې دواړه لورې یوبل ته مخامخ شول، کافرانو وپوښتل تاسي څوک یئ! هغوئ ځواب ورکړ دانصارو یوه ډله یو! هغوئ ویل: تاسي ښه خلک یئ، اوزمونږ مقابل یئ! خو مونږ غواړو چې مونږ ته خپل ورونه او خپلوان مخ ته راشي!

رسول الله (ﷺ) دنورو په نسبت له دینه زیات خبرو چې میدان ته راوتلي قریشیان څومره قوي اوتجربه کار جنګیالي دي؟ هغوئ په حربي فنونو پوهیدل اودجنګونو سره اشناوو، ددا سي زړورو جنګیالیو دفرمایش په اوریدو رسول الله (ﷺ) وفرمایل: حمزه پورته، علي پورته، ابوعبیده پورته! دا درې واړه دخپلوئ او ویني له پلوه رسول الله (ﷺ) ته نیږدې وو، اوترټولو ورته زیات ګران وو، خو کله چې دخطر نازک وخت راغی، دنورو په ځای یې هغوئ مقابلې ته وراندې کړل، میدان ته دهغوئ په ننوتو کفارو وویل: هو! دا زمونږ سره برابر او دنسب له پلوه یودي، حضرت ابو عبیده (رضي الله عنه) په عمر کې تر نورو دواړو مشر و عتبه ته، حضرت حمزه شیبه ته اوحضرت علي ولید ته بلنه ورکړه، حضرت حمزه او حضرت علي په لومړیو ګذارونو ولید او شیبه ووژل بیا را وګرځیدل عتبه یې هم مړ کړ او حضرت ابو عبیده چې تپي شوی و له ځان سره یې دمیدان څخه پورته کړ او بیرون یې ویوړ، هغه دتپونو تاب رانه وړو او شهید شو

په "طبقات الکبری" کې ابن سعد له قتاده څخه روایت کړی: چې په بدر کې حضرت علي (رضي الله عنه) سره درسول الله (ﷺ) بیرغ و، حافظ ابن عساکر ویلي: رسول الله (ﷺ) په بدر کې خپله توره "ذولفقار" حضرت علی (رضي الله عنه) ورکړه او له جنګ وروسته یې دهمیش لپاره هغه ته وبښله

احد غزوه:

دهجرت په درې یم کال شوال کې داحد غزوه پیښه شوه، الله (ﷻ) مسلمانانو سره کومک وکړ او خپله دنصرت وعده یې پوره کړه، دمشرکانو پښې ولړزیدې، دهغوئ میرمنو په تیښته کې خپل خیر ګانه رسول الله (ﷺ) دغشوویشتونکو مشر عبدالله بن جبیر (رضي الله عنه) مقرر کړ، هغه سره پنځوس غشي

ویشتونکي وو، هغوئ ته يې ښوونه کړې وه چې تاسې په هیڅ حال کې به دخپل ځایه نه ښکته کېږئ، له دې لوري راتلونکي دښمنان په غشو ولئ! خو هغوئ له شاه نه په مونږ حمله ونه کړي، که مونږ بري وموسو! یا میدان دښمنانو ته په لاس ورغلو په دواړو حالتونو کې به تاسې له خپل ځایه نه ښورئ، اګر که دا ووینئ چې د مرغانو سیل په لښکر یرغل کړي.

خو کله چې مشرکان دشکست سره مخ شول او په منډو شول غشو ویشتونکو خپل ځای پریښود او دکافرانو په لښکر ورمات شول، ولې د هغوئ کلک یقین راغی، چې بری دوئ ترلاسه کوي او لاړل، راځئ چې غنیمت اومالونهغوند کړو، حضرت عبد الله بن جبیر (ؓ) چې دهغوئ امیر وه هغوئ ته درسول الله (ﷺ) حکم ورپه زړه کړ، هغوئ ویلي اوس مشرکان په منډو دي دهغوئ دبیرته راتلو خو سوال نشته، لیکن دښمن په کمین کې وو، څنګه چې یې سنګر خالي ولید، ناڅاپه یې حمله وکړه، او ترشاه راتاو شول په مسلمانانو یې بریدونه پیل کړل اوپه لوړ غږ یې اعلان وکړ: "الا ان محمدا قد قتل" یعني محمد (ﷺ) شهید شو، په دې سره دمسلمانانو پښې ولړزیدې دښمن راوګرځید او حمله یې شروع کړه، هغوئ ته دا موقع په لاس ورغله چې دمسلمانانو سوبه په شکست بدله کړي، تردې چې په دې وخت کې دښمنانو ته تر رسول الله (ﷺ) پورې هم درسید و موقع په لاس ورغله، په رسول الله (ﷺ) یوه تیګه ولګیده، دهغې په وجه درسول الله (ﷺ) لاندې غاښونه مبارک شهید ان شول او په سر مبارک زخمي شو، ترې وینې روانې شوې، شونډې یې زخمي شوې، مسلمانانو ته نه معلومیده چې رسول الله (ﷺ) چیرې دی، حضرت علي (ؓ) رسول الله ترلاس ونیو او حضرت طلحه بن عبید الله پورته کړ، رسول الله (ﷺ) پخپلو پښو ودریده حضرت مالک بن سنان (ؓ) درسول الله دمخ مبارک نه دوینو داغونه صاف کړل.

امام بخاري (ؒ) دسهل بن سعد (ؓ) نه روایت کړی هغه نه درسول الله (ﷺ) دزخمیتوب دکیفیت باره کې پوښتنه و شوه چې چا درسول الله (ﷺ) زخمونه ووینځل، چا اوبه وراچولې او رسول الله (ﷺ) ته کومه دوا ورکړای شوه؟ هغه وویل: ماته داتول یاددي، فاطمه بنت رسول الله (ﷺ) درسول الله زخمونه وینځل، علی (ؓ) اوبه راوړې، کله چې فاطمې (ؓ) ولیدل چې په اوبو سره وینه دبندیدو په ځای نوره بهیږي، نودفرش نه لړتوته یې غوڅه کړه هغه یې وسیزله او بیا درسول الله (ﷺ) دسر مبارک په زخمي ځای کیښوده چې ورسره وینه بنده شوه.

دحضرت علی (ؓ) زړورتیا او جنګي وړتیا:

دهجرت په ۵ کال شوال کې دخندق غزوه چې ورته احزاب غزوه هم وایي، پیښه شوه، داغزوه له هغو غزاګانو څخه ده چې دهغو اغیز

ې او اثرات تر ډېرلرې پورې او د اسلام دپراختیا لپاره معاون ثابت شوې دي، هم داشان د اجنګ فیصله کونکی جنګ و. مسلمانان دهغو ازمایښتونو سره مخ شول چې وړاندې له هغو سره نه وو مخ شوي، (البدایه والنهایه ۷ټوک ۲۲۴مخ)

دهغه ښکاره او څرګند انځور په دې مبارکو ایاتونو کې اخستل شوی دی:

اذ جاءُوکم مِّن فوقِکُم وَ من اسفلِ منکُم وَ اذ زَاغَت الأبصَارُ وَبَلَغَت القُلُوبُ الحَنَاجِرَ وَتَظُنُّونَ بِاللهِ الظُّنُونَا۔ هُنَالِکَ ابتُلِیَ المُؤمِنِینَ وزُلزِلوا زِلزالاً شدیداً۔ احزاب ۱۱-۱۰:۳۳)

کله چې هغوئ په تاسو باندې له پورته اوښکته لوري راغلل او کله چې سترګې ورغلې، اوزړونه (له ډاره) ترغاړو پورې راغلل او تاسي دخدای (ﷻ) په اړه ډول ډول ګمانونه کول پیل کړل هلته مومنان سخت وازمایل شول او ډېر سخت ولړزول شول

په جنګي چارو کې حضرت علي (ؓ) ته الله (ﷻ) ډېر کمالات بښلي وو، ددې لومړی شاندار اظهار په دې جنګ کې وشو، دحضرت سلمان (ؓ) په مشوره چې کوم خندق کندل شوی و، هغه دمدینې منورې د شمال او مغرب په لوري وه ولې له دې خوا مدینې ته دننوتو لار خلاصه وه، دا خندق دمسلمانانو اوقریشو ترمنځ مانع و، ددښمن دلس زره لښکر سره راغلی وو، دهغوئ په اسونو سپاره جنګیالي په ډېره تیزۍ دمدینې منورې په لور تلل، کله چې خندق ته ورسیدل نو ټکان یې وخوړ، اوویلي: دا دجنګ نوی تدبیر دی، عرب ددې سره نه و اشنا، بیا دخندق یوې تنګې برخې ته ورسیدل، هلته یې خپل اسونه ښکته کړل، او له کندې پورته شول او مدینې ته ننوتل، په هغو جنګیالیو کې یو تن "عمروبن عبدود" هم و، هغه ځان دزرو جنګیالیو سره برابر ګڼه، هغه مخکې راغی ودریدو یې ویل: من یبارز؟ څوک شته چې ځما سره دمقابلې همت وکړي؟

دهغه مقابلې ته حضرت علي (ؓ) ورووت، او وې فرمایل: اې عمره تا دالله سره دا ژمنه کړې وه، که هر قریشي سړي ماته دوه خبرې وکړې نو یوه به ضرور منمه، هغه ویلي: بیشکه!! حضرت علي (ؓ) وویل: زه تاته د الله (ﷻ) او دهغه درسول او اسلام بلنه درکوم

عمرو وویل: زه دیته ضرورت نه لرم

حضرت علي (ؓ) وفرمایل بیا تاته دمقابلې بلنه درکوم،

عمرو وویل ولي؟ ځما ځویه (ابن اخي - وراره) زه تا قتلول نه غواړم!

حضرت علي (ؓ) وفرمایل:

لیکن په الله سوګند زه تا قتلوم

ددې په اوریدو هغه کې جوش راغی، له خپل اس نه یې توپ کړل او دحضرت علي په

مخکې توره په لاس ودريد دداړو ترمنځ مقابله پيل شوه، په يوبل يې ګذارونه کول حضرت علي(ؓ) وربانديې دومره تيز او پريکنده حمله وکړه چې هغه يې بل ګذار ته پرېنښود او په ځمکه راپريوت مړشو

په بل روايت کې واقعه داسې بيان شوې چې "عمرو" ناړې کړل: هغه څوک دی چې ځما مخې ته راشي، اومسلمانانو ته يې دحقارت په لهجه وويل: چيرته دی هغه جنت چې په اړه يې تاسي عقيده لرئ چې څوک شهيد شي ، هغه ته نتوزې، ولې څوک ځما مخې ته نه راباسئ؟ حضرت علي(ؓ) دوه ځله پورته شو او له رسو ل الله(ﷺ) نه يې اجازت وغوښته خو رسول الله(ﷺ) ورته ويلې: کينه، "عمرو" دريم وار غږوکړ، او په ډېره غوسه آميزه لهجه يې مسلمانانو ته بلنه ورکړه،حضرت علي(ؓ) پورته شو وې ويل: يا رسول الله زه؛ رسول الله (ﷺ) وويل عمرو دی، پيژنې يې؟ حضرت علی (ؓ) وويل: هو !عمرو !رسول الله(ﷺ)اجازه ورکړه، علی(ؓ) هغه ته ورمخکې شو کله چې خپل نوم واخست، هغه وويل: اې وراره ! ستا په ترونو کې له تا مشران شته ماته خوند نه راکوي چې ستا وينه توی کړم، حضرت علي ؓ وويل: په الله ﷻ سوګند زه خو ستا وينه تويول غواړم، بيا مقابله شروع شوه حضرت علی(ؓ) هغه قتل کړ (البدايه والنهايه ۴توک ۱۰۲مخ)

بيا جنګ پای ته ورسيد ولې قريظه (چې دقريشو حليفان وو) دقريشو سره يې اختلاف راغی، هم دا راز نورو ډلو (احزابو) چې په کوم ځای اړولي وو ، په يخو شپو کې وربانديې تيزه سېلی را والوته له دهغوئ پناه ځايونه او خيمې پريوتې، له دې وروسته په قريشو کې دمقابلې همت پاته نشو، رسول الله(ﷺ) وفرمايل: دسږکال وروسته به قريش په تاسو بيا حمله ونکړای شي، نور به تاسي په هغوئ حملې کوئ البدايه النهايه ۴توک ۱۱۵مخ)

..... نوربيا

قوم گرایی یا شرک پنهان

پوهندوی عبدالرؤوف مخلص

قوم گرایی یا شرک پنهان، آفتی است که انسانیت، بر اثر اغوای شیطان های انسی و جنی به مصیبت آن گرفتار گردیده است.

قوم گرایی، دعوتی است شوم که پیکرهٔ جامعه را تجزیه نموده، افتخارات دروغین را بزرگ و برجسته ساخته و هویت جامعه را به سراشیب نیستی روبه رو می گرداند.

قوم گرایی اساساً اندیشه ی است که در چهرهٔ معاصر خود در اروپای غربی زاده شد و هدف آن یافتن دریچه های گریز از تفکر دینی بود. نخست قوم گرایان در کشور آلمان زبان واحد را محور تجمع کتلهٔ بشری دانستند. قوم گرایان در فرانسه، زندگی مشترک در یک محیط را محوری برای تجمع قومی پنداشتند. اشتراک در تاریخ و زبان مشترک.

گرایش دیگری در این زمینه است که قوم گرایان عرب بدان روی آوردند و ابسته گی تاریخی به یک قلمرو جغرافیایی از دیگر خاستگاه های تفکر قومی است که نزد قوم گرایان برجسته گردید. و در یک کلام قوم گرایی به هر اندیشه یی که اتکا کرده است، اندیشه یی بوده است در جهت گسست انسان ها و پارچه نمودن امت ها و ایجاد دیوار های حایل میان مجموعه های بشری و کاشتن تخم تفرقه و تضاد و دشمنی میان آنان.

اسلام که آمد با این تفکر به سختی پیکار کرد و آن را به جایگاه طبیع آن بر گردانید که همانا ابزار تعارف و شناسایی میان مجموعه های انسانها است و بس.

» قومیت» در فرهنگ جاهلی نه به این عنوان

بلکه تحت پرچم «عصبیت» شناخته می شد. عصبیت افراد یک قبیله واحد را به هم پیوند می داد و آنها را در برابر قبایل دیگر به دشمنی و رویارویی بر می انگیخت.

البته درون مایه های این تفکر در نهاد انسان را می توان به انگیزه های آنی وابسته دید:

۱- انانیت و خودمحوری که از فرد آغاز شده به خانواده گسترش یافته و نهایتاً به دائرة قبیله و قوم می انجامد.

۲- عاطفهٔ رحم موجود در فطرت انسان که به طور طبیعی به اصول، فروع و اقربای درجه یک و یا نزدیکان هم ریشهٔ خود تمایل دارد.

۳- جستجوی یک چتر حمایتی برای تأمین منافع و فراهم آوری آسایش و امنیت خود در رویارویی با دشمنان فرضی یا کسانی که به حریم منافع انسانهای دیگر چشم می دوزند.

۴- جستجوی یک محور تعاون و همیاری برای تأمین منافع مشترک اجتماعی، اقتصادی، سیاسی و غیره.

این اندیشه در قرن بیستم به عنوان یک جریان مسلط بر روابط دولتها و ملتها حاکم گردید. و می توان بروز جنگ جهانی اول و دوم را یکی از فاجعه بارترین آفات آن دانست که به کشتار ده ها ملیون انسان و نابودی و اتلاف منابع حیاتی بشر انجامید.

اسلام به وحدت انسانی و مساوات میان فرزندان آدم و احترام و تکریم انسان از حیثی که «انسان» است فرا می خواند، صرف نظر از این که این «انسان» به کدام تبار، کدام رنگ، کدام جغرافیا و کدام ملیت مرتبط است.

اسلام بر اساس «حق» و «ولاء» یعنی وابستگی ایمانی به «الله» و «رسول» او (ص) رابطه جدیدی را ایجاد می کند که نام «اخوت» و برادری میان همه انسانها صرف نظر قوم، نژاد، قبیله، زبان و جغرافیای آن هااست: «إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ»() (بی تردید، مسلمان ها برادر همدیگر اند) و «المسلم اخ المسلم»() (مسلمان برادر مسلمان است.)

قرآن کریم به ما دستور می دهد که هر گونه رابطه دیگری را که در تعارض با این مفهوم والا قرار می گیرد، به دور اندازیم. الله متعال می فرماید: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا آبَاءَكُمْ وَإِخْوَانَكُمْ أَوْلِيَاءَ إِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى الْإِيمَانِ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ»() (ای اهل ایمان! اگر پدران تان و برادران تان کفر را بر ایمان ترجیح دهند، آنان را دوستان و سرپرستان خود مگیرید؛ و کسانی از شما که آنان را دوست و سرپرست خود گیرند، هم اینانند که ستمکارند.)

همچنان الله متعال می فرماید: «لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ»() (گروهی را که به خدا و روز قیامت ایمان دارند، نمی یابی که با کسانی که با

خدا و پیامبرش دشمنی و مخالفت دارند. دوستی برقرار کنند. گرچه پدرانشان یا فرزاندانشان یا برادرانشان یا خویشانشان باشند(.

اسلام تنها رابطه و پیوندی را که به رسمیت می شناسد، رابطه «ایمان» و «اخوت» اسلامی است و نه چیزی دیگر. در حالی که قوم گرایان؛ یعنی آنان که اندیشهٔ قوم گرایی را به عنوای یک ایدیولوژی ترویج می کنند رابطهٔ قومی را بر هر رابطهٔ دیگری مقدم می گردانند و این در نهایت همان اندیشهٔ شرک جاهلی است.

از نظر قوم گرایان، جایگاه دین به عنوان یک امر مقدس بالای رف خانه است و هر جا نعره قومی بلند شد، خبری از «ولاء» و رابطه دینی نیست و همهٔ مقدسات به خاطر دعوت قومی زیر پا می شود.

الله متعال می فرماید» :وَإِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً( ) (و این امّت شما امّت واحدی است) در حالی که قوم گرایان این امت واحده را به هزار و یک امت متعارض و متضاد با هم تقسیم کرده. آمال ها و آرمانهای بنای یک کشور و ملت متحد را به نابودی می کشانند.

رسول گرامی اسلام که الگوی هر مسلمان مُتعبِّد و باورمند و متعهد هستند، برای زدودن افکار و آثار اندیشه » قومیت» در نخستین مراحل تاسیس دولت نبوی در مدینه منوره میان مهاجرین و انصار به عنوان دو کتله ایمانی عقد «اخوت» منعقد ساخته و با این گام بزرگ، تمام افکار و رسوبات جاهلیت قومی را از محیط فکری و اجتماعی مسلمین بیرون ریختند. ایشان بر اساس رابطه «اسلام» و «ایمان» بین بلال بن رباح رض و خالد خثعمی رض ،بین زیدرض و حمزه بن عبدالمطلب رض ، بین خارجه بن زید رض و ابوبکر صدیق رض ، بین عمار بن یاسر رض و حذیفه بن یمان. رض. عقد «اخوت» منعقد ساختند و پایه های اعمار یک جامعه توحیدی را به استواری، بنیان گذاشتند.

جامعه نخستین اسلام بر اساس این رابطه جدید متولد گردید؛ نه بر اساس خون و خاک و رنگ و زبان و تبار .جامعه ای که در آن صهیب رومی رض ، سلمان فارسی رض و بلال حبشی رض در کنار والاترین سید قریشی -بلکه بالاتر از او- زندگی می کنند. سلمان فارسی رض خود را «فرزند اسلام» می خواند و نبی کریم صلی الله علیه و سلم او را به خانواده خویش منتسب می گردانند و می فرمایند «سَلْمَانُ مِنَّا أَهْلَ الْبَيْتِ( ) « سلمان از اهل بیت ما است(

جامعه ای که در آن غلام سیاه پوست حبشی ای که چون زیدبن حارثه رض ، فرزند خوانده پیامبر اکرم صلی الله علیه و سلم می شود. جامعه ای که سالم بردهٔ ابی حذیفه رض را به عنوان پیشوای مسلمین می شناسد. چنان که عمر فاروق رضی الله عنه می گوید: «لو كان سالم حياً لوليته»( )(اگر سالم زنده می بود، او را بعد از خود کاندید خلافت مسلمین می گردانیدم.«

جامعه ای که هر گاه کسی می خواست نعره های قومیت را در آن بلند نماید و انصاری بگوید: آهای انصار کجایید! رسول گرامی اسلام صلی الله علیه و سلم بر می خیزند و فریاد می زنند: «مَا بَالُ دَعْوَى الجَاهِلِيَّةِ؟... دَعُوهَا فَإِنَّهَا مُنْتِنَةٌ» (این چه دعوتی است؟ شما را چه شده است که نعره های جاهلیت را بر افراشته اید؛ این صداها را خاموش کنید؛ این نعره ها را خفه سازید؛ چرا که از این نداها بوی گند عفونت جاهلیت به مشام می رسد.)

آخرین سفارش رسول کریم صلی الله علیه و سلم در خطبه حجة الوداع این است: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَلَا إِنَّ رَبَّكُمْ وَاحِدٌ وَإِنَّ أَبَاكُمْ وَاحِدٌ أَلَا لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى أَعْجَمِيٍّ وَلَا لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ وَلَا لِأَحْمَرَ عَلَى أَسْوَدَ وَلَا أَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ إِلَّا بِالتَّقْوَى أَبَلَّغْتُ قَالُوا بَلَّغَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ...قَالَ لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ» (ای مردم! آگاه شوید که پروردگار شما یکی است، پدر تان یکی است، آگاه شوید که هیچ عربی بر عجمی و نه هیچ سرخ پوستی بر سیاه پوستی و نه هیچ سیاه پوستی بر سرخ پوستی برتری ندارد؛ مگر بر اساس تقوا. آیا احکام الهی را به شما رساندم؟ همه گفتند: که بلی... فرمودند: باید ادعوتم را) فرد حاضر برای غایب برساند)

و در نهایت نتیجه می گیریم که ادعای اسلام با ادعای قومیت هر گز با هم سازگار بوده نمی تواند زیرا مصدر و اساس اسلام دستور شارع حکیم الله عزوجل است در حالی که مصدر و سرچشمهٔ نداهای عصبیت قومی، افکار جاهلیت می باشد. همچنان که اندیشهٔ قوم گرایی، این تفکر را بر اخوت دینی مقدم می گرداند. چنین تفکری، اندیشهٔ «وحدت اسلامی» را هدف قرار داده و منافی با اصول عقیده و اصول دین است. از این جهت علما چنین اندیشه ای را «شرک محض» تلقی نموده و در صورتی که بر اسلام و اصول آن مقدم گردانیده شود، کفر محض دانسته اند.

در شرایط حاضر که جامعه ما پس از تجربهٔ سال ها بحران و تنش هم اکنون سخت به وحدت اسلامی نیازمند است، با تأسف ملاحظه می کنیم که دعوت های قومی و نداهای تجزیه باری از این دست، همان نداهای جاهلی را دوباره نشخوار نموده و بر آنند تا ملت مسلمان را به عصر جاهلیت برگردانند.

باید با هوش باشیم و برای حراست از عقیده و ایمان توحیدی خویش به نداهایی از این دست پاسخ رد بدهیم، بر سینه ابلیس مشت رد بکوبیم و نعره های ابلیسی را خفه گردانیم.

بیایید به حبل الله «وحدت» چنگ زنیم و میراث جاهلیت را برای همیشه به زباله دان تاریخ بسپاریم.

والسلام.

داسلامي خلافت دسقوط اسباب او دبيا احياء لپاره يې دمسلمانانو مسؤوليت

(خارجي منابع)

له نن څخه نوي کاله وړاندې د ۱۹۲۴ زيږديز د مارچ دمياشتې په ۳ مه نيټه دمسلمانانو د اسلامي خلافت منار دغرب دمسلسلو دسيسو په نتيجه کې داسلام دښمن ستر مجرم کمال اتاترک لخوا ونړول شو.

دخلافت له نړيدو وروسته دمسلمانانو ورکه ورځ پيل شوه مسلمانان لکه يتيمان ماشومان بې سرپرسته پاتې شول، فلسطين ديهودي اشغالګرانو لخوا اشغال شو، په افغانستان، چيچنيا، صومال، بوسنيا، عراق، سوريا او دنړۍ په نورو هيوادونو کې په لکاوو مسلمانان ووژل شول او دا لړۍ لا روانه ده.

عثماني اسلامي خلافت د خپل ۲۲۵ کلن عمر په اوږدو کې مسلمانانو ډير څه لاس ته راوړي، چې پکې داسلامي زمکې غزيدل، دصليبيانو د مسلسلو تهاجمي تيريو په وړاندې کلک دريدل، بيلابيلو سيمو ته داسلام ددعوت رسول، داسلامي علمي فرهنګي خدمت په مخ بيول دنمونې په توګه يادولی شو.

په اسلامي شريعت دعثماني خلفاو کلک اعتصام، خلافت ته وفاداري، جهاد ته ژمنتيا، له ديني علماؤ سره تعلق او دهغوی احترام، دحرمينو شريفينو او مسجد اقصی خدمت هغه څه وو چې دخلافت پرضد يې ډيرې دسيسې ترډيره وخته له ناکامی سره مخ کړې وې.

خو په ځينې بې علمه جاهلانو او چاپلوسو خائنانو دخلفاؤ اعتماد او باور نااهلانو ته دکار سپارل، او په خپله له کاري ساحې څنګ کيدلو ديته زمينه مساعده کړه چې دا مغرضان له خپل واکه په استفادې ګوندونه ايجاد او دخلافت په له منځه وړلو کې کار ترې واخلي.

همدا اوس دنړی په بيلابيلو هيوادونو کې دمسلمانانو نسل کشي روانه ده، بې وزله او بې دفاع مسلمانان دبودايې نمرودانو لخوا په برما کې ژوندي سوځول کيږي، په منځنی افريقا کې دسخت دريځو صليبيانو لخوا مسلمانان په ډله ييز ډول په شهادت رسيږي، په چرو حلاليږي، په لکونو دخپلو سيمو پريښودلو ته اړ کړل شول، خو دبشري حقوقو سازمانونه کانه راونده دي.

دنړی په سطحه يوازې دافغانستان اسلامي امارت او جهادي تحريکونه وو چې دا مظالم يې وغندل او دمظلومو مسلمانانو په حق کې يې غږ پورته کړ.

له همدې امله دکفارو مخکښه امريکا غواړي دمسلمانانو حقيقي مدافعان مجاهدين او هغه خلک چې دمسلمانانو دبرم دبيرته لاسته راوړلو لپاره کار کوي په لومړي قدم کې له منځه يوسي، او دا ښکاره خبره ده بش چې کله دصليبي جګړې اعلان وکړ نو پدې يې ټينګار وکړ چې زموږ لومړی هدف هغه کسان دي چې داسلامي حکومت جوړولو هوډ لري او داسلامي خلافت داعادې لپاره کار کوي.

څرنګه چې اوس امريکا په افغانستان کې له بشپړې ماتې سره مخامخ کيدونکې ده مسلمانان او په ځانګړې توګه افغانان مکلف دي چې داسلامي امارت کلکه ننګه او ملاتړ وکړي، کيدای شي همدا دافغانانو په لاس داسلامي حکومت ايښودل شوی نيالګی دمسلمانانو دعزت اوقوت داحياء لپاره محکمه ريښه ثابته شي.

ان شاء الله وما ذلک علی الله بعزيز

دجهاد فقهي مسائل

مفتي ابومحمد (حقاني)

جهادکې دامیر څخه استیذان (اجازه غوښتل)!

اوومه برخه

جهادچې داسلامي امت دسیاست عامه له شعایروڅخه دی ، او دامامت کبری له دندو نه شمیرل کیږي ، نودې ته په کتو هغه مصالح اومفاسد چې دجهاد د احیاء او ترک په پایله کې مرتب کیږي اوعام مسلمانان ورسره اړه لري ، په واکمنو او ولاة الامر باندې واجبیږي ، چې دجهادي چارو اهتمام وکړي او وخت ورته وټاکي ، همداسې دامت په وګړو لازمه ده، چې خپلو واکمنو ته په اړونده مسایلو کې رجوع وکړي اوپر خلاف یې بغاوت ونکړي ، امام القرافي په (الإحکام في تمییز الفتاوی من الأحکام / ۲۴) کې فرمایي ، چې امام هغه څوک دی، چې دخلکوسیاست عامه ، دمصالحو دمعاقدو غښتلتیا ، دمفاسدو دفع ، دجنایاتو قلع اوقمع ، او له ریښو ایستل ، دیاغیانو وژنه ، او په سیمو کې دخلکو میشت کول .....ورته سپارل شوی وي ، په (المغني ۱۶۶/۹) کې (ابن قدامه) رح فرمایي : چې دجهاد چارې امام او دده اجتهاد ته سپارل شوي او رعیت باندې یې اطاعت اړین دی .

فقهاء پدې سره ټول اتفاق لري، چې جهاد ته دامام څخه داجازې غوښتلو مشروعیت شته، خو پدې کې سره اختلاف نظر لري ، چې دمشر یا امام المسلمین له اجازې نه په غیر جهادي مورچلونو ته تلل روادي ، که نا روا ! ، چې دې باب کې دوه حالتونه اودرې اقوال دمعتمدو کتابونو لیکلې چې دڅه دلایلو اوراجح قول سره به یې ولیکو .

دفقهاووله تصریحاتوڅخه ښکارې، چې دجهاد دوه حالته دي ، یو حالت یې تعرضي یا طلب العدو او دوهم حالت یې دفاعي دی .

لومړی تعرضي حالت : که چیرته مجاهدین له خپل اسلامي هیواد نه بهر کافرو پسې دجهاد لپاره تلل ،نو دې حالت کې چې تعرضي بڼه لري مجاهدین بایدچې له خپل امیر اومشر تابه څخه دخروج اجازه وغواړي .او نږدې ټول فقهاوویدې اتفاق کړی .چې دې صورت کې له امیر یا دده له ځای ناستې قایم مقام څخه استیذان غوښتل مشروعیت لري .چې همدا تشریح په پدې لاندینیومذکورو کتابونو کې راغلې ده :((المحرر في الفقه (۲/ ۱۷۰) وشرح السیر الکبیر (۱/ ۱۲۳) والأم (۴/ ۲۴۲) په (المغني) کې داسې لیکي چې : (ولا یخرجون إلا بإذن الأمیر..)(المغني (۱۳/ ۳۳)همدارنګه په (المقدمات لابن رشد) کې وایي چې :(.. ولا یخرجوا إلا بإذنه..)(المقدمات الممهدات لابن رشد (۱/ ۴۴۶).

تراوسه خو مو دومره واضح کړه، چې دامام یا امیر له اجازې نه په غیر په جهاد الطلب کې باید مجاهد جهاد ته لاړ نشي .او اجازه اخستل یې مشروعیت لري .اوس به یې دا ارخ هم واضح کړو، چې که بیا هم له اجازې نه په غیر لاړ شي .شرعیت کې پرې څه حکم مرتب کیږي ؟

دشریعت له لیدلوري دامسئله اختلافي ده .او پدې کې ځینو علمي منابعو دوه قوله او ځینو نورو درې قوله رانقل کړي دي چې تفصیل یې په لاندې ډول دی :

(۱)**قول دادی** چې دامیر له اجازې نه پرته جهاد ته تلل حرام دي اوهیڅ جواز نلري .ځکه چې دامام اذن په خروج کې واجب دی .چې همدا قول داحنافو رح ،مالکیانو رح اوحنابلوورح دی ،خو په دومره زیادت سره چې احناف وایي چې که دامجاهد منعه او ځواک ونلري او یا ورته دجهاد امیر دوتلو اجازه نه وي کړي .نو خروج ورته بې اجازې حرام دی ، چې همدا تقریبا متفق قول په دې لاندینو کتابونو کې رانقل شوی دی (مواهب الجلیل (۴/ ۵۴۰) والمقدمات الممهدات (۱/ ۴۴۶). المغني لابن قدامة (۱۳/ ۳۳) وکشاف القناع (۲/ ۳۹۷) والفروع (۶/ ۱۹۹). شرح السیر الکبیر (۱/ ۱۲۳) والفتاوی الهندیة (۱/ ۱۹۲).

دې فوق الذکر مذاهبو استدلال کړی، چې دجهاد امر دجهاد امیر ته مفوض او موکول دی .اولکه په (المغني او کشاف القناع) کې چې لیکي .همدا امیر ددښمن په کثرت، قلت او ددوئ په پوځي طاقت یا ضعف باندې پوهیږي .او همدا امیر پدې چارو بنه معلومات لري، نو همدا بنه احوطه ده .چې ددې رایې ته ترجیح ورکړل شي او دخروج اجازه ترې واخستل شي.

هغه نصوص چې ددې درې ګونو مذاهبو دنظر توثیق کوي په لاندې ډول دي :

الله تعالی فرمایي :{یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا أَطِیعُوا اللَّهَ وَأَطِیعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنکُمْ فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِن کُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْیَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِکَ خَیْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِیلًا (النساء: ۵۹) پدې کریمه آیت کې ددې مذاهبو داستدلال وجه داسې ده ،چې دې کې الله تعالی او ددې درسول صلی الله علیه وسلم داطاعت څخه وروسته د(اولوالامر) یادحاکمانو

داطاعت حکم شوی او دا د وجوب حکم لري. نوښکاري ،چې جهاد ته تلل به دمشر تابه په اجازه وي ،ددې وجه نه (حافظ ابن تيميه رح) په (السياسة الشرعية ص: ۱۲) کې ليکلي : چې دا آيت درعيت په مورد کې نازل شوی، عام ددې نه چې هغه لښکر وي او که عام وي ددې نه ، نوپدوئ باندې لازم شوي ،چې دوئ دامام او مشر په حکم ،قسم او مغازيو کې ددوئ فرمانبرداري وکړي ،خو که دوئ واکمنو ورته په معاصيو حکم کاوه، بيا به يې پيروي نه کوي.

همداسې په سورت النور: ۶۲آيت کې هم راغلي چې :مومنان به له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه استيذان غواړي اوپه (تفسير القرطبي ۱۲/ ۳۲۰) کې له امام څخه اجازه غوښتل واجب ګرځول شوي ده ،په ټولو هغو امورو کې چې امام ته دکوم مصلحت په بنياد دخلکو دټولولو په هکله اړتيا وي ،لکه په دين کې دکوم سنت داقامت ،ددښمن ترهيب او ډارول او جګړو وغيره کې ، داددې تاکيد کوي چې دآيت په سياق کې راغلي، چې امام څخه داجازې نه غوښتل، دالله تعالى دعذاب او غضب سبب ګيرې ،لکه د(النور سورت) پدې لاندينې آيت کې چې راغلي :{قَدْ يَعْلَمُ اللَّهُ الَّذِينَ يَتَسَلَّلُونَ مِنكُمْ لِوَاذًا فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (النور: ۶۳).

احاديثو کې هم دمسلمانانو دامام او امير په اطاعت او استيذان تاکيد شوی او دجهاد غوندې اهم کار چې له نورو مصالحو څخه يې اهميت او ارزښت ډير دی ،دنبوي لارښوونو په رڼا کې داسې څه مومو، چې دامام اطاعت ته دلومړيتوب مرتبه ورکوي او له شارع څخه وروسته دده پيروي لازموي ، لکه چې دحضرت ابوهريره رض څخه روايت دی :چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي : "من أطاعني فقد أطاع الله ومن عصاني فقد عصى الله، ومن يطع الأمير فقد أطاعني ومن يعص الأمير فقد عصاني، وإنما الإمام جنة يقاتل من ورائه ويتقى به، فإن أمر بتقوى الله وعدل فإن له بذلك أجراً، وإن قال بغيره فإن عليه منه" (رواه البخاري بطوله في كتاب الجهاد والسير برقم (۲۹۵۷)، وروى مسلم أوله في كتاب الإمارة برقم (۱۸۳۵) وروى آخره في كتاب الإمارة برقم (۱۵۴۱)).

دې پورتني حديث کې دموضوع په باب وجه الاستدلال داسې ده، چې نومورې حديث د امام څخه په استيذان غوښتلو په دوو وجوهاتو دلالت کوي ،لومړی داچې حديث کې صراحت او نص دی ،دامام يا امير په اطاعت باندې ،او جهاد خو هغه وجيبه ده، چې بايد پکې دولاة الامر اطاعت وشي ،ځکه دا دمصالحو عامه څخه دی ،دويم داچې شارع دجهاد دچارومناط او دارومدار دامام سره وتاړه ،نظر په هغو مزايا ووچې يوازې همده پورې خاص دي او نورو پورې اړه نلري ،چې ګويادامام شباهت دپردې يا تستر سره شوی ،ځکه دابه ديبضة الاسلام يا داسلامي ټولني دفاع کوي ،دابه دخلکونه ويره لري او خلک به دده له دهشته ويره لري (شرح صحيح مسلم للنووي ۱۲/ ۲۳۰).

حافظ ابن حجر په (فتح الباري) کې فرمايي :چې دا

امام به دښمن دمسلمانانوله تکليف رسولوڅخه منع کوي .اوهم به مسلمانان خپلو کې يو بل ته له ضرر رسولو څخه منع کوي(فتح الباري ۱۱۶/۶

(۲) قول دادی، چې جهاد ته دامير له اجازې نه په غير تلل حرام نه .بلکې مکروه دي .چې دا دشوافعورح قول دی اوداحنافوقول هغه وخت ورسره مل دی، چې دې مجاهد کې طاقت او ځواک ددښمن دمقابلې موجود وي . امام شافعي رح په(الام)کې ليکي "وإن غزت طائفة بغير أمر الإمام كرهته لما في إذن الإمام من معرفته بغزوهم ومعرفتهم ويأتيه الخبر عنهم فيعينهم حيث يخاف هلاكهم فيقتلون ضيعة. قال الشافعي رحمه الله: ولا أعلم ذلك يحرم عليهم". (الأم ۸ / ۳۷۹).

ددې فوق الذکر قول تفصيل په لاندينې کتابونو کې پداسې عبارت ليکل شوی چې .دمسئلې مزيد وضاحت هم له ځانه سره لري هغه کتابونه او حوالې پدې توګه دي (الحاوي الكبير (۲۰۶/۱۴) ومغني المحتاج (۲۴/۶) وروضة الطالبين (۲۳۸/۱۰).شرح السير الكبير (۱۲۳/۱) والفتاوى الهندية (۱۹۲/۱).

شوافعو رح هم په هغې دلايلو استدلال کړی .په کومو چې دې نورو هغو مذاهبو کړی چې هغوئ يې دجهاد پر لور خروج له اذن پر ته حرام بولي. خو شوافع بيا داستدلال سبک بدلوي او دهمدې دلايلو په رڼا کې يې حرام نه بلکې مکروه بولي او هم وايي .چې له اجازې پر ته جهاد ته تلل حرام ځکه ندي .چې که احيانا دا مجاهدين پې اجازې جهاد ته ووځي .نو لويه هغه مسئله چې به پيښه شي ،هغه دده تغرير بالنفس(حمل النفس على الغرور) دی .او دا په جهاد کې جايز دی .نه ناروا! چې همدا استدلال اود(تغرير بالنفس) مسئله په دې لاندينو کتابونو کې تشريح شوي (الحاوي الكبير (۲۰۶/۱۴) ومغني المحتاج (۲۴/۶) وروضة الطالبين (۲۳۸/۱۰) وشرح السير الكبير (۱۲۳/۱) والفتاوى الهندية (۱۹۲/۱).

(۳) قول :په (المحلى ۲۱۷/۷) کې د ابن حزم رح او(الإنصاف ۱۵۲/۴) يو قول دامام احمد رح نقل دی. چې دوئ وايي. چې دامام له اجازې پر ته جهاد ته تلل روا دي او باک نلري .دليل يې دادی چې الله تعالى دې آيت کريمه کې فرمايي :

{فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ كَفَرُوا وَاللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا وَأَشَدُّ تَنْكِيلًا (۸۴)} (النساء: ۸۴). علامه ابن حزم پدې آيت باندې داسې استدلال کوي. چې دجهاد ددې آيت کريمه خطاب عام او حکم يې ټولو مسلمانانو ته شامل دی .نو که څه هم څوک ورسره نه وي. بيا هم هر څوک پدې حکم مامور دي "(المحلى ۴۲۱/۴).

خوددې استدلال ځواب داسې کيدای شي چې دې آيت کې خوله امام څخه په عدم استيذان کوم دليل نه تر ستر ګو کيږي .ځکه دا خطاب خو پيغمبر عليه السلام ته دی او هغه امام او خلک يې پيروان او تابع دي.

ابن حزم بل دليل کې دا آيتونه وړاندې کوي ،چې {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ فَانْفِرُوا ثُبَاتٍ أَوِ انْفِرُوا جَمِيعًا (٧١)} (النساء: ٧١).

وقوله تعالى: {انْفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنْفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (التوبة: ٤١)).

علامه ابن حزم ددې ايتونوو جه داستدلال داسې بيان کړي ،چې الله تعالى پر ته ددې څخه چې جهاد ته تلل يې دامام په استيذان مقيد کړي ،ددې آيتونو کې يې په نفير عام مطلق حکم کړی، نودامام اجازه پکې نده شرط شوي ،خو دابن حزم ځواب داسې کيدای شي، چې ددې آيتونو کې حکم مطلق په نورو آيتونو سره مقيد دی ،هلته بيا دامام اجازه شرط شوي ده ،او استنفار ده ته موکول يا سپارل شوی، چې مطلق په مقيد باندې حمل کيږي لکه دې کريمه آيت کې {إِذَا قِيلَ لَكُمُ انْفِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ}

ترټولو راجح قول :

. لومړنی قول (په جهاد الطلب کې دخروج پر

وخت له امام څخه داجازې غوښتلو شرط) راجح دی، اودادڅو سببونو په دليل چې هغه دادي :

(١)همدا کار دنبی عليه السلام ظاهر الهدی ده ،يقينا رسول الله صلى الله عليه وسلم او ځلورو خلفاوو دجهاد دولايت چارې پخپله سنبالولې، لکه دجهاد اعلان ،دلښکرو تلل ،دقوماندان تاکل اونور داسې دجهاد انتظامي امور چې دمشر تابه پورې به يې اړه پيدا کوله.

(٢)همداسې په هغه عامه سياساتو کې چې دامت دعامه مصالحو تحقيق پکې موخه وي ،رجع يې امام ته کيږي ،همدا وجه وه، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به چې پدې باب کې داسې مسايلو کې تصرف کاوه، هغه به دامامت له ليدلورې و، نه درسالت او قضاء له جهته ،اوکله چې مودا جوته کړه ،چې داډول تصرف دامامت له خصايصو او ليد لورې څخه دی ،نه درسالت او قضاء له جهته ،نو رجوع به پکې امامانواو حکامو ته کيږي، نو پايله داشوه چې له اقدام څخه مخکې به استيذان او ترې اجازه اخستل لازم وي او ددې نه په غير به گام نه اخستل کيږي.

امام القرافي په (الإحكام في تمييز الفتاوى من الأحكام ص:١٠٨) کې وايې چې هغه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم کوم کار او تصرف دامامت له ليد لورې کړی لکه ،دغنايمو ويش ،دمصالحو په رښا کې دبيت المال تقسيم ،دحدودو اقامه کول ،دلښکرو تنظيمول ،دياغيانو وژل ،اقطاعات په کليو او معادنو ويشل اوداسې نور.....نوهيڅ ته جواز نلري، چې دوخت دامام يا امير له اجازې پر ته داسې کوم اقدام وکړي ،ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې تصرفات دامامت له ليد لورې او حيثيت څخه کول او داپه غير له اجازې يا استيذانه نه روا کيږي ، نوددې کريمه آيت په

دلیل شریعت مقرره شو، چې دې کې ښه جوت دی {وَاتَّبِعُوهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ (الأعراف: ۱۵۸)}.

(۴): که چیرته دجهاد چارې دامت دهر فرد په لاس کې شي، نو دډیرو مفاسدو دروازې به خلاصې او امت کې به اختلاف او نزاع رامنځته شي، اوداهغه څه دي، چې شریعت یې دفع او منع واجب کړې ده، او قاعده داده چې کله کوم واجب دده څخه په غیر نه تمامیږي، نو داهم بیا واجب ګرځي ((والقاعدة أن ما لا يتم الواجب إلا به فهو واجب))، په (مواهب الجليل) کې (حطاب) له (شیخ احمد زروق رح) څخه نقل کړي، چې ده به خپلو وروڼو ته په توصیو کې ویل چې: دمسلمانانو دمشر له اجازې نه په غیر جهاد ته پاملرته او توجه دفتنو دپیدا کیدو او دکم برې لامل ګرځي ((التوجه للجهاد بغير إذن جماعة المسلمين وسلطانهم فإنه سُلَّم الفتنة وقلما اشتغل به أحد فأنجح"((مواهب الجليل ۳/۳۵۰.....)

بل داچې پدې حالت دمسلمانانو امام دخپل امامت دحکم له مخې دښمن په حالاتو ښه پوهیږي او دهغو قوت او ضعف هم ورته معلوم وي، اوهم پدې پوهیږي، چې کله دمحاربې وخت او کله ندی، نو کومه فیصله چې پدې باب هغه وکړي، هغې کې به دمجاهدینو خیر اوبرکت وي، نو ددې اړتیاوو او څانګړ تیاوو له مخې ویلای شو، چې جهاد ته تګ کې له امام څخه اجازه واجب اوپرته له اجازې، تلل حرام عمل دی، همداسې که دامام داجازې نه په غیر څوک جهاد ته لاړشي، نو ددې امکان نشي ردیدای چې دمجاهدینو تر منځ به ضرور اضطرابات او ګډوډي پیدا کیږي او ددې پایلې به بیا ګټورې نه وي، ددې امله به چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم کومه سریه یا کوم لښکر لیږه، نو هم به یې ورته امیر او مشر ټاکه او هم به یې دوئ ته امر کاوه چې ددې امیر او مشر اطاعت وکړي.

هو!

. البته فقهاوو داستیذان له حکم څخه ځینې صور نونه مستثنی کړي، چې څویې دادي: که چیرته دامام په اجازه غوښتلو مصلحت ظاهره فوت کیده یا اجازه ضرورنده، چې ددې لپاره فقهاء ځینې بیلګې وړاندې کوي اووایي چې داجازې په صورت کې مسلمانانو ته ضرر رسیده او یا پرې دښمن ته قوت او دې فرصت کې ورته پوځي مرسته رسیده، نو اجازه دې وخت کې شرط نده، لکه چې احناف همدا صورت دعدم استیذان صورت بولي، او (فتاوى هنديه) کې کاږي چې: فإذا علم المسلمون أنهم يتضررون بترك القتال كأن يتقوى عدوهم بوصول المدد إذا تركوا قتاله فلا إذن للإمام. (الفتاوى الهندية ۲/۱۹۲)

یا لکه چې مالیکان، شوافع او حنابله رح وایي چې کله چیرته په استیذان غوښتلو سره د دښمن دهزیمت او ماتې فرصت له لاسه واته، نواجازه بیا مجاهد لپاره شرط نده، لکه چې وایي – أن يترتب على الإذن فوات فرصة للنكاية بالعدو.

وقد نص على هذا المالكية (المصدر السابق ۳۴۹/۳) والشافعية (حاشية قليوبي وعميرة ۲۱۸/۴) والحنابلة (الإنصاف ۱۵۱/۴)

که چیرته دمسلمانانو امام، نه چاته دجهاد فی

سبيل الله امر کاوه .اونه يې ور ته دمجاهدينواعداد يا دپوځي روزنې او تربيت اسانتياوې برابرولې . نو داحنافو او حنابلو په ګډون ګڼو کتابونودلاندې قيوداتو په رڼا کې دامير له اذن پرته جهادته تلل جايز بللي .چې ځينې هغه شرطونه دادي : ۱-چې جهاد فرض عين وي . ۲-چې په خروج کې يې ضرر اعظم له بټاخځه نه وي . ۳-چې دامام لخواعامه منع نوي اعلان يا صادر شوي)

دويم حالت :

هغه چې کفار دمسلمانانوپه هيوادونو او مناطقو ناڅاپه يرغل وکړي اوپدې ډول اضطراري حالاتو کې دمسلمانانو امام ته ځان رسول او ترې اجازه غوښتل سخته وي، نوفکر کوم دفقهاوو تر منځ به دې کې ،کوم اختلاف نه وي ،چې مسلمان دې دامير داجازې څخه پرته ددښمن مقابلې ته ورودانګي او داسلامي خاورې دفاع دې ترې وکړي او دې کې به کوم حرج نوي .لکه چې دمدافعي دحالت پر وخت دکفارو مقابلې ته له اجازې نه په غير ور دانګل دې مشهورو کتابونو کې په بڼه وضاحت شته اوهلته موجود دي (المغني لابن قدامة (۱۳/۳۲) وکشاف القناع (۲/۳۹۷) وحاشية الروض المربع (۴/۲۶۹) ومغني المحتاج (۶/۲۴) ومواهب الجليل (۴/۵۴۰) وتبيين الحقائق (۳/۲۴۱، ۲۴۲) وحاشية ابن عابدين (۶/۲۰۵) والمحلى بالآثار لابن حزم (۵/۴۲۱).

دليل يې دادی :

په أحكام المجاهد بالنفس ....في الفقه الإسلامي

کتاب کې ،(مرعي بن عبد الله) داسې ليکلې چې کفارو درسول الله صلى الله عليه وسلم په اوښانو يرغل وکړ ،نو (سلمه بن الاکوع رض)ورسره له مدينې منورې څخه بهر مخ شو ،ورپسې شواو مقاومت يې ورسره درسول الله صلى الله عليه وسلم داجازې نه په غير وکړ ،خو رسول الله صلى الله عليه وسلم يې مدح وکړه او ويې ستايه او داسې وفرمايل چې : «خير رجالتنا سلمة بن الأكوع، وأعطاه سهم فارس وراجل»يعني حضرت سلمه يو نر او باتور سړی دی، او بيا يې ور ته يوه برخه دآس او بله دپلې ور کړه ،نوداپدې دلالت کوي چې دکفارو ديرغل پر وخت دامام داجازې نه په غير جهادته وتل روادي او کوم ډول ممانعت پکې نشته.

نوخبره به داسې راخلاصه کړو!

چې په تعرضي جهاد يا جهادالطلب کې دفقهاواختلاف شتون لري ،خو غوره او راجح قول يې دادی چې له امام المسلمين څخه اجازه غوښتل شرط دي او کله چې کفار دمسلمانانو په سيمو يرغل وکړي ،نو بيا دچا اجازې ته اړتيا نشته او ددې نه په غير جهادته تلل روادي او دې کوم جرح نه لېدل کيږي !والله تعالى اعلم

آیا از کم‌ترین مقام در جنت آگاه هستید؟

در صحیح مسلم از عبد الله ابن مسعود و مغیره بن شعبه رضی الله عنهم روایت است که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده‌اند: بیشک موسی علیه السلام از رب خود پرسید و گفت: ای رب! کم ترین کس از اهل جنت از روی منزلت کیست؟ الله جل جلاله فرمود: آخرین کسی که در جنت داخل می‌شود، او کسی است که می‌خواهد از فراز پل صراط عبور کند. گاهی به هر دو دست و پای می‌رود، و گاهی آتش او را می‌سوزاند، اما وقتیکه از مقابل آتش جهنم دور شود بسوی آن می‌بیند و می گوید: بسیار با برکت است ذاتی که مرا از تو نجات بخشید، یقیناً ربم چیزی را نصیب من نموده که به هیچ یک از اولین و آخرین نصیب نکرده است. آنگاه بر کناره جهنم می‌نشیند- لیکن الله عزوجل او را از آن نجات بخشیده است- و احساس می کند که هیچ کسی همچو نعمتی را که به او داده شده که عبارت از نجات از دوزخ است نصیب نشده است، او در همین حال می‌باشد ناگاه درختی در بالای سر او ظاهر می‌شود وقتی آن را می‌بیند می گوید: ای رب! مرا به این درخت نزدیک گردان تا در سایه آن بیاسایم و از آب آن بنوشم! الله تعالی می گوید: ای فرزند آدم! شاید این نعمت را برایت بدهم نعمت دیگری را از من بخواهی، می گوید: یا الله عزوجل! غیر از این سوال دیگری از تو ندارم، و به این سخن خود با ربش عهد و پیمان می کند که غیر از این درخت چیزی دیگری را از او نخواهد، ولی ربش او را در این قضیه معذور می‌داند زیرا او چیزهای را می‌بیند که توان صبر از آن را ندارد، پس الله تعالی او را اجازه می‌دهد که به درخت

نزدیک شود و از سایه و آب آن استفاده نماید. در آن حال درخت دیگری به او نمایانده می‌شود که زیباتر از درخت نخستین بود، می گوید: ای ربم! به درخت دومی نزدیکم گردان. تا از آب آن بنوشم و در سایه آن بیارامم، سوگند بعزت و بزرگی‌ات که غیر از این چیزی از تو نخواهم. الله تعالی می گوید: ای فرزند آدم! آیا با من عهد و پیمان نبسته بودی که غیر از آن درخت چیزی از من سوال نکنی؟! می گوید: سوگند بعزت و بزرگی‌ات که غیر از این از تو چیزی سوال نکنم، پس الله تعالی به او اجازه می‌دهد که به درخت دومی نزدیک شود زیرا الله جل جلاله می‌داند که وی چیزی را می‌بیند قدرت و توان صبر از آن را ندارد. در این حال درخت سومی که زیباتر از دوتای اولی است نزد دروازه جنت به مقابل چشم او ظاهر می‌شود وی کوشش می کند که صبر کند و آن درخت را از ربش سوال نکند ولی نمی تواند و می گوید: ای ربم! به درخت سومی مرا نزدیک گردان تا از سایه آن استفاده نمایم و از آبش بنوشم. سوگند بعزت و عظمت تو که غیر از این هرگز سوالی ندارم. الله تعالی می گوید: ای فرزند آدم! چقدر غدار هستی؟ آیا با من عهد نکرده بودی که غیر از درخت دومی سوال دیگر نکنی؟ می گوید: آری ربم! فقط این سوالم را پوره کن غیر از این هرگز سوال ندارم. الله عزوجل او را معذور می‌داند. وقتی الله جل جلاله او را به این درخت نزدیک گرداند و در نزد دروازه جنت نشست و آواز اهل جنت و نعمت‌های که بر آن قرار دارند و دیدار و خوشحالی آنها را شنید مدتی را که الله عزوجل خواسته است خاموشی اختیار کند و لیکن بر سکوت خود صبر کرده نمی تواند و می گوید: ربم! مرا در جنتت داخل کن. الله جل جلاله ذاتی که نزد او خزانه های آسمان‌ها و زمین است می گوید: ای بنده من! به جنت داخل شو. وقتی داخل جنت شود گمان کند که جنت از مردمی که قبل از وی سبقت کرده‌اند مالامال است. و حوران بهشتی ازدواج کرده‌اند، پس می گوید: ربم! مردم در مقام‌های خود قرار گرفته‌اند و پاداش‌های خود را دریافت نموده‌اند، پس حال من چگونه خواهد شد؟ الله جل جلاله می گوید: ای فرزند آدم! چه چیز ترا از من راضی خواهد نمود؟ آیا راضی خواهی شد که برایت به اندازه ملک یکی از بادشاهان دنیا باشد؟ می گوید: ای ربم! راضی هستم، الله جل جلاله می گوید: این و مانند آن تا پنج برابر مر تراست، می گوید: راضی هستم ای ربم. الله جل جلاله می گوید: این و ده چند آن تراست، و تراست آنچه که نفست بخواهد، و چشمت لذت یابد. بعد از آن الله جل جلاله برایش می گوید: ای بنده من! بخواه از من آنچه که دلت آرزو می کند؟ پس می گوید: ای ربم! فلان و فلان چیز از تو می‌خواهم. الله جل جلاله می گوید: همه آن را برایت عطا کردم، می گوید: فلان چیز.. الله عزوجل می گوید: عطا کردم برایت.. هنگامیکه تمام آرزوهایش به پایان می‌رسد و دیگر چیزی از او نمی‌خواهد الله جل جلاله می گوید: ای بنده‌ام! آیا فلان چیز را نمی‌خواهی؟ به رحمت و مهربانی ارحم الراحمین بنگرید! نعمت‌های که در یاد بنده نیست

به یادش می‌آورد و می گوید: آیا فلان نعمت را از من نمی‌خواهی؟ می گوید: آری ربم می‌خواهم، الله جل جلاله می گوید: آیا فلان نعمت را از من نمی‌خواهی؟ از من فلان چیز را بخواه، بعد از آن همه این نعمت‌ها را برایش می‌دهد تا آنکه آرزوهایش به پایان می‌رسد. سپس الله جل جلاله به او دستور می‌دهد که به قصرها و خانه هایش داخل شود، وقتیکه به قصرش داخل می‌شود دو تن از زنان بهشتی نزد وی داخل می‌شوند و برایش می گویند: حمد و ثنا الله عزوجل را که ترا برای ما زنده ساخت، و ما را برای تو زنده گردانید، بعد از آن به نعمت‌های که به وی داده شده است می‌نگرد و می گوید: سوگند به الله عزوجل که به هیچ کسی این نعمت‌ها داده نشده که بمن داده شده است.

این داستان کمترین اهل جنت است از حیث مقام و درجات، وقتی موسی علیه السلام رب خود را از کم ترین اهل جنت از نگاه منزلت سوال نموده بود شنید گفت: ربم! پس بلندترین اهل جنت از حیث منزل کیست؟ الله جل جلاله می گوید: ای موسی! آن گروه کسانی‌اند که کرامت ایشان را بدست بلا کیف خود غرس کردم و بدان مهر نهادم پس هیچ چشمی ندیده... سوگند به الله عزوجل هیچ چشمی آن را ندیده است و نه هیچ گوشی آن را شنیده است، و نه در هیچ قلبی تصور مثال آن گذشته است، عالی مرتبه است ذاتی که صاحب پادشاهی است، این جنت پاکیزه است و نعمت‌های آن نیز پاکیزه است، و نعمت‌های آن همیشه و لازوال است، نام‌های دیگر آن دار السلام و جنت المأوی است، و منزلگاه لشکر ایمان و قرآن است، شانه‌های اهل آن از طلا و عرق‌های‌شان از مشک خالص است، عمارت‌های آن خشتی از طلا و خشتی از نقره است، و قصرهای آن از لؤلؤ و زبرجد و یا از نقره و یا از طلای خالص است، همچنان از در و یاقوت در غایت حسن و کمال بنا کرده شده است، و گل آن از مشک خالص و یا زعفران است، سنگریزه‌های آن در و یاقوت پراگنده کرده شده است، خاک آن از زعفران و یا مشکی که از آهوان گرفته شده است، دریاچه‌های آن بدون حفره‌ها در جریان است، پاک است ذاتی که آن را از سیلاب‌ها نگه داشته است، از زیر قصرهای ایشان چنانکه بخواهند چشمه‌ها بیرون می‌شود غیر از اینکه از آب نهرهای آن چیزی بکاهد، جوی‌های از عسل خالص و آب و شراب و شیر در آن در جریان است، پاکی مر ذاتی را است که صاحب ملک و عظمت و بزرگی و عزت و پاکی است، و حمد و ثنا مر ذاتی را که شنوای همه آوازهای آشکارا و پنهان است، و او ذات یگانه عبادت شده و ذات به پاکی یاد کرده شده و ستوده شده و فروفرستنده قرآن است، و حکم اول و آخر همه مر او راست، پاکی مر تراست ای صاحب عظمت و پادشاهی. مشتاقان جنت با رب‌شان رازها و خبرهای دارند، بلکه هرگاه به جنت دست یابند به غیر آن هرگز توجه نمی کنند.

از: (مشتاقان جنت)

شاخص های سیاست خارجی

از کتاب (ابوبکر ●)

در دوران خلافت ابوبکر صدیق رضی الله عنه مهم‌ترین اهداف و شاخص‌های سیاست‌گزاری خارجی حکومت اسلامی به شرح زیر تبیین شد:

۱ـ ارائه‌ی نمایی باشکوه و قدرتمند از اسلام به سایر ملت‌ها

استراتیژی ابوبکر رضی الله عنه در تحقق این هدف، به روش‌های زیر به اجرا درآمد:

الف) خبر پیروزی مسلمانان، در رویارویی با جریان ارتداد و آشوب فتنه‌گران که به فروکش کردن آتش فتنه و تثبیت پایه‌های حکومت اسلامی انجامید، به حکومت‌های مجاور خلافت اسلامی رسید. تحولات قلمرو اسلامی در آن زمان زیر نگاه دو قدرت ایران و روم بود و چون خبر پیروزی مسلمانان در این جریان به ایران و روم رسید، دانستند که این قدرت جدید، دسیسه‌ها و چالش‌ها را به راحتی پشت سر می‌گذارد و همین، جلوه‌ی قدرتمند و باشکوهی از اسلام به نمایش گذاشت.

ب) لشکر اسامه رض: گسیل لشکر اسامه رض نقش مهمی در ایجاد وحشت در دل دشمنان اسلام و ارائه‌ی تصویری قدرتمند از اسلام داشت و طوری شده بود که بازگشت پیروزمندانه‌ی لشکر اسلام به مدینه، رومی‌ها را به سؤال و شگفت واداشته و آنان را به قدری در هراس انداخته بود که هرقل را بر آن داشت تا ده‌ها هزار از نیروهایش را در مرزها مستقر کند. با انتشار این خبر و رسیدن آن به ایرانی‌ها، هیبت و شوکت اسلام و مسلمانان، بیش از هر زمانی در این قدرت‌ها رخنه کرد.

۲ـ پیگیری فرمان رسول خدا ص درباره‌ی جهاد

ابوبکر صدیق رضی الله عنه برای تأمین دعوت و رساندن آن به مردم، راه جهاد را ادامه داد و برای گسترش دعوت حق، عموم مسلمانان

را به جهاد و خروج در راه خدا فراخواند تا طاغوتياني را كه دعوت رسول خدا ص را رد كرده و نور حق را از ملت‌هايشان دريغ نموده بودند، نابود كند. عموم مسلمانان نيز فراخوان ابوبكر صديق رضي الله عنه را لبيک گفتند تا زير پرچم جنگاوران مجاهدي چون خالد رض، ابوعبيده رض، عمرو رض، شرحبيل و يزيد رضي الله عنهم انجام وظيفه نمايند.

اين فرماندهان از سوي خليفه‌ي باتجربه و كارآزموده‌اي منصوب شده بودند كه دانش نظامي شگفت‌انگيزي داشت؛ دانشي كه در شرايط بحراني و چالش‌هاي فراروي مردمش، به دست آورده و او را در گزينش بهترين فرماندهان لشكري به نحو احسن ياري داده بود. ابوبكر صديق رضي الله عنه علاوه بر گزينش درست فرماندهان، همواره آنان را راهنمايي مي‌كرد و همين، باعث شد تا شام و عراق در كوتاه‌ترين زمان ممكن و در حداقل تلفات و سختي‌ها فتح شوند.

۳. عدالت‌گستري و مهرورزي درميان مردم مناطق فتح‌شده

سياست خارجي ابوبكر صديق رضي الله عنه مبتني بر عدل‌گستري، برقراري امنيت و ايجاد اطمينان و آرامش خاطر براي توده‌ي مردمان مناطق فتح شده بود تا بتوانند به‌وضوح تفاوت حكومت حق و حكومت باطل را دريابند و در پي آن چنين نپندارند كه حكومت ستم‌پيشه‌اي نبود شده ت حكومت ستم‌گر ديگري و يا ظالم‌تر از آن، روي كار بيايد. ابوبكر صديق رضي الله عنه به فرماندهانش سفارش نمود كه رفتار عادلانه و محبت‌آميزي با مردم داشته باشند؛ چراكه شكست‌خورده، بيش از هر كس ديگري نيازمند مهر و عطوفت است تا انگيزه‌هاي جنگ و شورش، از او برداشته شود.

مسلمانان فاتح نيز اين رويه را با مردم مناطق فتح شده در پيش گرفتند و توجه ويژه‌اي به سازندگي و عمران نمودند. توده‌ي ملت‌ها، با برپايي ترازوي عدل، منش نويني از انسانيت راستين ديدند كه باعث انتشار نور اسلام و شكار دل‌ها شد و بدين‌سان همه، در برابر اسلام گردن نهادند. سپاهيان فارس و روم، به هر جا كه قدم مي‌گذاشتند، خرابي به‌راه مي‌انداختند و با هتک حرمت و تجاوزگري، آن چنان وحشت و هراس شديدي ايجاد مي‌كردند كه خاطره‌ي تلخش، سينه به سينه و نسل به نسل مي‌گشت.

اما ورود سپاهيان اسلام به قلمرو فارس و روم، جلوه‌ي زيبايي از عدالت و مهرورزي را نمايان كرد و جايگاه انساني آحاد ملت‌ها را كه در اثر ظلم و خفقان حكام ستم‌پيشه‌ي فارس و روم، به نابودي كشيده شده بود، به آنان باز گردانيد. ابوبكر صديق رضي الله عنه به اين استراتژي، توجه ويژه‌اي داشت و همواره به رفع اشتباهات و كجي‌ها مي‌پرداخت. بيهقي رحمه الله مي‌گويد: عجم‌ها، پس از هر پيروزي، به غارت‌گري پرداخته و هر طور كه مي‌خواستند با بزرگان و سرآمدان حريف شكست‌خورده، برخورد مي‌كردند و سرِ كشته‌هاي

دشمن را جهت افتخار و به نشان پيروزي، براي شاهنشان مي‌فرستادند.

مسلمانان در جنگ با روميان، به قصد مقابله به‌مثل، همين رويه را در پيش گرفتند كه از آن جمله مي‌توان به كار عمرو بن عاص رض و شرحبيل بن حسنه اشاره كرد كه سر يكي از فرماندهان رومي به نام بنان را با عقبه بن عامر رضي الله عنه به مدينه فرستادند.

اما ابوبكر صديق رضي الله عنه اين كارشان را نكوهش كرد. عقبه رضي الله عنه عرض كرد: «اي خليفه‌ي رسول‌خدا! دشمن، با ما همين كار را مي‌كند». ابوبكر صديق رضي الله عنه فرمود: «آيا مي‌خواهيد روش فارس و روم را در پيش بگيريد؟! پس از اين، هيچ سري را برايم نفرستيد و به نامه و گزارش كارتان بسنده كنيد».

۴. برداشتن هرگونه زور و اجبار از مردم

يكي از شاخص‌ترين سياست‌هاي خارجي ابوبكر صديق رضي الله عنه برداشتن زور و اجبار از مردم مناطق فتح شده بود و هيچ كسي را به پذيرش اسلام مجبور نمي‌كرد؛ اين رويه‌اش، برخاسته از فرموده‌ي الهي بود كه: (أفأنت تكره الناس حتى يكونوا مؤمنين) (يونس:۹۹) يعني: «آيا تو مي‌خواهي مردم را مجبور كني به اين‌كه ايمان بياورند؟»!

هدف مسلمانان از جهاد برون‌مرزي و فتح سرزمين‌ها، نابودي سركشان و در پي آن گشايش درها به سوي ملت‌ها بود تا كابوس ستم را از بين ببرند و شرافت و انسانيت راستين را به مردم هديه كنند؛ نور اسلام را ببينند و آزادانه تصميم بگيرند. آري! مسلمانان، كسي را به پذيرش اسلام، مجبور نكردند و تا زماني كه با آن‌ها عهدشكني نشد، بر پيمان خود به ترتيب زير پايبند ماندند:

الف) پرداخت جزيه از سوي كساني كه اسلام را قبول نكردند.

ب) عدم به‌كارگيري و استخدام غيرمسلمانان در كارهاي كليدي از قبيل فعاليت‌هاي لشكري و نظامي.

ج) اخذ پيمان از غيرمسلمانان قلمرو حكومت اسلامي مبني بر اين‌كه از فعاليت‌هاي ضد اسلامي بپرهيزند.

د) در صورتي كه هر غيرمسلماني، خواسته باشد دينش را تغيير دهد، تنها بايد مسلمان شود.

با توجه به اين‌كه به‌زور و اجبار نمي‌توان عقيده‌اي را بر كسي تحميل كرد، اسلام و حكومت اسلامي، براي غيرمسلمانان از طريق شرح عملي و تئوري به‌گونه‌اي تبيين شد كه به ميل خود اين دين را بپذيرند و مسلمان شوند.

از كتاب "ابوبكر"

ذبیح الله مجاهد

څوشپې له خپل ولس سره

ترټولو د مخه دافغانستان داسلامی امارت ټولو مجاهدینو او مبارزینو ته سلامونه او نیکې هیلې وړاندې کوم ! وروسته له سلامه، زه د افغانستان داخل کی اوسیږم او د امارت د راتلونکي پلان په هکله د پښتنو په اړه ځینې اندیښنې راسره دي امید چې ځواب یې کړئ !

پوښتنه : لکه څرنګه چې پوهیږئ !تیرو لسو کلو کې امریکا او دهغوی متحدینو ټوله سرمایه ګذاري په تاجکو او هزاره ګانو وکړه ،که بانکونه دي ،ددوئ دي ،که چوکی دي، ددوی دي، تاسو په دې اړه څه پالیسی لرئ ؟

ځواب: وعلیکم السلام ! محترمه زه داسلامی امارت داسلامي پالیسی له مخې ستاسو پوښتنه داسې ځوابوم ،چې ستاسو په پوښتنه کې دقومیت یادونه شوي او دازمورږ ملی یوالي او ارضي تمامیت ته جدي ګوابن دی، او اسلام هم له قوم پرستی نه منع کړي یو ، په دالس کاله یرغل کې هرقوم ته په افغانستان کې په مختلفو ډولونو ستونزې پیښې شوي دي، هغه که پښتون دی اوکه کوم بل قوم ، خو باید ټول یې په یوه اتحاد سره مخه ونیسو ،په تاجکو ورونو کې هم داسې کسان شته ،چې په دالس کاله کې په مبارزه او جهاد بوخت وو ،او لاهم ستونزې ګالې او په پښتنو ورونو کې هم همداسې !خو په دواړو قومونو کې بیا داسې اشخاص هم شته، چې له کرزي نیولي تر ګلاآغا شیرزي ،فهیم ، حاجی دین محمد اوګنو نورو پورې میلیونران شول، او اوس هم په کابل او ولایاتو کې بانګونه او لوی لوی په سود او رشوت ولاړ تجارتونه لري، او په بهر کې بې هم دځان لپاره کورونه جوړ کړي ، چې داټول خیانت او ظلم دی، خو داخبره باید په جدي توګه په نظر کې ونیسو !چې دلته ظلم او خیانت قومونو نه دی کړی ،بلکې څو

نامطلوبو اشخاصو کړي، چې تل باید دافرادو په سترګه ورته وکتل شي، نه د کوم قوم ! ځکه قوم او قبیله الله تعالی د پیژندنې یوه وسیله پیدا کړې ،چې د اسلام له نظره له دې نه پورته کوم ارزښت نلري او د خلکو غوره والی او نه غوره والی د الهي هدایاتو په رڼا کې ،په تقوا او پرهیزګاری سره دی، نه په کوم توکم او قوم سره ، نو که امریکایي ښکیلاک ګرو ، په افغانستان کې په هرچا سرمایه ګذاري کړي وي ،هغه افراد دي او مورډ تاریخ په اوږدو کې بیګانه پرست افراد درلودلي او په لازمه مقطع کې مو مناسبه سزا هم ورکړې ده ، اوس هم زمورډ ملت هغه ملت دی، چې پخوا و ، او په راتلونکې به هم همداسې به حق او حقیقت ولاړ ملت پاتې وي . مننه

زمریالی یم سلامونه مې ومنئ لاندې پوښتنه راسره ده که راته ځواب ییې کړئ !

ایا تاسو نه غواړئ چې سوله وشي؟

ځواب ـ وعلیکم السلام !

محترم ورورہ ! زمورډ هدف سوله او آرامی ده ، زمورډ جهاد د سولې او آرامی لپاره دوام لري ، خو سوله ځانته تعریف لري ، یو په مستعمره شوي هیواد کې د غلامی آرام عمر تیرول ، تش خوړل او ځښل او خپل شهواني غرایز پوره کول دي ،او یو په خپل هیواد کې د خپلو معتقداتو په رڼا کې د یو مستقل حاکمیت د تاسیس په سیوري کې مرفه ، باعزته او آبرومندانه ژوند کول دي ، مورډ هغه سوله غواړو ، چې هیواد مو خپل ، حاکمیت مو خپل واک مو خپل او اراده مو خپله وي ، زمورډ عقیدې او دین له لارښونو سره برابر حاکمیت رابانديې دامن او قرار سیوری غورولي وي ، دښمن سره معامله او په نتیجه کې چې هر راز وي ،ځان چوکیوته رسول او د سولې د تینګښت په نامه په زرګونه پردي او کفري ځواکونه په هیواد کې منلو ته مورډ کله هم سوله نشو ویلای، بلکې له داسې په اصطلاح تش په نامه سولې نه د جهاد په ګردونو کې سرګردانه ژوندته سل ځله ترجیح ورکوو ، او دین مو هم رانه همداسې یوه تګ لاره غواړي ،نو که ستاسو منظور له سولې لومړي سوله وي ،نو مورډ خو دهغې سولې لپاره شپه او ورځ په ځان یو کړې او ځانونه د شهادت ترپولي ورته ژمن بولو ، او که هدف مو له سولې دوهمه سوله وی ،چې تش نوم یې د سولې ،نوره غلامی وي ،نو په ځغرده وایم، چې هیڅ کله داسې سوله نه غواړو ، چې دین او افغانیت یې اجازه نه راکوي. مننه السلام علیکم

ذبیح الله مجاهد صیب امید مې دی چې نبه او روغ به یې !

ذبیح الله صیب !ماته یوسوچ اوفکر ورانديې کیږي ،هغه داچې دطالبانو جهاد خو دنفاذشریعت لپاره دی، خو طالبان چې وایي چې کفار او یرغلګر ووځي، بیابه جنګ نه کوو ،خوبیا څه فایده، چې کفار له وطنه ووځي، نو تاسوبه دګوډاګي حکومت سره مذاکرات وکړئ ،بیا خو به شرعي نظام څرنګه راتلای شي؟مننه احسان

ځواب-وروره !تاسو باید ډاډه واوسئ، زمونږ هره پریکړه او فیصله به داسلام له حکم سره سمه کیږي ،اود اسلامي نظام حاکمیت زمونږ دفرد فرد مجاهد ، هغه که مشروي ، که کشر،لوی آرمان او هیله ده ، الله پاک مونږ مکلف کړي یو ، چې په هره ممکنه لار او طریقه چې وي ،اسلامي نظام حاکم کړو ، مونږ کله هم له دغي لوبي داعیي نه، نه تیریږو او نه هم کله له چاسره په دغه غوښتنه او لوی ارمان باندي معاملې کوو ،هیله ده، ستاسو په ګډون ټول مسلمان او بادرکه هیواد وال په دې برخه کې هیڅ تشویش ونه لري او په خپلو مشرانو باندي وروسته له درنو آزمیښتونو نه ، پوره باور ولري ، ستاسو قرباني او دهیڅ افغان قرباني داسلام په لاره کې خدای جل جلاله نه ضایع کوي، هیله کوم، مطمئن واوسئ. مننه

مجاهد صاحب خدای دې وکړي چې روغ یاست!

پوښتنه-دمسلمان قتل چې کلمه ووایي، په کوم ایات او په کوم حدیث جایز دی، لکه څنګه چې یې تاسو قتلوئ دا په اسلام کې شته؟ والسلام علی محمد

ځواب-ښه به داوی، چې تا داپوښتنه له کوم مفتي صاحب نه کړی وي، اوځان دې مطئن کړی وی ، خو زه هم چې څومره پوهیږم ځواب درکوم ، لومړی خو په شریعت کې بیلابیل داسې جرمونه شته ،چې له املې یې یو مسلمان سره له دې چې مسلمان هم وي ،مرګ یې جایز کیږي ، مثلا یو سړی واده ولري اوبیا هم زنا وکړي مرګ یې جایز دی، سره له دې چې مسلمان دی ، یا یو سړی مسلمان دی ،بل مسلمان په قصد سره قتل کړي ،نو قصاصا یې مرګ جایز دی ،سره له دې چې مسلمان دی ،اوبل هغه مسلمان چې ځانته مسلمان وایې، خو دظالم سره ودریږي او له هغه سره کمک وکړي او دی پوهیږي چې دظالم سره مرسته کوي، نو دلته یې مرګ مباح دی ، پیغمبرعلیه السلام یې په اړه داسې فرمایي :(من مشی مع ظالم لیقویه ویعلم انه ظالم فقد خرج من الاسلام-رواه البیهقی-مشکوة باب الظلم صفحه۴۳۲) ترجمه: څوک چې روان وي، له ظالم سره ددې لپاره چې قوي یې کړي او دی پوهیږي، چې هغه ظالم دی، نو دی له اسلامه ووت.

بل ځای د حنفی فقهي یو معتبر کتاب فتاوای هندیه کې داسي لیکل شوی (وقطاع الطریق وجمیع الظلمة والاعوان والسعاة یباح قتل الکل ویثاب قاتلهم ـ کذافی النهر الفائق. فتاوای هندیه جلد۲ صفحه ۱۷۷) ترجمه: او هغه کسان چې لارې شکوي او ټول ظالمان او مرستندویان یې، سعی کونکی په ظلم او فساد کې د ټولو قتل مباح ده او قاتل ته به یې الله اجر ورکوي.

پورته کسان چې اسلام یې د قتل حکم کوي او حتی لا قاتل ته به یې الله تعالی اجرونه ورکوي، د ټول مسلمانان دي، خو سره له اسلامه، چې د خپل دین او خلکو په ضد له ظالمانو سره یو ځای شوی وي او د هغوی ملایي ترلې ده، مرګ یې جایز دی ،نو دسوال کونکې لپاره به دغومره دلایل بس وي، چې یو څوک سره له دې، چې مسلمان هم ځانته وایي ،خو مرګ او قتل یې ثواب لري ،چې شریعت ټول تشریح کړي، که ته په دې اړه نور هم معلومات غواړې ،نو هر داسې عالم ته ورشه ،چې په دین کې معلومات او پوهه ولري، قناعت به درته درکړي ، د اچې ممکن ستا دسوال مطلب هم هغه کسان وي ،چې دا اوس له امریکایانو سره ولاړ دي او ځان مسلمان هم بولي ، اوته غواړې ،چې هغه ونه وژل شي ، نو وروسته له پورتنیو معلوماتونه ته کولای شې، چې په آسانۍ سره دغه کسان د خپل دین په رڼا کې وپیژني، چې مجاهدین یې وژني، چې ایا هغه په فساد کې سعی کونکي ندي ؟ ایا هغو دنړۍ له لوی ظالم څواک امریکا سره مرسته نه کوي ! سره د دې چې پوهیږې ،چې امریکا په نړۍ کې یو ظالم قوت دی ؟ او ایا دغه ستا دوستان چې ممکن ته یې په وژلو خپه یې د کفارو سره معاونت او کمک نه کوي ؟ د مسلمانانو او هیوادوالو کورونو ته په شپه کې له امریکایي ځواکونو سره څوک ورروان وي چې یرغل پرې وکړي؟ د څو ډالرو په بدل کې څوک خپل مسلمان ورونه نه پریږدي، چې ځان امریکایانو ته ورسوي او برید پرې وکړي ؟ د ملی امنیت په نامه زمونږ په زرهاو مظلوم هیواد وال چې اکثره یې دیني عالمان او حافظان دي ،چې زمونږ په هیواد او ټوله اسلامی نړۍ کې د خاص احترام وړ ګڼل کیږي، څوک په استخباراتي اداروکې ترسختو شکنجو او سزاګانو لاندې نیسي ؟ آیا دغه ستا مسلمانان ندي ،چې دامریکایي یرغل عملا ملاتړ کوي او دلته دامریکایي مجرمینو سره په هرجرم او ظلم کې شریک دي ؟؟؟

له پورتنۍ اوږده څوابه ،هیله کوم ،زما څواب دپوهې او عادلانه نظر له مخې وګورې، نه د اچې صرف دکینې له مخې هرڅه رد کړې. مننه

دشلمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې دوهمې نړیوالې جګړې داوسنۍ نړۍ نقشه وټاکله ، دالمان او جاپان پوځي افسانه دتاریخ برخه شوه او د بریتانیا دامپراطورۍ ټغر هم له ټولو وچو په ټولیدو شو ، دسیالۍ ډګر شوروي او امریکا ته پاته شو ، چې ترخپل منځ یې سړه جګړه پیل کړه.

دغه دوو ابرقدرتونو نړۍ ترخپل منځ دنفوذ په ساحو وویشله ، خو یوه شیبه هم دیوه بل په وړاندې خاموشه کیننا ستل بلکې دتوسعه غوښتنې هڅې یې تل جاري وې ، یوه ځیرنه ښیي چې شوروي او امریکا دسړې جګړې په موده کې په ۱۲۰ جګړو کې په غیرمستقیم ډول سره مخامخ شول ، چې د یوبل درقیبانو مرسته یې کوله ، د شلمې پیړۍ په وروستیو کې چې شوروي اتحاد ونړېد ، امریکا ته ځان یوازینۍ زبرځواک و اېسید نوځکه دسپیني مانۍ تیوریسنانو دپلار بوش په خوله نړۍ ته دنوي نړیوال نظام درامنځته کولو اعلان وکړ.

نوی نړیوال نظام چې یو امریکایي خیالي افسانه ده ، پردې راڅرخي چې په نړۍ کې باید یوازې یو زبرځواک موجود وي ، ترڅو نړۍ اداره کړي ، دغه نظام له سیاسي ، پوځي ، اقتصادي او کلتوري اړخه ګڼ مشخصات لري ، چې په هره برخه کې په امریکایي موډل او امریکایي ارزښتونو ټینګار شوی دی ، دلته ددې نظام د جوړښت جزیات نه بیانوو ، خو عنوان شوې موضوع ته د ورکوزیدو دمقدمې په توګه دومره وایو ، چې دامریکایي نړیوال نظام تیوري وایي ، چې په نړۍ به یوازې دامریکا راج چلیږي ، چین

، روسیه ، انګلستان او فرانسه د خپلو پولو دننه کولای شي ، په قوت کې پاته شي خو په نړیوال ځواک ډبدلیدو اجازه به نه ورکول کیږي ، امریکایي نړیوال نظام دفاعي لارښود چې ۱۹۹۲ م کال کې ترتیب شوی وایي ، چې په معاصره نړۍ کې یوازې روسیه ددې توان لري او تمه ترې کیدلای شي چې امریکا تباه کړي ، نوځکه باید امنیتي تمرکز دروسیې په کلابندۍ او محدودولو راټول وي.

همدا علت دی چې په تیرو دوو لسیزو کې امریکا او ملګري یې په پرلپسې توګه په دې هڅه کې دي، ترڅو دروسیې دنفوذ ساحه ورټوله کړي او روسیه دخپلو پولو دننه کلابنده کړي ، په دې لړ کې په ختیځه اروپا ، منځني ختیځ او افریقا کې د روسیې ګڼ ملاتړي رژیمونه نسکور شوي او دروسیې دنفوذ ټغر ترې ټول شوی دی ، یوګوسلاویا ، عراق او لیبیا هغه هیوادونه دي چې روس پلوه رژیمونه یې دامریکاا و ناټو لخوا د پوځي بریدونو په پایله کې له منځه تللي ، چې کیدای شي دا تجربه بالاخره په سوریه کې هم تکرار شي ډبالتیک جمهوریتونه دغه راز پولنډ ، هنګري او ختیځې اروپا په ګډو نورو هیوادونو کې دامریکا په ټونګ روس پلوه نظامونه چپه شوي دي او اوس دشوروي د نفوذ دا ساحې په بشپړه توګه دغرب په واک کې دي ، خو په همدې سیمه کې یو مهم هیواد چې لا هم دروسیې ترنفوذ لاندې دی ، یوکراین دی ، یوکراین چې داروپا دوهم ستر هیواد دی ،۴۴ میلیونه نفوس او دحساب وړ اقتصادي منابع لري ، دا هیواد د روسیې په وړاندې دټوپ دتختې حیثیت لري ، چې د روسیې دامنیت لپاره خورا مهم دی.

امریکا او لویدیځ ملاتړي یې چې غواړي روسیه په خپلو پولو کې کلابنده کړي په تیرو څو کلونو کې په پرلپسې توګه هڅه کوي ، چې په یوکراین کې هم دختیځي اروپا دنورو هیوادونو تجربه تکرار کړي ، مګر داچې دشوروي اوسنی مشر پوتین د لویدیځ له دې پالیسۍ سره سخت مخالف دی ، نوځکه ددوو طرفه ټکر په نتیجه کې خبره کړکیچ ته مفضي شوي ده.

د روسیې اوسنۍ مشر ولادیمیرپوتین هڅه کوي د روسیې پخوانۍ برم راژوندی کړي ، له همدې امله یې دامریکایي پراختیا غوښتنې په وړاندې سخت دریځ خپل کړی دی ، د پوتین همدا مقاومت ددې لامل شوې چې په سوریه دلویدیځ دمخامخ بریدمخه ونیسي دغه راز په یوکراین کې هم دختیځې

اروپادنورو هیوادونودتجربو دتکرار امکان شنډ کړي.

دامریکا او روسیې دغیږبازی په نتیجه کې دیوکراین اولس او سیاستوال په دوو برخو ویشل شوي دي ، یوه برخه یې له اروپایي ټولنې او غرب سره دامریکو پلویان او بله ډله یې د روسیې په دوستی ټینګار کوونکي دي ، دغو دوه ډلو په تیرو څو کلونو کې دسختو مقابلو تاریخ ترشا پرې ایښی ، چې د پارلمان رسوا کوونکي جنګونه اونارنجي انقلابونه یې مثالونه دي . د تیر میلادي کال په نومبر کې دیوکراین روس پلوه ولس مشرویکتوریانوکوویچ له اروپایي اتحادیې سره دیوې اقتصادي موافقې له امضاء څخه انکار وکړ ، چې دې اقدام یې غرب پلوه مخالفین راوپارول ، امریکا او د جرمني ، پولینډ او فرانسې غوندې ملګرو یې د پاریدلو مظاهره چیانو مخامخ ننګه وکړه ، تشجیع یې کړل تردې چې مظاهره په عمومي پاڅون واوښته .

په تیرو څو میاشتو کې چې دیوکراین په مرکز کیف کې مظاهرې روانې وې ، حکومت یې په وړاندې له خورا تاریخي حوصلې څخه کار واخیست دمظاهرو په لومړیو ورځو کې مظاهره کوونکي په حکومتي ودانیو وروختل ، عامه تاسیساتو ته یې اور واچاوو خو حکومت یې په وړاندې له ډیر زغم څخه کار اخیست چې یوازې یې دخپلو سرتیرو دژوند ژغورلو هڅه کوله ، په همدې مهال چې په مصر کې دامریکا تابع پوځي حکومت دسوله خوښو مظاهره کوونکوپه ځپلوبوخت وو،ټانګونه یې واټونو ته را ایستلي وو او په زرګونو مصریان یې ووژل امریکا او لویدیځ یې په وړاندې هیڅ غبرګون ونه ښود مګر په یوکراین کې د حکومت له خوا د دفاع هڅه یې دمظاهره کوونکو په حق کې تجاوز او جنایت په دود په رسنیو کې تعبیروله چې دې دوه مخې چلند د ډیرو هغو کسانو له سترګو پردې پورته کړې چې په امریکایي منافقت نه پوهیږي.

د مظاهرو په لړکې د روان میلادي کال په ۲۱ نیټه دروس پلوه ولسمشر ویکتوریا نوکوویچ حکومت رنګ شو او نوموړی دپارلمان لخوا معزول اعلان شو ، دنوموړي دحکومت له رنګیدو وروسته دپارلمان لخوا دالکساندر مورچنیف په نامه دپارلمان یو وکیل د موقت حکومت دمشر په حیث اعلان شو ، د یوکراین نوی حکومت چې دمظاهرو په پایله کې رامنځته شوی سره له دې چې له مشروعیت څخه عاري دی خو بیا هم زیاترو لویدیځو هیوادونو په رسمیت

پیژندلی دی ، چې دې کار دروسیې اعتراض پارولی دی ، روسیې دې اقدام ته په ځواب کې په تورسمندرګی کې دیوکراین په خودمختاره سیمې کریمیې کې پوځي مداخله کړې او دهمدې سیمې دمرکز سیمفروپل هوایي ډګر یې دسمندري پوځونو په توسط اشغال کړی دی.

دیوکراین موقت غرب پلوه مشر د روسیې اقدام پوځي یرغل بللی او له امنیت شورا یې ددې یرغل د بررسي غوښتنه کړې ده ، په دې لړ کې په مرکز کیف کې روس پلوه معترضین هم کوځو ته راوتلي او دپارلمان له ودانۍ سره یې احتجاج پیل کړی دی ، دامریکا دبهرنیو چارو وزارت ویلي دي چې په یوکراین کې د روسیې پوځي مداخله به خورا بدې او درنې پایلې ولري ، په داسې حال کې چې امریکا او نور لویدیځوال دیوکراین لوبه په خپله ګټه پای ته رسیدلي بولي ، خو روسیه لا هم مقاومت ته دوام ورکوي او غواړي له خپل نفوذ ځخه په استفاده په دې هیواد کې خپل دپښې ځای وساتي.

داچې د یوکراین دنفوس یوه برخه دروسیې پلویان او یوه برخه یې له لویدیځ سره اړیکي غواړي داسې قوي احتمال شته چې په دې هیواد کې به د متبوعو زبرځواکونو په تونګ بحران نور هم وغځیږي او یابه د اروپا دا ستر هیواد تجزیه شي.

د راتلونکي دقیق اټکل نه شي کیدلای ، خو په ټوله کې دیاد هیواد پیښې نړۍ ته یوځل بیا داستعماري دورې او دشلمې پیړۍ دسړې جګړې دمهال وضعیت وریادوي ، چې لویو استثمارګرو طاقتونو دخپلو ګټو لپاره کمزورې اولسونه دجګړو او تشنج په اور کې رانغاړل او په خړو اوبو کې یې ځان ته کبان نیول.

روان وضعیت ښیي چې په یوکراین کې د جابرو زبرځواکونو دمداخلې او اشمار له امله د بحران کټوی باندې شوې ، څو ورځې وروسته به ملګري ملتونه ورته داخضر ابراهیمي غوندې یواستازی وټاکي، او داستان به پیل شي ، دامنیت شورا به دا کټوی تر هغو لړي ترڅو دلویدیځ لپاره دهغوی له خوښې سره سم خوراک تړي تیار کړي ، په دې جریان کې به وینې دیوکراین دخلکو تویېږي او ګټې ته به یې یوازې سترو استثمارګرو خولې نیولې وي ، همدا دننۍ متمدنې نړۍ منطق دی ، چې ځینوته دتمدن اوج ښکاري ، مګر ښایي داسې ګلګمیري په ځنګلونو کې هم تراوسه نه وي دود شوي.

د طالبانو د ارشاد، جلب او جذب کمیسیون

د فبروري میاشتنی راپور

دروان (۲۰۱۴م) کال د فبروري په میاشت کي هم د تېرو میاشتو په شان د اسلامي امارت د دعوت، ارشاد، جلب او جذب کمیسیون په هڅو او د ځایي مجاهدینو په ملاتړ د افغانستان په مختلفو ولایاتو کي ۲۰۲ تنه چې د کابل اداري اړوند بیلابیلو ارګانونو کي په کار بوخت وو دحقایقو په درک کولو د دغه فاسد او ګوډاګي رژیم څخه راووتل او د اسلامي امارت د مجاهدینو سره یو ځای شول.

ګرانو لوستونکو همداهم د تسلیم شوو کسانو تفصیلي میاشتني ارقام :

۱ پکتیکا ۵ تنه عسکر

۲ کندز ۵ تنه عسکر،

۳ تګرهار ۳۹ تنه عسکر،

۴ پکتیا ۴ تنه عسکر.

۵ لوګر: ۲ تنه عسکر،

۶ کاپیسا: ۲۵ عسکر ۲۵ میله وسله.

۷ بلخ ۱۳ عسکر.

سرپل: ۳۴ تنه عسکر

ارزګان: ۱۳ تنه عسکر

فاریاب: ۲۲ تنه عسکر

هرات: ۱۰ تنه عسکر

کندهار: ۳ تنه عسکر

هلمند:۱۸تنه عسکر

غزني:۷تنه عسکر

اوزابلولایت کي ۱تن عسکرد اسلامي امارت له مجاهدینوسره یوځای شو.

داسلامي امارت داتلومجاهدینوسره یوځای شووبادرکه هیوادوالو مختلفه النوع لویي اووړي وسلي ،مخابرې ،وسایط اویوزیات شمېرمهمات مجاهدینوته وسپارل

دکابل دمنفورررژیم څخه راجلاشووا و داسلامي امارت له مجاهدینوسره یوځای شووهیوادوالو وعده وکړه ،چي نوریه دخپل ددین اووطن دخارجي اوداخلي مزدورانوسره هیڅ رازتعلق نه ساتي ،دخپل مظلوم ولس اومجاهدینوورونوسره به همکاري کوي ،ترڅولوی خدای جل جلاله ژرترژره زموږله ویاړلې خاوري څخه دکفر،فسق ،،اشغال،فحشاء اوګمراهیو کرغیړن تغرتول کړي اودمسلمانانو دخوښي یوسوچه اسلامي واکمنې رامنځته کړي چي دټول افغانان پرې راټول شي.

داسلامي امارت ددعوت ،ارشاد ،جلب اوجذب کمیسیون مشرتابه دوی ته هرکلی ووایه ،انعامونه اوجایزې یې ورکړې اوددوی همدانیک اقدام یې ډیروستایه چي دیرغلګروا ولاسپوڅي رژیم څخه یې راووتل اودافغانستان اسلامي امارت دمجاهدینوسره یې خپل پیوستون اعلان کړ.

دافغانستان اسلامي امارت دګران هیوادځخه دوحشي یرغلګرودشړلو اود اسلامي اوملي نظام درامنځته کولوپه موخه دران سپېځلی مقاومت په لړکي دنظامي فعالیت ترڅنګ سیاسي ،فرهنګي ،تعلیمي اودعوتي هڅې هم ګړندی کړي دي داسلامي امارت غښتلي مجاهدین دپراخوپوڅي لاسته راوړنوځخه علاوه هره میاشت دهیوادپه بیلابیلوولایتونواوولسوالیوکي ددعوت اوارشادکمیسیون په هڅولکه پورته چي ذکرشول دکابل اداري څخه په سلهاووتنه کارمندان راوزي اوداسلامي امارت غیرې ته پناراوړي.

دعوت اوارشادکمیسیون

شهيد ي قافلي

شهيد انجينير عين الله جابر

شهيدانجينير (عين الله جابر) دغلام حضرت زوى په كال(۱۳۶۷هـ ش) دميدان ورد كولايت دجغتوپه ولسوالي كي ددولنې په كلي كي په يوه دينداره اوشهيدپاله كورني كي فاني دنياته ستر گيرا رونې كړې

اوپه كال(۱۳۷۱هـ ش) كي يې له خپل ورور سره د سيدآبادپه ولسوالي كي دعبدالمحي الدين په مدرسه كي ديني زده كړې پيل اوپه ۱۳۷۳هـ ش) گيبيا له دې ځايه دغازي محمدجان خان ليسې ته ولاړ، همالته يې په ليسه كي عصري زده كړو ته دوام ور كړ. ابتدائي اوثانوي تعليمات يې په يادە ليسه گيترسره كړل اود كانكور له امتحان وروسته دكابل پوهنتون دانجينيري پوهنځي ته كامياب شو. يو كال يې دپوهنتون زده كړې هم وكړې چې وروسته يې زده كړې نيمې نيمگوري پريښودې او دجهادسپيځلي صف ته راغې. چې ترځو كلونوپورې يې ديوه كشر مجاهدپه صفت كار كاوو. وروسته د نوموړي د ژباني دلاوري اوشجاعت له املـه د اسلامي امارت مسؤلينو ديوه گروپ مسؤليت ور وسپارلو.

شهيد انجينير جابر د صليبي يرغلگرو او د هغوي د گوداگيانو په وراندي د شهادت تر ورځې په پوره ميرانه او متانت خپله سپيځلي مبارزه ژوندي وساتله ، ډيرى امريكايي ټانگونه يې په ماينونووالوزول، همدارازيې ددولښد كليپه ستره غزا كي گډ شمير امريكايي يرغلگر ددوزخ كندې ته وغورزول چې دجغتوولسوالي د مسؤلينو اود اسلامي امارت دكميسيون له خواور ته غټه جايزه هم ور كړل سوه.

په يوه بله پيښه كې يې دچوپان په كلي كي دخپل ملگري شهيد كريمدادپه ملتيا، شپږ تنه امريكايان قتل اويوزغروال ټانگ په راكټ وويشت او په بشپړه توگه يې له مينځه يووړ. چيبالاخره د تير ثور په پنځمه نيټه دمردلي په كلي كي دگوداگي اداري داجيري اردو له عسكرو سره په يوه مخامخ جگړه كې په داسي ورځ په شه دشهادت لور مقام ته ورسيد، چې په كور كې يې د كوژدن خبره روانه وه.

روح دي يې بناداويادديبي تل وي
انالله وانااليه راجعون

پرمېنه يې يوازي مور او پلار او د سرسپارلو مجاهدينو يوه غټه دلګي پاتي شوه

شهيدډاکټر (محمدشفيق) مصعب

شهيدډاکټر (محمدشفيق-مصعب) دحاجي صاحب غلام حسن زوي په کال(۱۳۷۱هـ ش) کي دميدان ورډګ ولايت دجغتوولسوالۍ دسرخ کول په کلي کي په يوه ديندارہ اومجاهدپروره کورني کي زيږيدلی دی.

په کال(۱۳۷۵هش) کيبي دګنډ کول دګوربت په عالي ليسه کي زده کړپيل کړي، ابتدائي اوثانوي تعليمات يې په يادہ ليسه کي ترسره کړل، دکانکور له امتحان وروسته دخپلې پوهې او ځير کتيالـه مخې دجلال آبادپوهنتون دطب پوهنځي ته په لوړه درجه کامياب شو، دوه کاله يېپه پوهنتون کي هم درسونه وويل، خولـه دې سره سره بـه يې د صليبي وحشي درنده ګانوپـه ضديوه لحظـه هم چوپتيـاو پـه آرامـه کښينستانه خوښوله ، ددې دوو کلونوپه موده کيچي به کله هم د پوهنتون درخصتي شپې ورځې وې؛ نو شـهيد مصـعب بـه لـه خپلومجاهدوملګروسـره پـه مورچل کي سبا کولې، دښاغلي محمدشفيق جهادي هڅې نه تنهاپه جغتو ولسوالۍ کي منحصرې وې بلکي دسيدآباداودغزني په ولايت کيبي هم په بې پرې ډول د صليبي يرغلګرو او د هغوي د ګوډاګيانو پـه وړاندي خپلـه مبـارزه د سيمېزو مجاهـدينو پـه ملتيـاروانـه ساتله.

(شـهيد ډاکټـر محمدشـفيق) او (شـهيد انجينير محمدقاعـد) ديـوې لاري لارويـان او ديـوه پوهنتون زده کوونکي وو. نومورېو يوځل د غزيبنار دګنج په سيمه کيد يوه کمين په ترڅ کي تقريبا لس پولنډيان ددوزخ کنډې ته وغورزول، همدارازبـه يې دجغتوپـه ولسوالۍ کي پرصـليبي وحشي يرغلګرو دهاوان توغندوييز بريدونه اونورډيرچريکي عمليات ترسره کول چې ګڼ شمير صليبي يرغلګر او د هغوي مزدوران يې دبريدونو په ترڅ کي له مينځه ولاړل.

دنومـوړي د شـهامت او غزاګـانو قيصـې بيخـي ډيري دي چې دامو يې د نمونې په ډول يادي کړې.

تر شهادتيوه شپه مخکي نومورې دسلطانخيلوپر قرارګاه او د اجيـرو عسـکرو پـه يـوه امنيتي پوسـته دهشـتاد دو اوهـاوان سـخت بريـد ترسـره کـړ ، ډيـر زيات مالياوځاني تلفات يې ورواړول ، په دې دوهمه ورځ يعني تير کال د سرطان په پنځمه (۵)نيټه پـه داسي حال کي چې دامريکايي ځواکونو کمين تـه ور روان وو، تر رسيدومخکي پـه لاره کـي دهريرجيټ الوتکو پـه بمبار کيپـه شهادت ورسيد. روح يې دي بناداويادديبي تل وي انالله وانااليه راجعون

شهيد تنکي ځوان ډاکتر محمد شفيق تر شامور، پلار او د خپلو خورو سر تيرو ملګرو ډله پربښوده

نحسبه کذلک والله حسيبه

اثل او قهرمان

شهيد(انجينير محمدقاعد- ابودوجانه)

شهیدانجینیر (محمدقاعد،ابودوجانه) تقبله الله، په کال(۱۳۷۲هـ ش)دمیدان وردګوولایت دجغتوولسوالۍ دلعلکي په کلي کي په یوه دینداره اوله اقتصادي پلوهمتوسطه کورنۍ کي دې فاني دنیاته سترګې وغړولې اوپه کال(۱۳۷۶هـ ش) یي دمسجددملاامام اودخپل پلار انجینیر صاحب محمدګل څخه زده کړې پیل اوبالآخره یي په (۱۳۷۷هـ ش) کال دګنډکول دګوربت په لیسه کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ. وروسته دغزني ولایت شمس العارفین عالي لیسې ته ولاړاوثانوي زده کړې یې په یاده لیسه کې ترسره کړې، داچي نوموړي ته الله تعالی ښه لوړ استعداد ورکړی و. دکانکور له ازموینې وروسته په ډیرولوړونمرودکابل پوهنتون دانجینري پوهنځۍ ته کامیاب اویو کال یې دپوهنتون زده کړې هم وکړې.

شهید (انجینرمحمدقاعد-ابودوجانه-) ډیر مؤدب، دینداره اودښواخلاقوڅښتن و، چي دهرملګری په زړه کي یي ځانتهخاص ځاي پیداکړی و.

داچي پر هیواد صلیبي یرغل هیڅ یوه هیوادوال ته دزغملو نه دی، په ځانګړي ډول د داسي بادرکه انسانانو لپاره خوتر مرګ هم دروند قیمت لري؛ نو له ځان سره یي کلک عهدوکړ، چي دنیوي امور به ټول شاته غورځوم او داسلامي امارت دفدایانوپه ټولۍ کیبه شاملیږم، هغه وو چي له نظامیدرسونو وروسته داسلامي امارت دمسئولینوله خوادپکتیاولایت دزرمت په ولسوالۍ کي دترتیب شوي پلان لپاره دفدایانوپه ټولۍ کۍ انتخاب شو.

داچیهغه مهال لمړۍ ټولۍ فدایانوعملیات ترسره کړل اودوهمې ټولۍ ته د اسلامي امارت دمسئول له خواد بیر ته په شاتګ امروسو. نوموړی ابودجانه هم په همدې دوهمه ډله کي وو. چیژوندی پاتي سو.

شهید محمدقاعد په نظامي امورو کي ډیر زړور او دکار سړی وو، ځکه یي نو د ملګرو په مشوره د فدایي حملې پرځای د دښمن په وړاندي نورو نظامي عملیاتو ته مخه کړه. نوموړي یوځل د غزنیښار دګنج په سیمه کي دخپل ملګري(شهید ډاکټر محمدشفیق) په ملګرتیا دیوه کمین په ترڅ کي تقریبا لس پولنډیان ددوزخ کندې ته وغورزول، تیر کال ییبیا دجغتوپه ولسوالۍ کي پر امریکایانودهاوان توغندوییز بریدونه اونورډیرچریکی عملیات ترسره کړل چي ګڼ شمیر صلیبي یرغلګر او دهغوي مزدوران یي له مینځه یووړل، د نوموړي د شهامت او غزاګانو قیصې بیخي ډیري دي چي دامویي د نمونې په ډول یادي کړې.

بالاخره په کال(۱۳۹۲هـ ش)داولې میاشتې په لسم تاریخ، غزني ولایت ته څیرمه د اسفندي په سیمه کي د صلیبي وحشي یرغلګرو او ګوډاګیانو له لوري د ګډوعملیاتو په ترڅ کي په مخامخ کمین کي چي ډیرمرتدین اووحشي یرغلګر په کي له مینځه ولاړل، د هوایي بریدله کبله دشهادت لوړمقام ته ورسید، روح دي یي ښاداویاددییي تل وي. انالله وانااليه راجعون

جنګي جنایتونه

(نبروري)

سید سعید

دفراه ولایت دفراه رود ولسوالی اړوند د کاروانکاه په سیمه کې ددښمن په اکمالاتي کاروان پراخ وسلوال برید ترسره شو. په برید کې ۲ تنه کاروان ساتونکي عسکر مړه او ۴ نور سخت ژوبل شول. په دې سربېره ددښمن درې عرادي رېنجر موټر او دوه اکمالاتي بانکر تخریب شول. په پېښه کې دوه مجاهدین زخمیان اوبیا مجاهد دشهادت لور مقام ته ورسید. انا لله وانا الیه راجعون ۲۰۱۴/۲/۲۰

دبکواولسوالی ودانی په هاوان وویشتل شو

دفراه ولایت دبکوا ولسوالی په ودانی دهاوان برید ترسره شو. دبرید په مهال دهاوان ۵ مرمی دولسوالی په انګړ کې لګیدلي چې له املې پې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۴/۲/۲۱

بکواکې ۳ تنه اختطاف کونکي په خپله سزاورسول شول

دفراه ولایت د بکوا ولسوالی په مربوطاتو کې درې تنه انسان تښتونکي (نعیم، جانان اوحاجي ګل) دمجاهدینو له لوري ونیول شول او دشرعي محکمې له پوره تحقیق وروسته په خپله سزاورسول شول. ۲۰۱۴/۲/۲۳

گلستان کې په پوسته برید یو عسکر قتل شو

دفراه ولایت د گلستان ولسوالی بازار ته نژدې داجیر دښمن په پوسته وسلوال برید ترسره شو چې په مهال پې یو عسکر ووژل شو. ۲۰۱۴/۲/۲۴

بالابلوک کې ۵عسکر قتل ۶ نور ژوبل شول

دفراه ولایت د بالابلوک ولسوالی اړوند د کرانې په سیمه کې دجاسوسي شبکې غړو دیوه مازدا موټر نه په استفاده په یوه تن مجاهد چاپه ووهله چې د نومورې مجاهدله سخت مقاومت سره مخ شول وروسته سیمې ته نور عسکر او مجاهدین راورسیدل اونښته پراخه شوه. په جګړه کې پنځه تنه عسکر مړه اوشپږ تنه نور سخت ژوبل شول. دجګړې په جریان کې نومورې مجاهد چې دښمن وربانډي چاپه وهلې وه زخمي شو. ۲۰۱۴/۲/۲۶

بکواکې یو پولیس په درازکوف وویشتل شو

دفراه ولایت د بکواولسوالی اړوند دمستري عیسی پمپ سره یو تن عسکر دمجاهدینو له لوري ددرازکوف په توسط وویشتل شو اوځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۴/۲/۲۶

گلستان کې یو غل قتل بل ژوندی ونیول شو

دفراه ولایت د گلستان ولسوالی اړوند دلارام ته پرغځېدلې لاره مجاهدینو په غلو وسلوال برید ترسره کړ

.دبرید په نتیجه کې یوغل اخدایداد اووژل شو اوبوبل غل اعبدالباقي اژوندی ونیول شو. ۲۰۱۴/۲/۲۶

دایکندی

کجران کې ماین ۲عسکروویژل

ددایکندي ولایت دکجران ولسوالی اړوندد بلادشت په سیمه کې دپولیسو په پلي ګزمه دماین چاودنه وشوه چې له املې یې دوه تنه پولیس ووژل شول. ۲۰۱۴-۰۲-۰۲

ګیزاب کې ددښمن ۲پوستې تربریدلاندې راغلې

ددایکندي ولایت دګیزاب ولسوالی اړوند دخلج په سیمه کې داجیر قومندان اسدالله خان په ۲ پوستو پراخ وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې دښمن ته تلفات واوښتل خو دقیقه شمیره نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۴/۲/۲۵

ګیزاب کې ددښمن ۲پوستې تربریدلاندې راغلې

ددایکندي ولایت دګیزاب ولسوالی اړوند دخلج په سیمه کې داجیر قومندان اسدالله خان په ۲ پوستو پراخ وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې دښمن ته تلفات واوښتل خو دقیقه شمیره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۴/۲/۲۵

داجرستان ولسوالی، پهودانی، پراخ بریدوشو

ددایکندي ولایت داجرستان ولسوالی کې په مرکز پراخ وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې دښمن ته درانه ځاني اومالي تلفات واوښتل خودقیقه شمیره یې نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱۴/۲/۲۸

کابل

سروبي کې په پوسته بریدترسره شو

د کابل ولایت د سروي ولسوالی په اوزبین سیمه کې بیس ته نژدې د دښمن په پوسته وسلوال بریدترسره شو، د بریدله امله دبیس ودانی تخریب شوه خود مرګ ژوبلې په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۴-۰۲-۰۱

سروبي کې دبیس په دفاعي پوسته بریدشو

د کابل ولایت د سروبي ولسوالی په اوزبین سیمه کې د بیس په دفاعي پوسته بریدترسره شو، د بریدله امله دښمن ته تلفات اوښتي خو د اوښتو تلفاتو په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۴-۰۲-۱۱

کابل بنار کې ۲رینجر موټر په ماینونو والوزول شول

د کابل بنار اړوند د ۱مې ناحیې اړوند په ګل باغ سیمه کې داجیري اردو ۲ رینجر موټر په چسپکي ماینونو والوزول شول، په چاودنو کې موټر تخریب شول خو دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلې په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۴-۰۲-۱۹

په ډاکټر عبدالله مرګونې بریدوشو ۳ ساتونکي یې قتل ګڼ ټپیان شول

د کابل ولایت د سروبي ولسوالی په شیرخاني سیمه کې د ډاکټر عبدالله عبدالله د انتخاباتي کمپاین په قطار وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې د عبدالله ۳ ساتونکي مړه او ګڼ ژوبل شول، په نښته کې ۲ عرادې رینجر موټر هم وبجار شول. ۲۰۱۴-۰۲-۱۹

په سروبي ولسوالی فدایي بریدونو ۳۷ عسکر قتل او ۸ عرادې موټرو وبجارکړل

د کابل ولایت د سروبي ولسوالی په ودانی او امنیه قومنداني ګڼ شمیر فدایي بریدونه ترسره شول، بریدد ملا محمدفاروق (ذاکر) له خواډیو موټر بم په وسیله پیل شو چې له املې یې د امنیي قومنداني ګډ نظام قراول، د تلاشۍ پوسته او د خوب خوني مکمل وبجارې شوي او دوو تنو فدایانو (حافظ عبیدالله او حافظ دین محمد) ته د

نو تلو لاره خلاصه شوه. د کره معلوماتو په اساس د لومړني انفجار له امله په نظام قراول او پیره دار خانو کې میشت ۲۰ پولیس قتل اوبو شمیر نور مرګوني ټپیان شول اود وروستۍ مخامخ جګړې په نتیجه کې هم د دښمن د مختلفو ارګانونو ۱۷ تنه عسکر. پولیس او استخباراتي کسان قتل او ۱۲ تنه ټپیان شول. له دې علاوه د دښمن ګڼ شمیر نظامي وسائط (۲ ریښجر، ۶ نظامي موټر) او تاسیسات تر ډیره وبجار کړل شول. ۲۱-۰۲-۲۰۱۴

سروبي کې په ټانک چاودني ۳ عسکر ووژل

د کابل ولایت د سروبي ولسوالي په بندبرق شکي سیمه کې د اجیري اردو یې زغروال ټانک په ماین والوزول شو. په چاودنه کې ټانک وبجار او پکې ناست عسکر ۶ تنه ووژل شول. ۰۴-۰۲-۲۰۱۴

قره باغ کې ۱ اربکی ووژل شو او وسله یې غنیمت شوه

د غزني ولایت د قره باغ ولسوالي په خالو خپلو سیمه کې په اربکیانو وسلوال برید تر سره شو. په برید کې یو اربکی ووژل شو. ۱ میل پیکا او ۱ کلاشنکوف له تجهیزاتو سره غنیمت شول. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

ګیلان کې ۵ عسکر وته مرګ ژوبله او وښته

د غزني ولایت د ګیلان ولسوالي په بلاهیر، چمبرانو او فردل کلیو کې د دښمن په عسکرو وسلوال برید تر سره شو. دبرید په مهال ۲ عسکر ووژل شول او ۴ نور مرګوني ټپیان شول. له جګړې وروسته د دښمن عسکرو له سیمې نه د تښتې په حال کې ۶ تنه کلیوال له خان سره یووړل. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

د غزني په بهار کې ماین د ۲ پولیسو ژوند واخیست

د غزني ولایت د ولایت مقام ته نژدې دماین چاودني ۲ تنه پولیس مړه او ۴ نور مرګوني ټپیان کړل. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

شاګر کې په خپلمنځي ټښته کې یو پولیس ووژل شو

د کابل ولایت دموسهي ولسوالي په عبدالرؤف کلا سیمه کې د ښخ کړل شوي ماین چاودني اربکي قومندان رؤف او د نومورې یو شپږ ساتونکي سخت پټیان کړل.

۲۳-۰۲-۲۰۱۴

غزنی

ده یک کې په ټانک چاودني ۶ عسکر ووژل

دغزني ولایت د ده یک ولسوالي د شاخوڑو په سیمه کې د اجیري اردو په زغروال ټانک درنه چاودنه وشوه. په چاودنه کې ټانک وبجار او پکې ناست عسکر ۶ تنه ووژل شول. ۰۴-۰۲-۲۰۱۴

قره باغ کې ۱ اربکی ووژل شو او وسله یې غنیمت شوه

د غزني ولایت د قره باغ ولسوالي په خالو خپلو سیمه کې په اربکیانو وسلوال برید تر سره شو. په برید کې یو اربکی ووژل شو. ۱ میل پیکا او ۱ کلاشنکوف له تجهیزاتو سره غنیمت شول. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

ګیلان کې ۵ عسکر وته مرګ ژوبله او وښته

د غزني ولایت د ګیلان ولسوالي په بلاهیر، چمبرانو او فردل کلیو کې د دښمن په عسکرو وسلوال برید تر سره شو. دبرید په مهال ۲ عسکر ووژل شول او ۴ نور مرګوني ټپیان شول. له جګړې وروسته د دښمن عسکرو له سیمې نه د تښتې په حال کې ۶ تنه کلیوال له خان سره یووړل. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

د غزني په بهار کې ماین د ۲ پولیسو ژوند واخیست

د غزني ولایت د ولایت مقام ته نژدې دماین چاودني ۲ تنه پولیس مړه او ۴ نور مرګوني ټپیان کړل. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

شاګر کې په خپلمنځي ټښته کې یو پولیس ووژل شو

د غزني ولايت دشلګر ولسوالي په مرکز کې د پوليسو ترمنځ نښته وشوه. دنښتې په جريان کې يو پوليس ووژل شو او ګڼ نور پوليس ټپيان شول. ۰۹-۰۲-۲۰۱۴

مقر کې په اربکيانو بريدوشو

دغزني ولايت د مقر ولسوالي په لرمه سيمه کې د اجيري اردو او اربکيانو په ګډه ګزمه وسلوال برید ترسره شو. په برید کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره يې نه ده څرګنده شوې. کله چې د دښمن عسکر له سيمې نه تښتېدل ۲ تنه کليوال يې ونيول او له ځان سره يې يورل. ۱۰-۰۲-۲۰۱۴

شلګر کې ۷ عسکر قتل ګڼ نور ژوبل شول

دغزني ولايت د شلګر ولسوالي اړوند دنظر خان په سيمه کې له ګڼ شمير سپيشل فورس اواجيري اردوله عسکر وسره سخته جګړه وشوه. په جګړه کې ددښمن ۷ تنه عسکر مړه اوګڼ شمير نور سخت ژوبل شول. دجګړې په مهال يو تن مجاهد شهيداويو بل سرسر کې زخمي شو. وروسته دښمن درې تنه کليوال له ځان سره دبنديانو په توګه بوتلل ۲۰۱۴/۲/۱۳

شلګر کې په امنيتي پوستو وسلوال برید ونه ترسره شو

دغزني ولايت د شلګر ولسوالي اړوند دسيني اوچهار ديوال په سيمو کې داجيري اردو په امنيتي پوستو وسلوال بريدونه ترسره شول. دبريدونو په ترڅ کې دښمن ته تلفات واوښتل خودقيقه شميره يې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۴/۲/۱۳

واغظ کې دير غلګرو دبمبار له امله ۱ کليوال شهيدشو

د غزني ولايت د واغظ ولسوالي په شمشير ګودلو سيمه کې د اشغالګرو عسکرو بې پيلوټه الوتکې بمبار و کړچې له امله يې تن کليوال علي محمد د ډاکټر ګل محمد زوی په شهادت ورسېدا وله دې پرته خلکو ته مالي زيان واوښت. ۱۵-۰۲-۲۰۱۴

شلګر کې ۱ موټر تخريب او ۴ عسکر ووژل شول

دغزني ولايت د شلګر ولسوالي په نانې سيمه کې د اجيري اردو او اربکيانو په ګډه ګزمه وسلوال برید ترسره شو. په برید کې ۴ عسکر مړه اوبل سخت ژوبل شو. په دې سربېره يو رېنجر موټر پوره تخريب شو. ۱۷-۰۲-۲۰۱۴

په شلګر کې په ګزمه او پوسته برید ونه شول

دغزني ولايت د شلګر ولسوالي په زرين سيمه کې د اجيري اردو او اربکيانو په ګډه ګزمه وسلوال برید ترسره شو چې په مهال يې ۱ عسکر او ۱ اربکي ووژل شول او يو عراده رېنجر موټر تخريب شو. وروسته په پرتو سيمه کې د اجيري اردو په پوسته برید ترسره شو چې په ترڅ کې يې دښمن ته درانه مالي او ځاني تلفات واوښتل. ۱۹-۰۲-۲۰۱۴

مقر کې ۲ اربکيان مجاهدينو سره يو ځای شول

د غزني ولايت په مقر ولسوالي کې ۲ اربکيان (کريم الله او ګل حبيب) د جلب او جذب کميسيون د دعوت په نتيجه کې له مجاهدينو سره يو ځای شول، دوئ دواړو په چارقلعه سيمه کې د اربکيانو په پوسته کې دندې ترسره کولې. ۲۰-۰۲-۲۰۱۴

شلګر کې ۵ عسکر ته مرګ ژوبله واوښته

د غزني ولايت دشلګر ولسوالي په کابلو سيمه کې د اشغالګرو عسکرو په ګزمه وسلوال برید ترسره شو. د برید له امله ۲ عسکر و خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۴ نور مرګوني ټپيان شول. ۲۰-۰۲-۲۰۱۴

شلګر کې اربکي له وسلې سره مجاهدينو سره يو ځای شو

د غزني ولایت په شلگر ولسوالی کې یو تن اربکی چې نصیراحمد نومېږي په ګندهیر کلي کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. نومورې یوه پیکا او یو کلاشنکوف له تجهیزاتو سره مجاهدینو ته تسلیم کړل. ۲۱-۰۲-۲۰۱۴

شلگر کې په پوسته برید، ۸ عسکر ووژل شول

د غزني ولایت دشلگر ولسوالی په طلا سیمه کې د اجیري اردو په پوسته برید ترسره شو. په برید کې ۸ عسکر وخپل ژوند له لاسه ورکړ او ۴ نور مرګوني ټپیان شول. په جګړه کې یو مجاهد د شهادت لور مقام ته ورسید. ۲۳-۰۲-۲۰۱۴

په شلگر کې ۲ موټر او ۱ ټانک په ماینونو والوزول شول

د غزني ولایت د شلگر ولسوالی په نوغه سیمه کې د پولیسو ېنجر موټر او دغه راز په زرین سیمه کې یو ټانک او ېنجر په ماینونو والوزول شول. په عیني وخت کې په قرباغي سیمه کې په اصطلاح د امنیت په پولیسو برید هم ترسره شو. په پېښو کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله اومالي تلفات واوښتل خوپه هکله یې شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۲۳-۰۲-۲۰۱۴

د غزني د مخابراتو امیر ووژل شو

د غزني ولایت د مرکز اړوند په خواجه احمد سیمه کې د مخابراتو امیر نجیب د چریکي برید په مهال ووژل شو. ۲۳-۰۲-۲۰۱۴

شلگر، په برید کې یو اربکی ووژل شو

د غزني ولایت دشلگر ولسوالی په شیله سیمه کې د اربکیانو او اجیري اردو په ګزمه برید ترسره شو، په برید کې یو اربکی چې اختر نومېده او د عبدالله کلا اوسېدونکی وو، ووژل شو او ګڼ نور ټپیان شول. ۲۴-۰۲-۲۰۱۴

په شلگر کې ۳ امریکایي عسکر ووژل شول

د غزني ولایت دشلگر ولسوالی په زرین سیمه کې د امریکایي عسکرو ګزمه تر وسلوال برید لاندې راغله، په برید کې ۲ تنه امریکایي عسکر مړه او ګڼ نور عسکر ټپیان شول، د برید په لړ کې سیمې ته جیټ الوتکې راغلې او درنه بمباري یې وکړه خو لله الحمد چاته پکې زیان نه واوښت. ۲۴-۰۲-۲۰۱۴

شلگر، جلاریدونو کې ۵ عسکر ووژل

د غزني ولایت د شلگر ولسوالی د نانې په سیمه کې د اجیري اردو په ګزمه برید وشو چې په مهال یې ۲ عسکر ووژل شول او ګڼ نور ټپیان شول. دغه راپه بسانه سیمه کې د اجیري اردو او سپیشل فورس عسکرو ګډه ګزمه د مجاهدینو په کمین کېوتله او تر سخت برید لاندې راغله ،د برید په مهال ۴ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۲ نور مرګوني ټپیان شول، د جګړې په پای کې د دښمن الوتکو په سیمه درنه بمباري وکړه چې له املې یې د عامو خلکو باغونو ته زیان واوښت او چاته پکې مرګ ژوبله نه واوښته. ۲۵-۰۲-۲۰۱۴

شلگر کې د دښمن په ګزمه برید ترسره شو

د غزني ولایت د شلگر ولسوالی د زرین کلي په اړونده سیمه کې د اجیري اردو او اربکیانو په ګزمه برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۵-۰۲-۲۰۱۴

غزني مرکزته نژدې اربکی ووژل شو

د غزني ولایت مرکز ته نژدې په علي لالا سیمه کې یو اربکی د غلچکي برید په مهال ووژل شو. ۲۶-۰۲-۲۰۱۴

شلگر کې په ټانک چاودنې ۴ عسکر ووژل

دغزني ولایت د شلګر ولسوالی مرکز ته نژدې د اجیري اردو په زغرو ال ټانک درنه چاودنه وشوه، چاودني ټانک ویجاړ او ۴ تنه عسکر ووژل. ۲۶-۰۲-۲۰۱۴

شلګر کې ماین اربکی قومندان او ۳ اربکیان ووژل

دغزني ولایت د شلګر ولسوالی په حبیب ګودلو سیمه کې د اربکیانو په موټر درنه چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانک ویجاړ، قومندان عبدالله جان له ۴ نورو اربکیانو سره ووژل شو او بل سخت ټپي شو. ۲۶-۰۲-۲۰۱۴

ګیرو کې ۳ اربکیان ووژل شول او وسله یې غنیمت شوه

دغزني ولایت دګیرو ولسوالی په شیله سیمه کې د اربکیانو په ګزمه برید تر سره شو، په برید کې ۴ اربکیان ووژل شول او ګڼ نور ټپیان شول، دبرید په ترڅ کې ۴ کلاشنکوفونه له چانټو سره غنیمت شول. ۲۷-۰۲-۲۰۱۴

میدان وردک

جلګه کې ۲ عسکر ووژل شول

د میدان وردګ ولایت د جلګه ولسوالی ودانی ته نژدې ۲ عسکر د مجاهدینو له خوا په غلچکي برید کې ووښتل شول او ځای په ځای ووژل شول. ۰۱-۰۲-۲۰۱۴

نرخ کې په پوسته برید تر سره شو

د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالی په حیات کلي کې د پولیسو پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، عیني شاهدان وایي د برید په مهال ۲ پولیس ژوبل شول. ۰۵-۰۲-۲۰۱۴

جلګه ولسوالی ودانی، تر برید لاندې راغله

د میدان وردګ ولایت د جلګه ولسوالی په ودانی د سپکو او درنو وسلو برید وشو چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل په برید کې دښمن ته داوښتو تلفاتو شمیره نه ده ترلاسه شوې. ۰۷-۰۲-۲۰۱۴

سیدآباد کې په ټانک چاودنې ۶ اشغالګر ووژل

د میدان وردګ ولایت دسیدآباد ولسوالی په حیدر خیلو سیمه کې د سپیشل فورس اشغالګرو په زغرو ال ټانک چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانک ویجاړ او ۶ تنه عسکر ووژل شول. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

سیدآباد چاودنو ۳ بهرني سپیشل فورس عسکر ووژل

د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالی په اوتړیو سیمه کې د بهرنیو سپیشل فورس عسکرو په ګزمه د چړه دار ماین دوه چاودنې وشوې، چاودنو ۲ عسکر ځای په ځای مړه او ۲ نور مرګوني ټپیان کړل. ۰۹-۰۲-۲۰۱۴

اشغالګرو په سیدآباد کې ۱ کوال بندي کړ او ۱۲ موټر سایکل یې وسوزول

د میدان وردګ ولایت په سیدآباد ولسوالی کې اشغالګرو عسکرو په بدکک کلي چاپه ووهله او په کورونو کې د بې رحمانه تلاشي په مهال یې خلکو ته زیات نقصان وراوه.

اشغالګرو ۱۲ موټر سایکلان وسوزول، یو موټر یې په بمبار کې تخریب کړ او یو موټر سایکل یې له ځان سره یووړ په دې سربیره اشغالګرو یو تن کلیوال چې ملاضیاالحق نومیده له ځان سره یووړ. ۱۲-۰۲-۲۰۱۴

سیدآباد کې بې پیلوټه الوتکې دوه کلیوال شهیدان کړل

دوردګو ولایت دسیدآباد ولسوالی اړوند دتنګي درې په سیمه کې دیرغلګرو بې پیلوټه الوتکې دوه تنه کلیوال هریو عزیز احمد او حاجي صبغت الله په نښه کړل اودشهادت لورمقام ته ورسیدل. انالله وانالیه راجعون. ۲۰۱۴/۲/۱۳

اشغالګرو په سیدآباد کې دعامو خلکو موټر سایکل سوزولي

اشغالګرو د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ سلطان خېل او چاردهي کلیوته په ګزمه راغلل او د عامو خلکو موټر سایکل یې وسوزول. ۱۶-۰۲-۲۰۱۴

نرخ کې چاودنې ۵ اربکیان ووژل

دمیدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په اعتبار خېلو سیمه کې د اربکیانو په مرکز کې د ننه د چاودنې له امله ۵ تنه اربکیان مړه او دمرکز ودانۍ ته زیان واوښت. ۱۶-۰۲-۲۰۱۴

نرخ کې د اربکیانو په مرکز برید. ګڼ مهمات غنیمت شول

دمیدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په دادل سیمه کې د اربکیانو په مرکز وسلوال برید ترسره شو. دبریدپه ترڅ کې اربکیان له خپل مرکز نه په تښتنه بریالي شول او مجاهدینو په مرکز کې د دهشکې ۹۰ او د پیکا ۵۰۰ مرمۍ او دغه راز ګڼ نور مهمات غنیمت کړل. ۱۸-۰۲-۲۰۱۴

میدان وردګ: نرخ کې ماین ۲ اربکیان ووژل

د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په صدبرګ سیمه کې د اربکیانو په ګزمه چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۲ تنه اربکیان مړه او ۱ اربکی چې جاسوس هم وو سخت ټپي شو. له چاودنې وروسته د دښمن عسکرو په سیمه کې ناتار ډزې پیل کړې چې له امله یې یوه ښځه په شهادت ورسېده. انالله وانا الیه راجعون. ۲۲-۰۲-۲۰۱۴

سیدآباد کې داجیري اردو په عسکرو بریدوشو

د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د شیخ اباد په ډاګېغري سیمه کې د اجیري اردو په عسکرو برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلې کړه شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۴-۰۲-۲۰۱۴

سیدآباد کې ۲ پولیس ووژل شول او وسله یې غنیمت شوه

د میدان وردګ ولایت په سیدآباد ولسوالۍ کې د غلچکي برید په مهال په اصطلاح د نظم عامه ۲ تنه پولیس مړه او یو ټپي شو. مجاهدینو د پولیسو وسلې له تجهیزاتو سره د غنیمت په توګه له ځان سره یووړې. په جګړه کې یو مجاهد د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. انالله وانا الیه راجعون. ۲۷-۰۲-۲۰۱۴

لوګر

لوګر مرکزته خبره مه ۲ ټانکر تخریب شول

د لوګر ولایت پل علم ته نژدې په خدر سیمه کې د اشغالګرو په اکمالاتي کاروان د سپکو او درنو وسلو برید وشو چې په ترڅ کې یې ۲ ټانکر موټر وویشتل شول او پوره تخریب شو. ۰۱-۰۲-۲۰۱۴

لوګر مرکزته خبره مه کمپاین باندې میزایل وار شول

د لوګر ولایت مرکز پل علم ته نژدې په خدر سیمه کې د دښمن په کمپاین میزایل وتوغول شول او په ټاکلي هدف ولګېدل. د برید له امله دښمن ته د اوښتو تلفاتو په هکله شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۱-۰۲-۲۰۱۴

لوګر مرکزته خبره مه ماین د ۲ اربکیانو ژوند واخیست

د لوګر ولایت پل علم ته نژدې په متنو سیمه کې د اربکیانو په پلي ګزمه دماین چاودنه وشوه. چاودنې ۲ اربکیان مړه او ۴ نور اربکیان سخت ټپیان کړل. ۰۲-۰۲-۲۰۱۴

لوګر مرکزته نژدې ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله او اوښته

د لوګر ولایت پل علم ته نژدې په پادخواب سیمه کې داجیري اردو له عسکرو سره نښته وشوه. دنښتې په مهال ۱ عسکر خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۲ ژوبل شول. ۰۳-۰۲-۲۰۱۴

لوګر مرکزته خپره ده جاسوسي اداري ۵ کارمندان مړه او ژوبل شول

دلوګر ولایت پل علم ته نژدې په عیسی خېلو سیمه کې په اصطلاح د ملي امنیت له کارمندانو سره د نښتي په ترڅ کې ۲ تنه استخباراتي کارمندان ووژل شول او ۳ سخت ژوبل شول. ۰۴-۰۲-۲۰۱۴

د لوګر په څرخ کې له دښمن سره نښته وشوه

د لوګر ولایت د څرخ ولسوالي په ډبرو سیمه کې د اجیري ارد و له عسکرو او پولیسو سره نښته وشوه. د نښتي په ترڅ کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شهیره یې نه ده څرګنده شوې. ۰۵-۰۲-۲۰۱۴

څرخ کې ۵ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د لوګر ولایت د څرخ ولسوالي په ډبرو سیمه کې د دښمن په کاروان د سپکو او درنو وسلو برید تر سره شو. په برید کې د اجیري ارد و ۱ عسکر مړه، ۴ نور مرګوني ټپیان شول او په دې سربیره یو شهیر موټر هم تخریب شول. ۰۵-۰۲-۲۰۱۴

لوګر مرکزته خپره ۲ عسکر ووژل شول

د لوګر ولایت مرکز د پادخواب په باغینات سیمه کې د اجیري ارد و په پلي ګزمه وسلوال برید تر سره شو. د بریدپه مهال ۲ عسکر وخپل ژوند له لاسه ورکړ او ګڼ نور ټپیان شول. ۰۵-۰۲-۲۰۱۴

پرکي برک کې د دښمن په مرکز برید وشو

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالي په چهل سیمه کې د اجیري ارد و په پلي ګزمه وسلوال برید تر سره شو چې له امله یې ۲ عسکر ټپیان شول. ۰۵-۰۲-۲۰۱۴

پرکي برک کې ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالي په چهلتن سیمه کې د اربکیانو او د اجیري ارد و په عسکرو چاودنه وشوه. په چاودنه کې ۱ عسکر مړ او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

لوګر مرکزته خپره چاودنې ۱ عسکر ووژله

د لوګر ولایت د پل علم اړوند په حبیب الله کلا سیمه کې د اجیري ارد و په پلي ګزمه چاودنه وشوه. د چاودنې له امله ۱ عسکر ووژل شو او یو شهیر نور ټپیان شول. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

خروار کې عسکرو عامو خلکو ته زیانونه واړول

د لوګر ولایت د خروار ولسوالي د مامي بازار په دوکانونو او شاوخوا کورونو باندې د ګډ دښمن عسکرو چاپه ووهله. عسکرو د وحشیانه تلاشي په ترڅ کې خلکو ته د مالي زیان په اړولو سربیره ګڼ دوکانونه مات کړل او قیمتي سامانونه یې تري یووړل. ۰۹-۰۲-۲۰۱۴

پرکي برک پوسته تر برید لاندې راغله

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالي په چهلتن کې د اجیري ارد و په پوسته وسلوال برید تر سره شو. د بریدله امله دښمن ته د اوښتو تلفاتو په اړه دقیق معلومات نشته. ۰۹-۰۲-۲۰۱۴

لوګر مرکزته ډزې ماین د ۲ پولیسو ژوند واخیست

دلوګر ولایت پل علم ته نژدې د کلنګار په سیدانو سیمه کې د پولیسو په پلي ګزمه دماین چاودنه وشوه چې له امله یې ۲ تنه پولیس مړه او ګڼ نور پولیس ژوبل شول. ۱۰-۰۲-۲۰۱۴

ماین ټانک او ۶ عسکر له منځه یووړل

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالي په پندي سیمه کې د اجیري ارد و په زغروال ټانک چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانک وبجار اوپکې ناست ۶ تنه عسکر ټول ځای په ځای ووژل شول. ۱۵-۰۲-۲۰۱۴

پرکي پرک کې ماین ۲ اربکیان ووژل

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالي په دوشیخ سیمه کې د اربکیانو په موټر سایکل چاودنه وشوه چې له املې یې موټر سایکل له منځه لاړ او ۲ تنه اربکیان ووژل شول. ۲۰۱۴-۰۲-۱۶

پرکي پرک کې ۲ عسکر ټپیان شول

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالي د شیخانو په سیمه کې د اجیري اردو په عسکرو برید ترسره شو چې په مهال یې ۲ عسکر ټپیان شول. ۲۰۱۴-۰۲-۱۶

لوګر مرکزته خبره مایند ۳ عسکروژوندواخیست

د لوګر ولایت مرکز پل علم ته نژدې په موسی کلا سیمه کې د اجیري اردو په پلي ګزمه د بنخ کړل شوي ماین چاودني د اجیري اردو ۴ تنه عسکر مړه او ګڼ نور عسکر ټپیان کړل. ۲۰۱۴-۰۲-۱۷

ازره کې د دښمن پوسته فتحه شوه

د لوګر ولایت دازري ولسوالي په سکاه سیمه کې د دښمن پوسته فتحه د مجاهدینو تر برید لاندې راغله. په برید کې پوسته په مکمل ډول فتحه شوه او عسکر په ټبښته بریالي شول. ۲۰۱۴-۰۲-۱۹

محمدآغه کې ماین پو اربکي ټپي کړ

د لوګر ولایت دمحمدآغه ولسوالي په دهنو سیمه کې د اربکیانو په ګزمه چاودنه وشوه چې له املې یې یو اربکي سخت ټپي شو. ۲۰۱۴-۰۲-۲۱

پرکي پرک: په اربکیانو چاودنه او بریدوشو

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالي په احمد کلاغوندۍ سیمه کې د اربکیانو په ګزمه چاودنه وشوه او بیا تر سخت برید لاندې راغلل. په پیښو کې ۲ اربکیان ټپیان شول او نور په ټبښته بریالي شول. ۲۰۱۴-۰۲-۲۱

پرکي پرک: د دښمن په ګزمه بریدوشو

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالي په بیدک خېلو سیمه کې د اجیري اردو او اربکیانو په ګزمه وسلوال برید ترسره شو. په برید کې دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلي کړه شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱۴-۰۲-۲۱

محمدآغه کې اربکیانو ملاامام شهید کړ

د لوګر ولایت په محمد آغه ولسوالي کې وحشي اربکیان ددې ولسوالي جامع مسجد ته ورغلل او حافظ مولوي صاحب محمد عادل یې په زور له جماعته بهر کړ او بیا یې په خورا وحشت سره په شهادت ورساوه. انا لله وانا الیه راجعون. ۲۰۱۴-۰۲-۲۲

پرکي پرک کې ۳ عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالي په احمد کلا سیمه کې د اجیري اردو او اربکیانو په ګزمه برید ترسره شو. په برید کې ۱ عسکر ووژل شو او ۲ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱۴-۰۲-۲۴

اشغالګرو په پرکي پرک کې ۴ کلیوال بندیان کړل

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالي په دوشنبه سیمه کې اشغالګرود عامو خلکو په کورونو چاپه ووهله او له وحشیانه تلاشي وروسته یې ۴ کلیوال له ځان سره یوړل. ۲۰۱۴-۰۲-۲۸

خوست

صبریو کې په ټانک چاودني ۲ عسکر ووژل

د خوست ولایت د صبریو ولسوالي په سروبي سیمه کې د اجیري اردو زغرواک ټانک په ماین والوزول شو. چاودني ټانک تخریب، ۲ تنه عسکر مړه او ۲ مرګوني ټپیان کړل. ۲۰۱۴-۰۲-۰۲

صبر یو کې ماین یو عسکر وواژه

د خوست ولایت د صبر یو ولسوالۍ په سروبي سیمه کې د عسکرو په پلي ګزمه د بنخ کړل شوي ماین چاودنې یو عسکر وواژه او ګڼ نور عسکر یې ژوبل کړل. ۰۴-۰۲-۲۰۱۴

صبر یو ولسوالۍ، په ودانۍ کې چاودنه وشوه

د خوست ولایت د صبر یو ولسوالۍ ودانۍ په ۸ نارنجکو ووېشتل شوه. وروسته ګوډاګي عسکر هغه ځای ته راغلل چې نارنجک ترې پیر شوي وو اوهلته یې د مجاهدینو له خوا له بارودو ډک موټر سایکل له ځان سره ولسوالۍ ته یووړ چې هلته پرې انفجار شو. د چاودنې له امله د ولسوالۍ ودانۍ تخریب شوه او عسکرو ته پکې درنه مرګ ژوبله واوښته. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

موسی خېلو ولسوالۍ ودانۍ په هاوان وویشتل شوه

د خوست ولایت د موسی خېلو ولسوالۍ ودانۍ د هاوان په ۵ مرمیو دقیق وویشتل شوه چې له امله یې ودانۍ زیانمنه شوه او یو رېنجر موټر تخریب شو. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

مرکزته څېرمه چاودنې پولیس وواژه

د خوست ولایت مرکزته نژدې سیمه کې د بنخ کړل شوي ماین چاودنې یو پولیس مړ او ګڼ نور پولیس ټپیان کړل. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

موسی خېلو کې په کمپاین بریدونو شو

د خوست ولایت د موسی خېلو ولسوالۍ په غلنګ سیمه کې د دښمن په کمپاین وسلوال بریدونو له سره شوچې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۱۰-۰۲-۲۰۱۴

باک کې چاودنې یو پولیس وواژه

د خوست ولایت د باک ولسوالۍ مرکزته نژدې د ځای په ځای شوي ماین په چاودنه کې یو تن پولیس ووژل شو. ۱۰-۰۲-۲۰۱۴

باک کې یر غلګرو ۴ کلوالو ته مرګ ژوبله واړوله

د خوست ولایت د باک ولسوالۍ په کوټکي سیمه کې د اشغالګرو عسکرو له خوا د عامو خلکو په کورونو چاپه ووهل شوه. اشغالګرو د وحشیانه تلاشي په مهال خلکو ته مالي نقصان واړاوه او په دې سربېره یې ۱ کلیوال په ډزو شهید کړ او ۲ زنانه او یو سړی یې ټپیان کړل. انا لله وانا الیه راجعون. ۱۱-۰۲-۲۰۱۴

موسی خېلو کې په موټر چاودنې ۴ عسکر مړه او ژوبل کړل

د خوست ولایت د موسی خېلو ولسوالۍ په غلنګ سیمه کې د کمپاین رېنجر موټر په ماین والوزاول شو. چاودنې موټر تخریب، ۱ عسکر مړ او ۴ نور یې سخت ژوبل کړل. ۱۲-۰۲-۲۰۱۴

باک کې ماین موټر تخریب او یو پولیس وواژه

د خوست ولایت د باک ولسوالۍ مرکزته نژدې د پولیسو په رېنجر موټر د ماین چاودنه وشوه. په چاودنه کې یو تن پولیس ووژل شو او موټر پوره تخریب شو. ۱۲-۰۲-۲۰۱۴

باک کې په موټر چاودنې ۳ عسکر مړه او ژوبل کړل

د خوست ولایت د باک ولسوالۍ مرکزته نژدې د اجیري اردو په رېنجر موټر د ماین چاودنه وشوه. په چاودنه کې موټر پوره تخریب، ۱ عسکر ووژل شو او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. ۱۵-۰۲-۲۰۱۴

خوست مرکزته نژدې ۲ سرحدي پولیس ووژل شول

د خوست ولایت مرکزته نژدې په مستلبر سیمه کې د سرحدي پولیسو په ګزمه بریدونو له سره شو. په بریدونو کې ۲ پولیسو خپل ژوند له لاسه ورکړ او بل سخت ژوبل شو. ۲۰-۰۲-۲۰۱۴

شیخ امیر کې په پولیسو ماین وچاودید

د خوست ولایت د شیخ امیر ولسوالی په دورو کلي کې په پولیسو چاودنه وشوه چې له امله یې پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۱-۰۲-۲۰۱۴

صبریو کې ماین موټر او ۵ پولیس له منځه یووړل

د خوست ولایت د صبریو ولسوالی په خلبسات سیمه کې د سرحدي پولیسو په ړنبجر موټر دماین چاودنه وشوه. په چاودنه کې موټر ویجاړ او ۵ تنه پولیس ووژل شول. ۲۱-۰۲-۲۰۱۴

نادرشاه کوټ کې ماین ۳ پولیس مړه او ژوبل کړل

د خوست ولایت دنادرشاه کوټ ولسوالی په هجروم سیمه کې د پولیسو په پلي ګزمه د ښخ کړل شوي ماین چاودني ۱ پولیس ووژاه او ۲ یې مرګوني ټپیان کړل. ۲۲-۰۲-۲۰۱۴

موسی خیلو کې پوسته تر برید لاندې راغله

د خوست ولایت په موسی خیلو ولسوالی کې سره پوسته د سپکو او درنو وسلو تر برید لاندې راغله. په برید کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته اما کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. ۲۲-۰۲-۲۰۱۴

نادرشاه کوټ کې د امنیت کار کونکو ۷ تنه مړه او ژوبل کړل

د خوست ولایت د نادرشاه کوټ ولسوالی په شمباوټ سیمه کې د ګډوډاګي اداري په اصطلاح د ملي امنیت کارمندانو یو جمات ته د جمعې مبارکي د لمانځه په وخت لاسي بم وغورځاوه چې له امله یې ۱ کلیوال شهید او ۶ نور ټپیان شول. انالله وانالیه راجعون. ۲۲-۰۲-۲۰۱۴

نادرشاه کوټ کې د جاسوسي اداري کارمندووژل شو

د خوست ولایت دنادرشاه کوټ ولسوالی په اړونده سیمه کې د غلچکي برید په مهال د جاسوسي اداري کارمند شیرولي ووژل شو. ۲۴-۰۲-۲۰۱۴

صبریو کې ۱ موټر تخریب او ۴ عسکر ووژل شول

د خوست ولایت د صبریو ولسوالی د مکتب اړوند سیمې ته د چتک غبرګون ګڼ شمېر عسکر راغلي وو چې د مجاهدینو له مقاومت سره مخ شول. په جګړه کې ۴ عسکر وخپل ژوند له لاسه ورکړ او ۶ نور سخت ژوبل شول. دغه راز په همدې سیمه کې ددښمن یو ړنبجر موټر د ماین خوراک شو چې پوره تخریب شو او ۴ عسکر پکې ټپیان شول. ۲۴-۰۲-۲۰۱۴

صبریو کې د جاسوسي اداري ۴ کارمندان ووژل شو

د خوست ولایت د صبریو ولسوالی په سروبي سیمه کې په اصطلاح د ملي امنیت په موټر برید تر سره شو. په برید کې دیادي اداري ۴ تنه کارمندان ووژل شول او موټر هم پوره تخریب شو. ۲۴-۰۲-۲۰۱۴

صبریو کې ۵ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

د خوست ولایت د صبریو ولسوالی د مکتب په اړونده سیمه کې د اجیري اردو او چتک غبرګون له عسکرو سره د درنې نښتې په مهال ۲ عسکر وخپل ژوند له لاسه ورکړ او ۴ نور سخت ټپیان شول. ۲۵-۰۲-۲۰۱۴

مندوزو کې د جاسوسي اداري کارمندووژل شو

د خوست ولایت په مندوزي ولسوالی کې د جاسوسي اداري کارمند (عمر) د غلچکي برید په مهال ووژل شو. ۲۶-۰۲-۲۰۱۴

صبریو کې په کمپاین میزایل وار شول

د خوست ولایت د صبریو ولسوالی د خولبسات په سیمه کې د دښمن په کمپاین ۲ میزایل وتوغول شول چې په ټاکلي هدف ولګېدل او له امله یې دښمن ته درونډ زیان واوښت. ۲۷-۰۲-۲۰۱۴

نادرشاه کوټ ولسوالی په هشتاد دوو پیشتل شوه

د خوست ولایت د نادر شاه کوټ ولسوالی ودانی د هشتاددوپه ۵ مرمیو وویشتل شوه چې له املـه یې د ولسوالی ودانی زیانمنه شوه خو یې هیشتو عسکرو ته د اوښتي مرګ ژوبلې کړه شمېره نه ده څرګنده شوې. ۲۷-۰۲-۲۰۱۴

درګې کې په بیس میزایل وار شول

د خوست ولایت د درګې ولسوالی په نریزي سیمه کې د دښمن په کمپاین ۲ میزایل وتوغول شول چې په نښه شوي ځای ولګېدل او له املـه یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۸-۰۲-۲۰۱۴

پکتیا

جاني خپلو کې د جاسوسي اداري کارمندو ۲ اربکیان مجاهدینو سره یو ځای شول

د پکتیا ولایت په جاني خپلو ولسوالی کې د جاسوسي اداري یو تن کارکونکی (طالب جان) او ۲ اربکیان (غفور جان او طاهر جان) له مجاهدینو سره یو ځای شوي. ۰۳-۰۲-۲۰۱۴

جاني خپلو کې اربکی مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت د جاني خپلو ولسوالی په حسن زیو سیمه کې یو اربکی د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۰۱-۰۲-۲۰۱۴

پکتیا مرکزته څېرمه یو اربکی مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیا ولایت مرکز ښار ته په اړونده سیمه کې یو تن اربکی (نرګل) په شاتورو کلي کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۱۵-۰۲-۲۰۱۴

زرمت کې ۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی اړونده په خدر خپلو سیمه کې د ګډ دښمن په ګزمه وسلوال برید تر سره شو. په برید کې ۱ عسکر ووژل شو او ۲ نور شدید ټپیان شول. ۱۵-۰۲-۲۰۱۴

په زرمت کې دبې پیلوټه الوتکې برید، ۲ کلیوال شهیدان کړل

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی په سهاکو سیمه کې د اشغالګر و عسکرو بې پیلوټه الوتکې په مسکونه سیمه بمبار وکړ چې له املـه یې ۲ تنه کلیوال په شهادت ورسېدل. اناالله وانا الیه راجعون. ۱۷-۰۲-۲۰۱۴

زرمت کې ۶ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی په سهاکو سیمه کې د ګډ دښمن په ګزمه برید تر سره شو، په برید کې ۴ عسکرو خپل ژوندله لاسه ورکړ او ۲ نور مرګونې ټپیان شول. ۱۷-۰۲-۲۰۱۴

زرمت کې په ټانک چاودنې ۳ یرغلګر ووژل

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی په سهاکو سیمه کې د یرغلګرو عسکرو زغرواله ټانک په ماین والوزول شو، په چاودنه کې ټانک ویجاړ، ۴ تنه عسکر مړه او ۲ مرګونې ټپیان شول. ۱۸-۰۲-۲۰۱۴

زرمت کې دبریدپه مهال یو عسکر ووژل شو او بل ټپي شو

د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی اړوند په سهاکو سیمه کې د ګډ دښمن په ګزمه وسلوال برید تر سره شو، په برید کې ۱ عسکر خپل ژوند له لاسه ورکړ او بل سخت ژوبل شو په جګړه کې یو مجاهد سر سر کې ټپي شو. ۱۸-۰۲-۲۰۱۴

پکتیکا

واړه خوا کې پولیس مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیکا ولایت دوازي خواولسوالی په ګودلو کلي کې د اسلامي امارت له مجاهدینو سره یو تن پولیس (روزي ګل)یو ځای شو. ۰۱-۰۲-۲۰۱۴

پکتیکا کې اربکی مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیکا ولایت مرکز بنر یې ته نژدې یو اربکی محمد عارف دحقانۍ په درک کولو سره له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۰۴-۰۲-۲۰۱۴

شرنه کې فدایي پریښود ۵ پولیس قتل او ټپیان او ۴ رینجر تخریب کړل

د پکتیکا ولایت د مرکز شرني مربوط د صدیق پوسټي سره نژدې سیمه کې د پولیسو او اربکیانو په هغه ګډ کاروان چې په سیمه کې ولاړ وو دیو تن قهرمان فدایي محمد یعقوب له خوافدایي برید ترسره شو. په برید کې د دښمن ۴ رینجر موټر تخریب، ۸ پولیس او اربکیان مړه او ۷ تنه پولیس ټپیان شول. ۰۹-۰۲-۲۰۱۴

یوسف خېلو کې اربکیانو ۳ نجونې له ځان سره په زور وړې

د پکتیا ولایت دیوسف خېلوولسوالی میرزاخیلو کلي ته وحشي اربکیان اوپولیس راغلل او ۳ نجونې یې له کورونو په زور راوایستلې او له ځان سره یې یووړې، سیمه ییزو خلکو د اربکیانو او پولیسو د دې وحشیانه عمل په ضد په لاریون لاس پورې کړ اود نجونو د خلاصون او اربکیانو د محاکمې غوښتنه یې وکړه. ۱۷-۰۲-۲۰۱۴

وازه خواکې ۴ اربکیانو ته مرګ ژوبله اوبنسټه

د پکتیکا ولایت د وازه خواولسوالی په مرجاني سیمه کې په اربکیانو د برید له امله ۱ اربکی چې تعویذ نومېده ووژل شو او ۳ نور مرګونې ټپیان شول. ۱۸-۰۲-۲۰۱۴

تروه کې په موټر چاودنې ۳ پولیس مړه اوژوبل کړل

د پکتیکا ولایت د تروې ولسوالی د مرکز په اړونده سیمه کې د پولیسو رینجر موټر په ماین والوزول شو، په چاودنه کې موټر تخریب، ۱ پولیس چې د ولسوال زوی وو ځای په ځای ووژل شو او ۲ نور ژوبل شول. ۲۳-۰۲-۲۰۱۴

پرمل کې چاودنو ۵ عسکرو ته مرګ ژوبله واړوله

د پکتیکا ولایت دپرمل ولسوالی په سدګي خاوري سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په ګزمه ۲ چاودني وشوې، د چاودنو له امله ۴ عسکر مړه او ۲ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۵-۰۲-۲۰۱۴

خوشامند کې پولیس مجاهدینو سره یو ځای شو

د پکتیکا ولایت د خوشامند ولسوالی په چوري کلي کې یو تن پولیس چې نظیق الله نومېږي له مجاهدینو سره یو ځای شو. نومورې ۱ موټر سایکل او ۱ کلاشنکوف له تجهیزاتو سره مجاهدینو ته تسلیم کړ. ۲۶-۰۲-۲۰۱۴

ننګرهار

بتي کوټ کې په پوسته او ګزمه برید، قومندان او ۵ عسکر ووژل شول

دننګرهار ولایت دبتي کوټ ولسوالی په سي پای سیمه کې داجیري اردو په پوسته او ګزمه هم مهال بریدونه ترسره شول، دبریدونو په مهال د پوسټي ودانۍ زیانمنه او ۱ ټانک تخریب شو. په دې سربېره د اجیري اردو د کنډک قومندان ملنګ له خپلو ۵ تنو عسکرو سره ووژل شول او یو ګڼ شمېر نور ژوبل شول. ورووسته عسکرو په سیمه کې ګڼ شمېر خلک سخت ووهل، ځینې دوکانونه یې ووېشتل او عامو خلکو ته یې زیان واړاوه. ۰۱-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې په جلاپیښو کې ۱ ټانک او ۳ ۱ عسکر له منځه لاړل

دننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالی تریلي، سیدانو کلي، سره قلعه غونډۍ او دولت زیو سیمو کې د دښمن عسکر له

چاودنو او وسلوالو بریدونو سره مخ شول. په چاودنو او بریدونو کې دښمن ۴ عسکر مړه او ۵ نور مرګوني ټپیان شول. له دې چاودنواوبریدنو وروسته په سره قلعه سیمه کې په پلیو عسکرو چاودنه وشوه چې ۲ تنه یې ځای په ځای ووژل او په دې سربیره یو رېنجر موټر په ماین والوزول شو چې پوره تخریب شو. دیو بل خبر له مخې په شولاني سیمه کې هم د دښمن په ګزمه ۲ ماینونه وچاودېدل چې له امله یې ۴ عسکر مړه او ۱ سخت ژوبل شو. همدا ډول په مانړو مارکیټ سیمه کې د داخلي عسکرو په زغرواک ټانک د ماین چاودنه وشوه چې له امله یې ټانک پوره ویجاړ کړ او پکې ناست عسکر ۲ تنه مړه او ۲ مرګوني ټپیان شول. ۰۱-۰۲-۲۰۱۴

سرخرود کې رېنجر په ماین والوت

د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ د باولي په سیمه کې د اجیري اردو رېنجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو او پکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۰۱-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې عسکر په درازکوف ویشتل شو

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په مانړو خواجه صاحب هدیره سیمه کې یو عسکر په درازکوف په ټینه او ویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۰۱-۰۲-۲۰۱۴

جلال اباد کې چاودنې ۲ پولیس ټپیان کړل

د جلال اباد بنار اړوند په فامیلي سیمه کې د پولیسو په موټر سایکل چاودنه وشوه چې له امله یې موټر سایکل تخریب او ۲ پولیس سخت ژوبل شول. ۰۱-۰۲-۲۰۱۴

په پوسته کې چاودنې ۲ پولیس ټپیان کړل

د جلال اباد بنار اړوند د مستوفیت ریاست ته نژدې سیمه کې د پولیسو په پوسته کې چاودنه وشوه. د چاودنې له امله ۲ پولیس سخت ژوبل شول او د پوستې ودانۍ هم تخریب شوه. ۰۲-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې ماین د ۵ عسکرو ژوندۍ خیست

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په خواجه صاحب هدیره سیمه کې په پلیو عسکرو د ښخ کړل شوي ماین چاودنې ۵ تنه عسکر مړه او یو بل ژوبل کړ. کله چې سیمې ته نور عسکر راغلل دوهمه چاودنه پرې وشوه او درنه مرګ ژوبله یې ورته واړوله. ۰۲-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې چاودنې ۵ عسکر مړه او ژوبل کړل

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په خواجه صاحب سیمه کې د اجیري اردو په پلي ګزمه درنه چاودنه وشوه. په چاودنه کې ۱ عسکر ووژل شو او ۴ نور مرګوني ټپیان شول. ۰۳-۰۲-۲۰۱۴

پچیراګام کې له اربکیانو سره نښته وشوه

د ننګرهار ولایت د پچیراګام ولسوالۍ د پاس صبر لیشه کې سیمه کې له اربکیانو سره نښته ترسره شوه. په نښته کې اربکیانو ته مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده څرګنده شوې. ۰۳-۰۲-۲۰۱۴

د ننګرهار په ګوشتي کې پوسته تر بریدلاندې راغله

د ننګرهار ولایت د ګوشتي ولسوالۍ په خوزوی سیمه کې د اربکیانو په پوسته وسلوال برید ترسره شو. په برید کې د پوستې ودانۍ زیانمنه او پکې میشتو عسکرو ته درنه مرګ ژوبله واوښته. ۰۳-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې پولیس په درازکوف ویشتل شو

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په لنګپور سیمه کې یو پولیس په درازکوف په ټینه او ویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۰۴-۰۲-۲۰۱۴

خوګیانو کې په پوسته برید. ۱ پولیس ووژل شو

د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالي په وزیرو تنګي سیمه کې د پولیسو په پوسته وسلوال برید تر سره شو. په برید کې ۱ پولیس مر او بل ټپي شو. له دې علاوه د پوستې ودانۍ هم زیانمنه شوه. ۰۵-۰۲-۲۰۱۴

غني خیلو کې په ټانک چاودنې ۲ عسکر ووژل

د ننګرهار ولایت د غني خیلو ولسوالي په ۲۴مه ویاله سیمه کې د اجیري ارد وزغروال ټانک په ماین والوزول شو. دچاودنې له امله ټانک تخریب. ۲ عسکر مړه او ۴ نور سخت ژوبل شول. ۰۵-۰۲-۲۰۱۴

شیوه کې د انتخاباتي کمپاین په موټر چاوډنه وشوه

د ننګرهار ولایت د شیوه ولسوالي په یاسین بابا سیمه کې د ډاکټر عبدالله عبدالله لپاره د انتخاباتي کمپاین کونکو په موټر چاودنه وشوه. په چاودنه کې ۴ تنه کمپاین کونکي او د عبدالرحمن معاون ټپیان او موټر تخریب شو. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

خوګیانو کې په پوسته برید وشو

د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالي د مملي په کنډو سیمه کې د دښمن په پوسته برید تر سره شوچې په مهال یې په پوسته کې مېشتو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

جلال اباد کې د سرحدي لوا په قومندانۍ میزایل وار شول

د جلال اباد ښار د غوچکو په سیمه کې د شرقي زون د سرحدي لوا په لویه قومندانۍ ۵ میزایل وتوغول شول چې په منځ کې یې ولګېدل اوله امله یې دښمن ته درونډ مالي او ځاني زیان واوښت. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

نازیانو کې په سرحدي کنډک برید وشو

د ننګرهار ولایت د نازیانو ولسوالي د ژي سر په سیمه کې سرحدي کنډک د مجاهدینو تر برید لاندې راغی، په برید کې دښمن ته د اوښتو تلفاتو په اړه شواهد نه دي ترلاسه شوي. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې په ګوډاګیو عسکرو ماین وچاودید

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالي د خواجه صاحب هدیرې ته نژدې د ګوډاګي اردو په پلي ګزمه درنه چاودنه وشوه، په چاودنه کې عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

روداتو کې په تکتیکي برید کې ۲ بهرني استادان او ۵ پولیس قتل ګڼ ټپیان شول

د ننګرهار ولایت د رودات ولسوالي دوسر که سیمه کې د ۴ تنو مجاهدینو لخوا د اکاډمي د پولیسو په یوه تجمع ځای باندې تکتیکي برید تر سره شو، په دې کامیاب وسلوال برید کې د اکاډمي دوه تنه بهرني استادان او تر ۱۵ پورې پولیس ووژل شول او یو ګڼ شمیر ټپیان شول. برید کونکي مجاهدین له بریدور وسته له سیمې نه روغ رمټ ووتل. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

خوګیانو کې پولیس په درازکوف وویشتل شو

د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالي د مملي په شنه کنډو سیمه کې یو تن پولیس په درازکوف وویشتل شوچې سخت ژوبل شو. ۰۶-۰۲-۲۰۱۴

خوګیانو کې ماین یو اربکي وواژه

د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالي دوزیرو دوسر که سیمه کې په اربکیانو دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې یو اربکي ووژل شو او ګڼ نور اربکیان ټپیان شول. ۰۷-۰۲-۲۰۱۴

یتي کوټ کې ۳ عسکر ژوبل شول

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالي په کوډي سیمه کې د اجیري اردو له عسکرو سره جګړه وشوه، په جګړه کې ۳ عسکر ژوبل شول او نور په تېښته بریالي شول. ۰۷-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې اشغالګرو ۷ ملکي وګړي بندیان کړل

دننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ د اباد خېلو په کلیتک سیمه کې اشغالګر وعسکرو د دوو عامو کلیوالو په کورونو چاپې ووهلې . اشغالګرو د تلاشۍ په مهال خلکو ته زیات مالي زیانونه واړول له دې سره سره یې ۷ تنه کلیوال له ځان سره یووړل. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

جلال اباد کې د پولیسو موټر په ماین وانوت

د جلال اباد بنار اړوند د رینګ روډ په ساحه کې د پولیسو رېنجر موټر په ماین والوزول شو. په چاودنه کې موټر تخریب او یکې ناستو پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

کامه کې د ټولې د قومندان موټر په ماین وانوت

د ننګرهار ولایت د کامه ولسوالۍ په نو اباد سیمه کې د دغې ولسوالۍ د ټولې د قومندان ننګیالي موټر په ماین والوزل شو. په چاودنه کې موټر تخریب اود قومندان ساتونکو ته مرګ ژوبله واوښته. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

پچیر اګام کې په پوسته بریدشو

د ننګرهار ولایت د پچیر اګام ولسوالۍ په پچیر تنګي سیمه کې د دښمن په پوسته د سپکو او درنو وسلو برید ترسره شو چې له امله یې دښمن ته د سر او مال درونده زیان واوښت. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

غني خېلو ولسوالۍ په ودانۍ بریدشو

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ په ودانۍ. استخباراتو ریاست او امنیه قومنداني وسلوال برید ترسره شو. د برید له امله ودانۍ زیانمنې شوې اما د مرګ ژوبلې په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

خوګیانو کې پوسته تر برید لاندې راغله

دننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ د وزیرو دوسر که سیمه کې د دښمن پوسته د مجاهدینو تر برید لاندې راغله، په برید کې دښمن ته د اوښتې زیان په اړه دقیق معلومات نشته. ۰۸-۰۲-۲۰۱۴

اچین کې ماین ۴ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د ننګرهار ولایت د اچین ولسوالۍ ودانۍ ته په شل متري کې په پولیسو چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۱ پولیس مړ او ۴ نور مرګونې ټپیان شول. ۰۹-۰۲-۲۰۱۴

غني خېلو کې په موټر چاودنې ۲ عسکر ووژل

دننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ د ۲۶مې ویالي په فرش سیمه کې د اجیري ار دو په رېنجر موټر درنه چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر پوره تخریب شو. ۲ عسکر مړه او ۴ نور سخت ژوبل شول. ۰۹-۰۲-۲۰۱۴

خوګیانو کې په ټانک چاودنې ۲ عسکر ووژل

د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ د بربهار سور ډاګ سیمه کې د اجیري ار دو په ټانک چاودنه شوه، د چاودنې له امله ټانک پوره تخریب، ۲ عسکر مړه او ۲ نور عسکر سخت ژوبل شول، ورروسته د دښمن په ټانکونو برید هم ترسره شو او په پای کې عسکر په تېښته بریالي شول. ۰۹-۰۲-۲۰۱۴

خوګیانو کې د اجیري ار دو په ګزمه بریدشو

دننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ د بهربهار سور ډاګ په سیمه کې د اجیري ار دو په پلي ګزمه وسلوال برید ترسره شو چې په ترڅ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله اومالي تلفات واوښتل. ۰۹-۰۲-۲۰۱۴

پچیر اګام کې په پولیسو بریدشو

دننګرهار ولایت د پچیر اګام ولسوالۍ په بامه خېلو سیمه کې په سرحدي پولیسو وسلوال برید ترسره شو چې په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۱۰-۰۲-۲۰۱۴

غني خېلو کې ۴ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په غني خېلو ولسوالۍ د اردو ۴ عسکر (خالد ، لعل امین ، سخي جان او شیر اصغر) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت او سیمه ییزو مجاهدینو د هڅو په پایله کې مجاهدینو سره یو ځای شول. ۱۰-۰۲-۲۰۱۴

ده بالا کې په پولیسو بریدو شو

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ مرکز ته په ۲۰۰ متري کې په پولیسو وسلوال برید ترسره شو، په برید کې دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلې کره شمېره نه ده څرګنده شوي. ۱۱-۰۲-۲۰۱۴

شیرزادو کې اشغالګرو ۳ ملکیان بندیان کړل

د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ د ستره سورمي په سیمه کې اشغالګرو عسکرو د چورلکو په توسط چاپه ووهله، اشغالګرو د تلاشي په مهال زیات زیانونه خلکو ته واړول او په پای کې یې ۳ تنه کلیوال له ځان سره یووړل. ۱۱-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې اشغالګرو ۷ عامو ګړي بندیان کړل

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په ادیاخېلو کلټک سیمه کې اشغالګرو عسکرو د عامو خلکو په کورونو چاپه ووهله چې له ډېرې بې رحمانه تلاشي وروسته یې ۷ تنه کلیوال بندیان کړل. ۱۱-۰۲-۲۰۱۴

شیرزادو کې له دښمن سره نښتي ترسره سره شوې

د ننګرهار ولایت د شیرزادو او خوګیاڼو ولسوالیو اړوندو سیمو (ستره سورمې او کمه سورمي) کې د دښمن له عسکرو سره درنې نښتي ترسره شوې، په نښتو کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله او مالي تلفات واوښتل او له سیمو نه په تېښته بریالي شول، د جګړې په مهال د دښمن الوتکو په سیمو درنه بمباري هم وکړه چې یو مجاهد پکې ټپي شو. ۱۲-۰۲-۲۰۱۴

غني خېلو کې په ټانک چاودني ۲ پولیس وژلي

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ په شیر ګړ غونډۍ نري پل سیمه کې د سرحدي پولیسو په زغروال ټانګ چاودنه وشوه چې له امله یې ټانک ویجاړ، ۲ تنه پولیس مړه او ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۱۲-۰۲-۲۰۱۴

ده بالا کې ۹ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت د ده بالا ولسوالۍ په مریز کنډو سیمه کې په پولیسو وسلوال برید ترسره شو، د برید په مهال ۳ پولیسو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۶ تنه نور سخت ژوبل شول. د جګړې په مهال ۱ راکټ لانچر، ۶ د راکټ مرمۍ او یو شمېر نور مهمات غنیمت شول، په جګړه کې یو مجاهد ټپي شو. ۱۲-۰۲-۲۰۱۴

بټي کوټ کې ۱ ټانک تخریب او ۲ عسکر ووژل شول

د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ د حافظ کوډي او فارم سي ترمنځ سیمه کې د اجیري اردو له عسکرو سره جګړه وشوه، په جګړه کې یو ټانک تخریب شو، ۲ عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۲ نور ټپیان شول، د جګړې په ترڅ کې یو مجاهد ټپي شو. ۱۲-۰۲-۲۰۱۴

مهمندره کې عسکر مجاهدینو سره یو ځای شو

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په باسول سیمه کې د اردو یو عسکر (عبدالواحد) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په پایله کې د اسلامي امارت له مخالفت نه په شاه او له مجاهدینو سره یو ځای شو. ۱۳-۰۲-۲۰۱۴

خوګیاڼو کې په ګزمو بریدونه، ۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د ننګرهار ولایت د خوګیاڼو ولسوالۍ په سورډاګ سیمه کې د اجیري اردو په ګزمو وسلوال بریدونه ترسره شول

. په بریدونو کې ۱ عسکر ووژل شو او ۲ نور مرګوني ټپیان شول. ۱۳-۰۲-۲۰۱۴

حصارک کې مجاهدینو سره ۶ ۱ عسکر یوځای شول

د ننګرهار ولایت د حصارک ولسوالۍ په اړونده سیمه کې ۱۶ تنه عسکر د اسلامي امارت له مخالفت نه لاس واخیست اوله مجاهدینو سره یوځای شول. په عسکرو کې شفیق، وطن، حسن ګل، رحمت الله، روزي خان، ګل نبي، علي محمد، حیات الله، محمد حسین، بلال، رحمت الله، هاشم، ایوب خان، ذاهدالله، محمد هاشم او یوسف شامل دي. ۱۳-۰۲-۲۰۱۴

غني خېلو کې ۱ ټانک، اوتر تخریب بو ۶ اشغالګر ووژل شول

د ننګرهار ولایت د غني خېلو ولسوالۍ د مارکو په سیمه کې د دښمن په ګزمه د تور خم او جلال اباد د عمومي سړک په سر وسلوال برید وشو. په برید کې د دښمن ۱ زغروال ټانک او ۱ عراده رېنجر موټر پوره تخریب شول، له دې علاوه ۶ بهرنیو عسکرو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ۲ نور ژوبل شول. ۱۵-۰۲-۲۰۱۴

جلال اباد بنار کې یو پولیس ووژل شو

د ننګرهار ولایت د جلال اباد په بنار کې د حاجي غلجي مارکیټ ته نژدې د بنګریوالانو په کوڅه کې یو پولیس په نوپانچه وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۱۵-۰۲-۲۰۱۴

د ننګرهار په بتي کوټ کې ۷ بهرني عسکر ووژل شول

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالۍ په فارم سي سیمه کې له یرغلګرو عسکرو سره خونړۍ نښته وشوه. په دغه نښته کې د کمین بریدونو او انفجارونو له امله ۱ امریکایي ټانک ۴ عرادې خاص امریکایي موټر سایکل وبجار شول. له دې علاوه ۷ امریکایي عسکر مړه او یو ګڼ شمېر نور سخت ژوبل شول. د جګړې په ترڅ کې دسخت بمبار له امله ۲ تنه مجاهدین شهیدان او ۲ تنه ټپیان شول. انالله وانا الیه راجعون. ۱۵-۰۲-۲۰۱۴

مهمندرې ولسوالۍ په ودانۍ بریدوشو

د ننګرهار ولایت د مهمندرې ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال برید ترسره شو. په برید کې ۱ پولیس ووژل شو او ۲ نور مرګوني ټپیان شول. په دې سربېره ودانۍ هم تخریب شوه. ۱۵-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې په بیس دهلوان بریدزیان واړوا

د ننګرهار ولایت د چپرهار ولسوالۍ په ډاګو سیمه کې د دښمن په بیس د هلوان برید ترسره شو. د برید له امله ۲ رېنجر موټر تخریب شوا و د بیس ودانۍ ته هم زیان واوښت په برید کې دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلې په هکله دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱۶-۰۲-۲۰۱۴

بتي کوټ کې اشغالګرو ملکي وګړي بندیان کړل

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالۍ په کودې او تکیه سیمو کې اشغالګرو عسکرو د عامو خلکو په کورونو چاپه ووهله او له تلاشي وروسته یې یو شمېر خلک له ځان سره یووړل. ۱۶-۰۲-۲۰۱۴

بتي کوټ کې یرغلګرو عامو خلکو ته زیان واړواوه

د ننګرهار ولایت د بتي کوټ ولسوالۍ په تکیه او امبار خانه سیمو کې یرغلګرو عسکرو د هلکوپټرو په توسط چاپه ووهله، عسکرو لومړی د کورنو دروازې په بمونو والوزولې او بیا یې په کورونو کې بې رحمانه تلاشي وکړه. ۱۷-۰۲-۲۰۱۴

نازیانو ولسوالۍ په ودانۍ برید، ۵ پولیس مړه او ژوبل شول

د ننګرهار ولایت د نازیانو ولسوالۍ په ودانۍ د سپکو او درنو وسلو برید ترسره شو. د برید له امله ۱ پولیس ووژل

شو او ۴ نور مرګوني ټپيان شول. په دې سربيره ودانی هم زيانمنه شوه. ۱۷-۰۲-۲۰۱۴

پچير اګام ولسوالي په مرکز دهلوان پريدوشو

د ننګرهار ولايت د پچير اګام ولسوالي په ودانی او په عيني وخت کې د اربکيانو په مرکز دهلوان بريد ترسره شوچې له امله دښمن ته مالي اوځاني زيان واوښت. ۱۷-۰۲-۲۰۱۴

ده بالا کې په پوليسو بريدوشو

د ننګرهار ولايت د ده بالا ولسوالي په مربزي کندو سيمه کې په سرحدي پوليسو وسلوال بريد ترسره شو. په بريد کې دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلي کره شمېره نه ده څرګنده شوې. ۱۷-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې پوسته تر بريد لاندې راغله

د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالي د زغو کلي اړونده سيمه کې د دښمن په پوسته بريد ترسره شو. په بريد کې دښمن ته د اوښتي زيان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۱۷-۰۲-۲۰۱۴

سپين غر کې ۹ پوليس له مجاهدينو سره يوځای شول

د ننګرهار په سپين غر ولسوالي اړوند د مختلفو سيمو اوسېدونکو ۹ تنو پوليسو دد دعوت او ارشاد د کميسيون د مؤظفينو او سيميزو مجاهدينو د هلوځلو په نتيجه کې حقيقت درک او له خپل مخالفته لاس په سر شول. په پوليسو کې فيض الله، لعل جرين، محمد واقف، محمد کريم، محمد سليم، امير محمد، محمد زمان، زر محمد او رحمان ګل شامل دي. ۱۸-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې ماين ۵ عسکروته مرګ ژوبله واوړله

د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالي د اګو بيس ته نژدې د بنځ کړل شوي ماين چاودني د اجيري اردو ۱ عسکر ووژله او ۴ نور يې مرګوني ټپيان کړل. ۱۸-۰۲-۲۰۱۴

مهمنده کې ۴ عسکر مجاهدينو سره يوځای شول

د ننګرهار ولايت په مهمنده ولسوالي کې ۴ تنه عسکر (صادق، علي احمد، اجمل او بشر مل) د جلب او جذب کميسيون د دعوت او سيمه ييزو مجاهدينو د هڅو په برکت له مخالفت نه لاس په سر شول. ۱۸-۰۲-۲۰۱۴

جلال اباد کې چاودني د اکمالاتي موادو قرارداديې ټپي کړ

د جلال اباد بنار په اړونده سيمه کې د اکمالاتو د بېس تر څنګ د کونړ او لغمان بيسونو ته د اکمالاتي موادو قراردادي (حميد الله) په موټر درنه چاودنه وشوه. په چاودنه کې موټر تخريب او د حميد الله په ګډون يو ساتونکی عسکر سخت ژوبل شول. ۱۸-۰۲-۲۰۱۴

حصارک کې کتو قومونو مجاهدينو سره دمرستې اوملاتړ ژمنه وکړه

د ننګرهار ولايت د حصارک ولسوالي د ذکي کلي، باولي کوزه کلاله او بره کلاله، ياغي بند، علم کخ، ناصر خېل، راغه، صاحبزاده ګان، سهاکو او د ګارو درې کليو ګڼ شمېر قومي مشرانو ديوې غونډې په ترڅ کې د کرزي له مزدوري اداري سره پوره مخالفت وښود او د اسلامي امارت د ملاتړ اعلان يې وکړ او د هر راز همکاري وعده يې وکړه. ۱۹-۰۲-۲۰۱۴

چپرهار کې ۶ عسکر ووژل شول

د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالي په ودانی، سره قلعه، غورآباد، شغلدره سيمو کې په پوستو او په ډاګو سيمه کې د دښمن په بيس وسلوال بريدونه ترسره شول. په بريدونو کې د يادو مرکزونو ودانيو ته پوره زيانونه واوښتل او په دې سربيره د غورآباد په پوسته کې ۶ تنه عسکر مړه او ۲ تنه نور سخت ټپيان شول. ۱۸-۰۲-۲۰۱۴

حصارک کې پوليس ووژل شو

د ننګرهار ولایت دحصارک ولسوالۍ ودانۍ ته نژدې یو تن پولیس د غلچکي برید په مهال وویشتل شو او ځای په ځای ووژل شو. ۱۹-۰۲-۲۰۱۴

ننګرهار کې ګټو نورو قومونو د مجاهدینو ملاتړ او د دولت مخالفت اعلان کړ

د ننګرهار ولایت په حصارک ولسوالۍ کې ددې ولسوالۍ شیخانو، نرګوسي، کوزجوکان او بر جوکان، لاجګرچون، چنګړي، خنجروچ، سیاولوندسیاو، ملکانو قلعه، مامدقلعه، کوزسرندو او بر سرندو، میاګان، پرزینه او چهار توت کلیو مشرانو او مخورو سپینږیرو دیوې غونډې په ترڅ کې له مجاهدینو سره د کلکې همکارۍ ژمنه وکړه او له ګوډاګۍ ادارې سره یې ټینګ مخالفت اعلان کړ. ۱۹-۰۲-۲۰۱۴

سپین غر کې ۵ عسکر مجاهدینو سره یو ځای شول

د ننګرهار ولایت په سپین غر ولسوالۍ کې ۵ تنه عسکر (خالص، ساني ګل، وطن جان، امین الله او کشور) د جلب او جذب کمیسیون د دعوت په نتیجه کې له مجاهدینو سره یو ځای شول. ۲۰-۰۲-۲۰۱۴

لعلپور کې ۱ ټانک، ۱ موټر تخریب او ۳ پولیس ووژل شول

دننګرهار ولایت د لعلپور ولسوالۍ په فتح مینه او برادري سوري تیګه سیمو کې د سرحدي پولیسو په ګزمه وسلوال برید تر سره شو. دبرید په مهال ۳ پولیس ووژل شول او ۶ نور مرګوني ټپیان شول. له دې علاوه ۱ رېنجر او ۱ ټانګ پوره تخریب شول. ۲۰-۰۲-۲۰۱۴

جلال اباد کې ماین موټر او ۳ پولیس له منځه یوړل

